



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# زما ژوند او ژوندون

(دریم ټوک)

باباے پښتون

خان شهید اوُدولِ سمد خان اڅکزے

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د-پاړکي د-بیا چاپ واک د-وړاندي کوونکي څخه خوندي دی

د-پاړکي نوم ———— زماژوند او ژوندون (ډریم توک)

لیکوال ———— بابای پښتون

خان شهید اودول سمد خان اڅکزی

وړاندي کوونکي ———— پروپیسر اودول غني خان غنو

د-چاپ کال ———— ۱۳۸۶ یونیځ لمریز (۲۰۰۷ زیبیځ)

بیه ———— ۴۰۰ کلداري

چاپ ځی ———— یونائیټډ چاپځی، کوټه

کمپیوټر کمپوزنګ ———— العابد کمپیوټر ګراپیکس کوټه

دوست خورونه ———— (پښتونخوا خوروني)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# د-لوږې ښنتن

# په

# نامه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | ولور | ۱۷ |
| ۲ | کوه نهه | ۲۰ |
| ۳ | مجلس | ۲۲ |
| ٤ | تهنته | ۲۷ |
| ٥ | تهک کوه ل یا پیکے (ختهوکی)پریکوه ل | ۲۸ |
| ٦ | د ـ زغم او وهلو ازمودهٔ | ۲۹ |
| ۷ | میر امدیار خان | ٤۷ |
| ۸ | کامی کار | ٤۸ |
| ۹ | جوکمابات له کهه | ٥۲ |
| ۱۰ | د ایدرابات غوه نهه | ٥٤ |
| ۱۱ | ناوره پهبنبه | ٥۷ |
| ۱۲ | د ـ بناغلی شیخ اودول مجید جرگه | ٥۹ |
| ۱۳ | خینی د ـ خندا خبری | ۷۳ |
| ۱٤ | دویه م خل نیوه ل جرگه اوبند | ۷٦ |
| ۱٥ | د ـ اخه گزو ملکانو خوابدی | ۸۲ |
| ۱٦ | د ـ ادرهیم خان الکوزی جاسوسی | ۸۳ |
| ۱۷ـ | د ـ جرگے | ۹۱ |
| ۱۸ | بناغلی میر اودول ازیز کورد | ۱۰٤ |
| ۱۹ | سیکان سپاهیان | ۱۰۷ |
| ۲۰ | د ـ بناغلی کورد تیرواته او وار ختایی | ۱۱٦ |
| ۲۱ | یو تپوس او خوابدی | ۱۱۷ |
| ۲۲ | د ـ خوداے د ـ کیتاب او دین زدکره | ۱۱۸ |
| ۲۳ | انگریزی زدکره | ۱۲۲ |


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

| | | |
|---|---|---|
| ۲٤ | د ـ پرنگی ښېگړے | ۱۲٦ |
| ۲۵ | د ـ یوه نالوستی لولوه ل | ۱۳۰ |
| ۲٦ | بلوڅی ژبه | ۱۳٤ |
| ۲۷ | انګرېزی ازموینه | ۱۳۷ |
| ۲۸ | د ـ اومبارک ویناوی | ۱۳۹ |
| ۲۹ | میسته ر ټاون سن او ښاغلی کورد جګړه | ۱٤۱ |
| ۳۰ | د ـ ښاغلی اودول سلام خان | |
| | او جہل والا وو جګړ | ۱٤۱ |
| ۳۱ | زه او ښاغلی کورد یو ځاے | ۱٤۵ |
| ۳۲ | د ـ ښاغلی کورد یو څو خبری | ۱٤۹ |
| ۳۳ | د ـ اینسان یو ناپېښنه په ټ واک | ۱۵۲ |
| ۳٤ | د ـ باهر ملګری او کار | ۱۵۷ |
| ۳۵ | د ـ یو انګرېز سخت او ناروا زیاتے | ۱٦۲ |
| ۳٦ | د ـ ملګرو تنګی اور پرېشانی | ۱٦۵ |
| ۳۷ | د ـ ښاغلی ایوپ خان | |
| | کار خوابدی او بېزاری | ۱٦٦ |
| ۳۸ | د ـ انګرېز یو خوشی خو ناپېښنه چل | ۱۷۰ |
| ۳۹ | زلزله | ۱۷۸ |
| ٤۰ | جګړه د ـ واګ والانو هوډه او زما تیګار | ۱۸۳ |
| ٤۱ | د ـ یو پرنګی واک وال سره خبری | ۱۸۸ |
| ٤۲ | په دے هکله د ـ یوه بل انګرېز خبری | ۱۹۱ |
| ٤۳ | د ـ خپه لوانو کړاو | ۱۹٦ |
| ٤٤ | زلزله اور سرکار ته زما خت | ۲۰٤ |


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

| | | |
|---|---|---|
| ٤٥ | د ـ ښاغلی هاجی اودولا هارون راتله | ۲۰۸ |
| ٤٦ | د ـ خوداے میهربانی اوزما پردہ | ۲۱۰ |
| ٤٧ | د ـ شومیا ګواښ او د ـ جېله راواته | ۲۱۲ |
| ٤٨ | د ـ ښاغلی اودولا هارون سخت بیان | ۲۱۳ |
| ٤٩ | د ـ جېل د ـ واک والانو ناخواله ګواښ | ۲۲٤ |
| ٥۰ | د ـ سرکار وار ختایی او دروغ | ۲۲٥ |
| ٥۱ | د ـ خوند خبره (لطیفه) | ۲۲٦ |
| ٥۲ | د ـ ښاغلی میر اودول ازیز کورد ایله کېده | ۲۲۷ |
| ٥۳ | زما ایله کېده | ۲۲۸ |
| ٥٤ | زما درخواست | ۲٤٦ |
| ٥٥ | یوھ ناپېښبه ازمودھ | ۲٥۲ |
| ٥٦ | زما نوری ازمودے دا وے | ۲٥٦ |
| ٥۷ | د ـ چاپے دود | ۲٦۷ |
| ٥۸ | د ـ خان کلات سره لیده | ۲۷۳ |
| ٥۹ | په کلات کی د ـ خانه سره کار | ۲۸۲ |
| ٦۰ | یو پوجی انګرېز درمانی | ۲۹٦ |
| ٦۱ | د ـ یوه سیک خواخوری | ۲۹۹ |
| ٦۲ | ۱۹۳۷ م | ۳۰۲ |
| ٦۳ | ښاغلی کېپتھ ن شا | ۳۰۷ |
| ٦٤ | د ـ ښاغلی میا نسیرودین دام | ۳۱٦ |
| ٦٥ | د ـ کرنل برېمنه ر ازمو یه ښت | ۳۲۲ |
| ٦٦ | ازیز پریس او د ـ ملګرو ناچاری | ۳۳۸ |
| ٦۷ | کال ۱۹۳۸ م | ۳٥٦ |
| ٦۸ | یوه ناپېښبه مسخرھ اور پېښبه | ۳۷۳ |


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

| | | |
|---|---|---|
| ٦٩ | اخبار ایستیکلال | ۳۷٤ |
| ۷۰ | یو څو ته رخې ازمودې | ۳۷۷ |
| ۷۱ | د ـ ښاغلي سهبایي تګ | ۳۸۹ |
| ۷۲ | د ـ ښاغلي الا بخش سلیم مل ګری | ۳۹۱ |
| ۷۳ | د ـ مزدور او بادار د ـ دوښمني بده اور ته رخه ازموده | ۳۹٤ |
| ۷٤ | د ـ ریلوې غوټي (یونین) غوه نڼه | ٤۰۵ |
| ۷۵ | پېښوه ر ته تګ باچاخان او د ـ هغوې ډله | ٤۱۰ |


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# ولور

په پښتنو کې هر چېرې ښته اوّ د ـ پخوا څه راغلې دې اوّ په لوړے سر کې له ډ اوّ د ـ واده اوّ د ـ ښځې اوّ سړي د ـ نوي کور د ـ سامان لپاره بد هه م نه دې ـ د ـ پنجاب ـ سیند اوّ نورو ځایو د ـ موسلمانانو ته ر هغه دوډ چې دوے له هیندوانو اخیستې دې اوّ جهېز یا ډاج وورته وایې ته ر هغه ولور ډېر ښه اوّ کهمېره دې ـ ولې ولور خو نارینه ښندې چې کټیندوے اوّ د ـ واده اوّ کور واك والا وی ـ کټه به وکې اوّ په کلو به پیسے ټولې کې ته ر هغو به واده نه کوی چې ولورے نه وی کټلې اوّ جهېز یا ډاج له ښځې غوښت کېږې جه نه کټه کولاے سی اوّ نه د ـ کور اوّ واده واك لرې که د ـ یوه سړي څلوړ زامه ن وی هغه ته په ر ولور هه م د ـ دوے ودونه دومرې زوړ نه غواړې لکه چې د ـ جهېز سره څلوړ لوڼه ودوه ل ولې د ـ زامنو والا ته خو به ته ر واده پوړی هغوے هه م کټه کوی اوّ زیاتره به د ـ پلار مور له کومکه چپ هه م هر یو خپه ل ولور وکټې د ـ لوڼو خو به هر څه پوړ پلار تاوان وی ته ر کمه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چې ما پوړ ایسلام پام کړی دی ژما په ګومان ولور ته ر جهېز زیات
ایسلامی دی ـ ولی یو خو د ـ مېره اؤ ماینې ته ر مّیان خوداے پاك
پوړ مېره باندی ماینې ته څه نه څه پیسې وورکوه ل ایبنی دی اؤ د ـ
هغې خرڅ خوراك هه م ـ پوړ ماینه باندی نه پیسې سّته اؤ نه خرڅ ـ کې
څه هه م لری یا ګټی ـ به ل د ـ نبی اوٍمبارك د ـ لوړ بی بی پاتمې د ـ
ښاغلی الی سره د ـ واده خبری چی په کیتابوڼو کی راغلی دی له
هغو دا څرګنده ده چی اوٍمبارك د ـ واده اؤ د ـ هغوے د ـ کوړ ساده
اؤ له ږ سامان چی مېچه ن ـ ګوډی اؤ ٻرسته ن وو ـ د ـ څانه نه دی
وورکړی د ـ ښاغلی الی زّغره یه په خرڅه کړله اؤ دا شان اؤ خرڅې په
وورکی ګوا دا د ـ زّغری بها هغوے ولوړ واخیستله اؤ د ـ لوړ کوړے
په وکاوه ـ دا هیچرے نه دی راغلی چی هغوے د ـ څانه ٻلانکے شے
ورکی یا یه ٻلانکے خرڅ وکاوه ـ د ـ پښتنو ولوړ به هه م پخوا دومره
اؤ د ـ دغه مّراد لپاره وو خو اوس چی روپی اؤ ګټی ډېری سّولې دا
ورانے پکښی پیدا سو چی خلګه ډېری پیسے په زه رګونو اؤ ته ر خرچ
اؤ کوړ سپوا اخلی اؤ په ښځه یه نه خرڅوی خپلې خوری چی ډېر بد کار

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اۋ د ـ اینسان بها اۋ خرڅلاو تره جوړ سی ـ د ـ تېرو پینځو سو کالو

راسی د ـ ولور په نامه دا د ـ لوړ وخوړ خرڅلاو په پښتنو کی ډېر

ژیات سو ـ اۋ ولور د ـ ځپه ل ښه اۋ ساده مراد په ځای د ـ ښځو د ـ

سوداګری رنګ پیدا کی اۋ سره ډېر ژیات سو د ـ پخوانو پینځو سوو

په ځای ته ر شلو دېرشو اۋ څلوېښتو زرو ورسېدی ـ ته ر ډېره زره کم

خو اډو وی هه م نه ـ خو دا ښه ده ـ چی ښه اۋ پوه پښتانه ته ل د ـ

ولور خوراك بد ګڼی ـ ځینی تپېی لکه د ـ کوټی کاسیان خو په تړون

ته ر پنځه سوه بالا نه اخلی اۋوس ډېر داسی خلګ هه م وی چی هیڅ

هه م نه اخلی خو د ـ واده خرڅ اۋ د ـ ښځی کوړ جامې اۋ پسوړل (

کالی ) پوره مېره وی ـ ځینی خلګ دومره اخلی چی دا شیان ځپله

ورکی د ـ سری یا موخی داسی بدلی چی یو سړی ځپله لور خوړ چاته

ورکی اۋ د ـ هیغه لوړ خوړ ځان له ـ ازوی یا وروړ له وغواړی هه م ستته

څو اوس ډېر کم نسوی دي [illegible]

[illegible]

[illegible]

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# کۆه نړه

ږکه څه هه م په ایسلام کی کۆه نړه د ـ ډویه م واده په هکله د ـ خپه ل سر ده خو پښتانه هیچرے هه م دا واك نه وورکوی اۋ لا ته ر اوسه خپه ل د ـ آریا نیکونو پور دود دا رۋ چلوی چی ښځه به هیڅ کله هه م د ـ خپه ل سر نه وی ـ ته ل به د ـ پلار د ـ ۋروړ ـ مېړه یا زوے ته ر واك لاندی وی ـ په دے هکله د ـ پښتنو دود بېل بېل ډولونه لری ـ ځینی خو کونړه هرو مرو د ـ مېړه په نېکت کی وه تېرونی خپه ل ته ودوی که یه ۋروړ وی که تربور اۋ ځینی په کورنی کی د ـ خوښی واك وورکوی ـ ځینی دا واك هه م وورکوی چی که مېړه نه کوی ناسته دی وی په زیاته هغه کۆه نړه چی بچی لری یا د ـ ډېرو شپو اۋ سپین سرے وی ـ خو ځینی د ـ غرو اۋ ساراوو خلکې مه خ له بېے مېړه نه پرېږدی که څه هه م سپین سرے وی ـ مېړه یه څه کار هه م نه په لری اۋ د ـ زامنو سره اوسی خو نوم هرو مرو باندی کوی ـ د ـ دے پېلامه زیاتره دا وی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چې په ایسلام اؤ پښتو ډوله کې د ـ پېغلي یا کونډۍ بې مېړه ښځې بدنامي یا تېښته هومرې سزا نه لري لکه د ـ مېړوښی چې په پښتو کې مرګ دی ـ نو دوې وايي چې هسې نه چې ځوکې اسانه وګڼې اؤ وې تښتوي یا بدنامي وورواړوي ـ چې په پښتني ننګ کې خو هغونه بدنامي ده لکه د ـ مېړوښی خو سزا یې کمه لغړي څه پیسې یا بله نېکه وي چې د ـ چا په نامه وي نو به دانه سي پېښېداے ـ



Scanned with CamScanner

## مجلس

د ـ ښځو په هکله دا یو ناپېښه دود لغه ږ په سنځرخېلو کاکړانو کی
ښته چی په بوری اؤ بړوب کی پراته دی ـ ما بل هیڅېری نه لیدلی اؤ
نه اروبدلی دی ته ر دې چی په سېلمه کی ووږسره پرتو نوروپښتنو
کاکړانو کی هه م نسته ـ هغه دا چی ته ر واده وړاندی هره پېغله ښځه
دا واك لری چی د ـ ږوزی یا د ـ شپېی د ـ هر چا سره چېی خوښه وی
ولاړه سی اؤ هر چېری چېی خوښه وی ناسته پاسته وی ـ دې ته مجلهٔس
وایی ـ په دې مجله س کی د ـ بدکاری سېوا نور هیڅ بنده ښت نه
وی ـ بدکاری نه پکښې پېښېږی چپ د ـ یو ډېری ناپېښی اؤ په ډېرو
کلو کی یو ځه ل نیم ـ هو تېښته یا د ـ ځېلی خوښی واده کله پېښ
سی هغه هه م ډېر کم اؤ خورا بدې بولی ـ دوښمنی اؤ بدی ترې پیدا
کېږی ـ کله یه په ولور ـ بدلی ـ یا بله نېکه ولور شرمانه اؤ ننواتې
جوړه وسی اؤ کله هېواد اؤ مېنه ترې پاته سی اؤ کله داسی هه م

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وسي چې ښځه پلار ګڼي بېرته راولي او بل مېړه وړوکي ته بدې ترې
جوړه سي ـ دا مجله س ـ ځوانان هلکان هه م کوي او د ـ ودوخاوندان
ســـــړي هه م ـ خو ښځه به هرو مرو پېغله او ببې مېړه وي ـ د
مړوښې ښځې دا تور ګڼې او وژني یه ـ خو په پېغله کوړ کلې ـ

ځپه لوان مور ـ پلار ورور ټول خبر وي ـ بد نه په وړی لا یه پاروی خبر نه
یه م چې دا دوړ کله او ځنګه او څه له پېل سوی دی ـ که پېغلو ځپه ل
په خوښه د ـ واده واك ده رلوډاے نو به سړی وے چې لکه د ـ
انګرېزانو کورټ شیپ یا د ـ امریکے ډیټنګ (Dating) د ـ مېړه د ـ
خوښولو لپاره دی خو دلته د ـ مېړه په خوښولو کی ښځه هیڅ واك نه
لري ـ دا واك د ـ کورنۍ نارینه لري که څه هه م د ـ دے کشران وروڼه
یا نور ځپه لوان وی ـ که دا دوړ یوازی په خوارو یا کمزوره خلګو کی
واے لکه د ـ روڼ ډمی نو سړی به وے چې دا زورورو او مړو خانانو
ځپه ل د ـ بېلاری د ـ اسانه کولو لپاره پېل کړی دی دلته داسی هه م
نه ده د ـ یوه مخه د ـ ټولو خلګو پېغلی مجله س کوی که خان دی
که خوار خو په لوے سر کی چې هر ډول پېل سوی وی دستي یه چپ د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دې بله ګټه نه ښکاري چې څکه چې په دې مجله س کې نه ر اؤ ښځه ځان له ناست وی اؤ په ازادي ګایېږی - خبري هه م د - میني (عشق) وی اؤ د - لوېه سره د - مینو د - وینا لپاره آدم زاتو د - هر هېواد اؤ وخت چې وی پوهیتي (اشعار) غوره کړی دی - نو د - دې هولکې خلګه نر اؤ ښځی په زیاته زنانه پوهېت (شاعر) وی د - خوږو اؤ خوندورو راز راز سوندرو سره سره یو شانته تېږې کوی چې دوې وورته غاړی وایي د - پښتنو د - اوځاری تېږې یا لنډۍ پور وزم اؤ هغه شانته یوه کړی لنډه اؤ بله اوږده وی خو د - دوې ډواړی کړی هرو مرو تول (قافیه ) لری لکه دا

شین غر وو د - نیکانو

اوس ناچ ګر سو د - میمانو

په دې غاړو کی د - دغی هولکې تول تواریخ اؤ هر راز پېښې که د - جنګو یا هېواد د - باچهی وی که د - مینی مستی اؤ یاری وی اؤ که نوری - خو څکه چې دوې یوه پېښه په یوه تپه کی بندوی اؤ د - سوندری (غزل) شانته د - پواهیت (شاعر) نوم یا نخښه (تخلص) نه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پکښې راوړي اؤ نه په خلګو کې زیات لیك لوست وي نو دا درکړې نه لګي چې دا غاړه چا کړې ده ـ اؤ کله ؟

هه م د ـ دغه مجلس بړید راته ښکاري چې د ـ دغه ځاے زنانه زیاتره خولوري ـ مېره مخه اؤ د ـ هېواد ـ تپېږ اؤ کوړنې ـ په سیاست ښې پوهه وي ـ اؤ په نارینو کې ژوه ند اؤ جوش وي خو د ـ کامې ښې بختې له مخې دغه ژوه ند اؤ جوش هه م د ـ ښې پوړ ځاے په بده اؤ ځانې یا ځایې دوښمنو کې لګېږي د ـ دغو خلګو پوړ نارینو په زیاته پوړ ځوانانو د ـ ښځو د ـ دغو غاړو ډېر زیات بړید وي ـ ډېر ځله د ـ ښځې یوه غاړه ـ خلګ و مرګ ـ بدي اؤ ډېروسامجنو کارو ته وپاروي ـ

په دغو خلګو کې دا هه م دوړ دی چې ښځې اؤ نارینه یه یو ځاے ساز ـ سروز اؤ اتڼ ـ امې کوي ـ نوړ سازونه خو نه لري اؤ نې زده وي ـ پوړ ډول اؤ سوړنا باندې یو ځاے اتڼ کوي ـ دے ته ګډه امې وایي ـ

دا هه م په خو رازه وي کله ښځې یو پاله اؤ نه ر بهل پاله اؤ کله یوه ښځه اؤ یو سړے اتڼ پوره کې اؤ پوړ ډول اوړي ـ داسې هه م وي چې ښځې اتڼ کوي نارینه ووړته ناست وي یا نارینه اتڼ کوي اؤ ښځې یه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سېل ـ دې ته چرګوتې وايي ـ
خو اوس څني د ـ باهر لوّه ستي موړلايان لګيا دی دا ډواړه کاره مجله
س اؤ ګړه امي بدبنيي اؤ بندوی يه اؤ څکه چی خلګ هه م د ـ اوسنی
ژوه ند په ډېرو خرڅو اؤ د ـ هغو لپاره په منهو تړه نهو اختة اؤ لګيا
سو ـ دې ساتېرو ته اوزګار نه دی که بند سی هه م څه ناپېښبه به نة
وی ـ اؤ هسی هه م اوس د ـ دې خوپو ښخه ډېر بد اؤ بدی هه م روانی
دی پيښېږی ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# تېښته

لکه په نورو کامو کې د - پښتنو پېغلې - مېرمنې اؤ کونډې ښځې هم کله کله تېښته وکې (متهيځې سې) ګوا د - خپلې خوښې واده وکې خو ډېرې کمې په دې هکله د - بېلو تېپو ښېل دودونه دې - د - مېرمنې تېښته خو په هيڅ توګه بې مرګه په بله توګه نه رغېږي چپ د - سنجاوي د - دومرانو چې هغوې په دې هکله هم په پيسو جوړه سره کوي -

د - پېغلې اؤ کونډې دا زياتره په ډېر ولور - (پيسو) يا موخې (بدله) زياتره د - يوې په ځاې کې دوې ښځې جوړه سې - خو ځينې خلګ دغه هم وډېره بده ته ورسوي - څو کاله وړاندې د - چمه ن د - اڅګزو - اشېزو اؤ ملېزو ته ر مېان د - يوې پېغلې پور تېښته شپږ مړې وسو - کله تېښتيدلې واده سوې (منکوحه) ښځه په زور يا په چل بېرته پلارګنې را ولې اؤ دلته به ل مېږه وورکې اؤ بدې جينې جوړه سې -

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# ټك كوه ل يا پيكے (څټوكي) پړپكوه ل

دا هه م دوړ وو خواوس له ر سوي دي چي يو سړے د ۔ چا په وږه كی
د ۔ ټوپه ك ټكان (ړزي) وكي اؤ ووايي چي په دغه كور كی هغه
پلانكي پيغله ښځه زما سوله ۔ نه د ۔ ښځي خوښه يا ناخوښه ګوري اؤ
نے د ۔ پلارګني ۔ دغه ښځه زياتره بيا څوك نه غواړي ۔ كړے وغواړي
هغه سړے يه داسي ګڼي لكه د ۔ ده واده كړے ښځه چي غواړي اؤ بدي
باندي كوي ۔ هو ولوړے د ۔ پلارګني په خوښه اؤ ته ر نوړو زيات سي
يا د ۔ يوړے په بدله كی ډوړے ښځي وركي ۔ هه م دا شان ځيني خلګ د
۔ كوره باهر د ۔ نجيلی پيكے ۔ (څټوكي) پړے كی چي دا زما سوله ۔

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# د ـ ځغم او وهلو ازموده

د ـ خان او خوداے سره خو مې د ـ ځغم او بدلې نه اخیستو بوِل کړی وو خو چې کله کله به مې د ـ هیند د ـ کانګریسی اوله س ځغم ته کاته چې سرکاری پولیسو او خلکو به وهه ل ټکوه ل او دوے به نــه ټه‌ښتېده او نه بېږے لاس خوځاوه ماته به شك راولوېده چې ښتا پښتنی وینه به دا ومنی که نه ؟ د ـ پښتانه خان زوے وه م ـ د اوستادانو د ـ وهلو ډېرته چې په ورو‌ك والی مې لیدلی وو ښیا مې د ـ چا سوك چپېړه هه م نه وو لیدلی سوتے یا وسله خو ڀرېږده ـ خو په دغه کال مې دغه ازموده هه م وسوله ځغم مې وکاوه او ډاډه ښوله م چې ځغم کولاے سه م هغه دا شان چې د ـ دغه کال په اوړی چې د ـ ښکار وخت هه م نه وو ـ د ـ ښمایه ل جان ـ کودوس جان ـ هپیزولااو مامد سلیم همزولو او ځپه لوانو سره د ـ څو ښپو لپاره د ـ څو نوکرانو سره غره له ولاړه م د ـ نورو مل ګرو سره مې توپه ك د ـ چرو او ګولو وو او زه په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ته ش لاس وه م د ـ خواجمران په لمه ن کی د ـ ملېزو په باغو کی مو اوتاك وو ـ د ـ روزی به په غرو کی ختو اؤ لوېدو ځان به مو ښه ستړی کی اؤ ماښام به اوتاك له راغلو ـ د ـ لومړی خوړ پوړ ډوولسمه (باره وفات) د ـ غره اؤسم پېښېن ډېر نه ر اؤ ښځی د ـ خواجمران زیارت له راتله نوړ مله می په سېنل سهار ولاړ خو زه نه ولاړه م ځکه چی په دغه روز می څه لوسته ل ( وظیفه ) اؤ سوچ کوه ل غوښته ـ دوے چی غرمه واپس راغله راته یه وېے چی د ـ اؤغانیستان د ـ مله ك دارو خان بادینزی د ـ کلی ښځی اؤ یو ډوه کسان زیارت له راغلی وو ـ د ـ روتی پس هغه نوړ بېده سو خو هپیز خان ( چی د ـ ازم جان د ـ تکه پس زموږ د ـ کلی مله ك د ـ جرګے غړی اؤ د ـ مارشه ل لا د ـ سرکار له خوا د ـ کلی د ـ بونیادی جمهوریت ټرپلی غړی وو ) د ـ یو نوکر سره بیرته زیارت له روان سو ـ خوداے به خبر وی چی هلتے څه کړی دی اؤ څه نه ـ خو سات پس بیرته راغی ـ ماښام موږ پوړ اوتاك ناست وو چی د ـ زیارت له خوا څه ډېر سړی راشوه سو ـ تیاره وه موږ د ـ ورایه ږغ باندی وکی چی څوك یاست ـ وېے د ـ سنځلی ( ملېزی)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

یو راغله کښېناسته ـ ما چې شاڅوا ورته کاته څوك مې پېژانده نه ـ تپوس مې ترې وکې چې زه خو تاسي نه پېژنه م تاسي څوك یاست د ـ جواب په ځاې دوې رانه تپوس وکې چې " په تاسي کې نه ن که م ډوه کسان زیارت له ختلي وو ؟" ما وې " ولي خیر دی دا ډوه کسان تللي وو ؟" زما د ـ وینا سره یوسړي په یوه لاس په ناستي یو سوټې د ـ ستّه رکو په ر سده کې پور تندي راسره کې چې سوټې را باندې ولګېده په درد خو پوه نه شوه م خو چې هغه لرګے لري کاوه زما وینې راتوې شولې ـ که ګوره م دوې ډېر کسان ولاړ دي په جګړه لګیا دي ـ په مور کې مامد سلیم اؤ هپیز خان زما په مه خ کې ناست دي سمایه ل جان اؤ کودوس جان ولاړ دي جګړه کوی زما سم دستي زغم اؤ روغي (صبر و سکون ـ عدم تشدد) ته پام سو اؤ به ل راسره دا کهانده پیدا شوله چې مامد سلیم چې لا وړوکې اؤ نوی ځوان وو اؤ هپیز خان ده ر څه ونه وهي ـ یوې خوا ته مې بړغ وکې چې دا څه کوې کښېنئ چې خبرې وکو ستاسي مراد څه دی اؤ بلې خوا ته مې دواړه لاسه پور سلیم اؤ هپیز خان واچوه ل اؤ سره د ـ دې مې ننداره

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کوله اؤ د ـ سړو پوړ دې دریندګی خندا راتله اؤ خنده ل می ـ د ـ شا
پاله او وړاندی پوړ لاسو په لتو اؤ کونداغوړنو وهه ل کېده م خو باك
می نه په کېده څه وخت پس سړو ښمایه ل جان اؤ کوډوس جان هه م
کابو کړه ل لاس تړلی یه راوسته ل یوې ښوا تې کښېنول ـ ماتې وه ل "
راپاڅه ـ د ـ دوې سره کښېنه" ما وې "چی زه خو د ـ به ل د ـ خولې
اؤ په زور نه پاڅه م کښېنه م" وې " نه پاڅه تاسی یوې ښوا ته
کښېنئ چی خبری وکو" ما وې " خبره داسی نه کېږی چی زما د ـ
مل ګرو لاس تړلی وی " نو یه د ـ هغو لاس پرانه سته ل اؤ موږ یوې
ښوا ته دوې بلی ښوا ته کېناستو ـ جرګه پیل ښوله ـ لومړې خو مو
پیژاندګلوی سره وکړله ـ په دوې کی یو ښپه له داروخان وو یو یه اکا
ابوجان وو نورې د ـ کوړنۍ کشران څو هلکان وو ـ څلور د ـ میر الم
ملېزی زامه ن وو چی د ـ سنځلی څه شړونی (فراری) تللی وو د ـ
داروخان دوې سره میشته وو ـ یو د ـ ملېزو اوسنې مشر سید مامد اؤ
به ل یو هسن زې هلك وو ـ تیوسه پس داروخان راته وویه ل چی
"ښتاسی دا که م کسان چی نه ن زیارت له تللی وو دغه وخت زموږ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

زنانړې زیارت له راغلي وې-دوې د ـ هغو ښځکه کړې ده-وورسره ناست پاست دي اؤ ښځکي خبرې یه وورسره کړي دي اؤ دې هسن زی هلهك لیدلي دي چې هغه وخت هلته وو" د ـ دې په اوریدو مې ډیر وار ختا سو خپلي ویني اؤ تپ مې هیر سو ولي خبره یه سره لګیده هه م اؤ ډیر ذړنه د ـ ننګ خبره وه ـ سم دستي مې دا پام سو چې دا خوښه ده چې دوې په ناپوهي دا شر وکې اؤ زموږ خبره باندي ښپړه ښوله کني کې په ګیله ویلي واے نو خبره به ډیره ګرانه وه-ده ته مې هه م سم دستي وویه ل چې ښه دي وکړه چې خپه ل د ـ ښځکي بدله دي په وهلو ټکولو او زما د ـ سر په ماتیدو واخیستله اوس دي نور څه پاته دي که دي ګیله و...په روغه دي کړې واے نو به زه په مه ږ وم اوس چې په زور دي ګوتي پورې کړلې پور ما دي څه ګیله پاته نه ده که دي څه نور په زړه کې وي هغه هه م وکه بیا به سره ګورو ـ که د ـ سړو په زور ناپوهي اؤ وهلو ټکولو څه کار جوړ یولې خو نه ن دا ټول د ـ تا سره ښته هر څه چې دي خوښه وي کولاے سې ـ اؤ که سړیتوب ده ر کي واے نو ژراندي به دي خپله خبره په سړیتوب کړې واے ـ خو سړے پښیمانه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

شانته وو ـ یو خو راولاړ سو ژما تپ یه وکوت چی کنی ډېر خو خوږ
نه دی ـ ښیا یه هغه خپلو سړو ته ووے چی تاسی خو ووے اوستاکاران اؤ
جتان وورسره دی هغه که م دی دا خو تړل خانان دی ـ خو خیر څه
چی کېده هغه سوی وو ـ بیرته اخیست کېداے نه سو ـ نو سړی د ـ
روغی یو سر کوټ ـ ووے چی دغه ډوه کسان چی زموږ ښځو تہ سپکه
اړولې ده ـ هیبز خان اؤ هغه نوکربه له ما سره ځی اؤ هغه چپه له ر
دیدی (دوربین ) به هه مرا اخلی چی هغه وخت له دوے سره وورسره
وو ـ چی وایی ته ر جامو لاندی د ـ سړی بدن وینی اؤ په هغه کی دوے
زموږ و ښځو ته کاته ـ چی زه هلته خپه ل د ـ ښځو اؤ سړو څه تپوس
وکه م چی خبره څنګه ده ـ نو ښیا به هلته خبری کوو ـ ما ښیا وورته
وویه ل چی داروخانه دا هر څه به هله کېداے سو چی دا په سر کی په
جوړه اؤ سړیتوب خپله خبره کړے واے ـ اوس چی جنګ جګړه وهه ل
ټکول دی وکړه ل او سر دی رامات کی اوس دا خبری خوشی دی ـ
اوس د ـ جوړی خبره نسته په زوړ هر څه چی کولاے سے ته ر مرګه
پوری کوے بیے کنی ځه خپله لار وهه پوړ مه خ به ګوروو چی څه کېږی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ـ اؤ که دی دا ګومان وی چې ته به موړ. په دې پینځه کسه اؤ څو
توپکو وبېروې خو دا ګومان دی خوشی دی زه د ـ انګرېزد ـ لښکرو
توپو اؤ توپکو نه یرېږه م نو له تا به څنګه وبېرېږه م ـ په دې کی د ـ
دوې په مه ل ګرو کی یوه ملېزی وورته وویه ل چې بس دی څه چې
وسو هغه هه م ډېر اؤ بدوونوږې مه اورېدوه او څه چې خو پلار دی هه
م خبر نه دی چې هغه به لا څه وایی ـ دوې په خپلو خبرو کی وو چې
زمور د ـ یوه مل ګری پام سو ـ د ـ دوې یوه سری زما خپلی په جېب
کی اچولی وه ـ هغه مو جینی را واخیستلې اؤ شا اؤ خوا مو وکته ل
څه نور واره خیزونه هه م نه وو ـ هغه مو هه م ترې واخیسته اؤ د ـ څه
نورو خبرو پس دوې ولاړ ـ په دې تول وخت کی زه په دې ډېر
خوشاله وه م چې پور وهلو اؤ نورو ناخوالو باندی زغم څه دومری ګران
نه دی لکه چې ماته ښکاربده اؤ به ل په دې چې که روشتیا هپیز خان
د ـ دوې د ـ ښخو سپکه کړې وی اؤ دوې دا د ـ ننګ اؤ غیته پښتنی
ګیله په سریتوب راوړاندی کړې واې نو به زمور. چاره څه وه اؤ په څه
بڼوګه به مو خوله د ـ ځانه کښله ؟ اؤ سره د ـ وینو اؤ تپو د ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ناسمېيتوب پوړ د ې تماشه چي ماته ر پايه په سمره سينه کتله د ـ ځينو مل کروړ پوړ خنبه م اوډ د ـ هپيز خان او ځينو نوړو پوړ بيرېدو ډېره خندا راته ـ دارو خان اوډ د ـ هغه نوړ مل کری چي ولاړ ملك سيد مامد ملبزے اوډ يو به ل سړے چي د ـ د ې ځاے وو اوډ هسي د ـ زيارته څه وورسره را مل کری سوی وو پاته سوه ل که دوے نه واے نو به مي د ـ مل کرو سره ډېر خندلي وو اوډ ځان به مو په خبره سره پوهه کړی وو ـ خو د ـ هغه پردو خلکو د ـ مخه دانه سو کېداے خو ښيا هم چي د ـ سمايه ل جان اوډکودوس جان و خنبه م اوډ خوابدی ته مي کاته سمايه ل جان ته مي په غوړ کي وويه ل چي "وينې جيني بچ مي کړلې" هغه چي خپه ل په پښتني خنبه م کي وو په د ې خبره ډېر بد يوړه ل وې " د ـ څه ؟ که تاسي دا نوړو هه م جنګ کولاے اوډ لاس مو اچولی واے لکه ما اوډ کودوس جان نو به تاليدلي وو چي دوے مو وهل که نه ؟" اوډ چي ما وخنده ل نو پوهه سو چي مسخرې کوی ـ څه يه خنبه م کم سو ـ شپه مو هورې تېره کړله اوډ سهار واپس را روان سو ـ په لاری مو په خبره ځان سره پوے کي د ـ ځينو ملو دا نه وه خوښه چي د ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هپیز خان په ناځوالی دی مړور. ځپه ل ځپلوان خبر کوږدا یه غوره بلله
چی هغوے ته ووایږ چی هیڅ بہے هیڅه یا د ۔ غلا لپاره داروږ خان
یرغل راباندی وکیږ اؤ وہے وهلږ چیٔ پږ رمه خ بیا مړور. بدله جینی
واخلږ ۔ خږ ما وورته وویه ل چی دا سمه نه ده ذروغ بدی اؤ دوښمنی
ښه کار نه دیږ رږشتیا خبره په کار ده ۔ اؤ رږشتیا پوهیږی هه م نه‌نو
ولی ځان شرموږ اؤ خلګ په غاړه کی سره اچوږ. چی کهږ ته راغلږ
ځپلوان موږ راغونډ سږ مشران اؤ کشران ټول ډیر په خښه م وږ ۔ مړور.
پوړه خبره وورته وکړله ۔ اؤ ما دا هه م وورته وویه ل چی که څه هه م
زه ته ر دہے نوروږ زیات وهه ل سویږ یه م خږ زه دا خبره پاته ښه بولہ م
هغوے هه م پښتانه وږ ۔ رږشتیا یا ذروغ له ږ ډیر د ۔ ننګ سپکه
وورسېدلہے وه څه خږ بہے کوه ل ۔ که تاسی له په جوړه اؤ ګیله راغلی
واے ته ر دہے به زیاته بده وه‌دوے دا د ۔ ناپوهی کار ښه وباله اوسہے
تاسی هه م پرېږدیږ مہے پسی اوږدویږ اؤ وہے بخښیږ اؤ کہے تاسی نه هه
م بخښیږ ما خږ ځپه ل له ځوا بخښلی دی ۔ خږ هغوے پښتانه وږ
چیرہے منه ل د ۔ ګولیستان سرکاری واك وال وروکی تاسیلدار (نائب

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

تحصیلدار) تہ خبر (رپورٹ) ورکئ. هغه زه هم وغوښته م ما
ووړته وویه ل چی زه ناله ښت نه کوه م له ما سره هر څه چی سوی دی
ما بخښلی دی زه بدله نه اخله م او نے غواړه م ۔ خو هغه راته وے
چی ته په دے پښبه کی هلته وے نو د ۔ ګواه په توګه بیان راکه او زما
بیانے واخیست ۔ ما هغه ته هم پوره خبره وکړله د ۔ کوهاټ اپرډے
سیدالی خان د ۔ پښبوه ر د ۔ پوهنتون د ۔ اوسنی مشه ر کرنه ل اپرډی
او په لنده ن کی د ۔ پاکیستان د ۔ اوسنی ښته ر کمیشنه ر جنره ل
یوسپ د ۔ تره زوے وو ۔ دارو خان دوے په اوغانیستان کی اوسیده څکه
په سرکاری توګه نه څه کیداے سو او نه څه وسو۔ خو زما ښپه لوانو دا
جوړه وکړله چی زموږ په کلی کی چی ځینی غبی زی پراته وو او دارو
خان هم غبی زے وو هغو تہ وویه ل چی زموږ او ستاسی د ۔ ښپه
لوانو ته ر میان دا بدی پښبه سوله ځکه تاسی موږ په ښپه ل کلی کی
نه پریږدو تاسی بار سی به ل ځاے ولاړ سی ۔ زما د پاره دا ډېره ګرانه
سوله ولی چی که می د ۔ کلی د ۔ شریکی مځکی د ۔ یوه خاوه ند په
توګه د ۔ نورو ښپه لوانو مل ګری کوله پور ډېرو خوارو بیے تورو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مزدوړانو مې زیاتې ځانه اؤ که مې مل ګړی نه وو سره کوله د ـ دوے
جوړ کړی کار وړانېده ـ دوے هغه خلک نه سو بارولاے اؤ له ما یه
خوابدوله ـ په زیاته بیا دا ګرانه وه چې مشه رورور مې هه م د ـ دوے
مل ګړی وو ـ اؤ هغوے هه م د ـ یو پښتانه په توکه دا غوښت چې
دا زیاتې داسی ښې تپوسه پاته نه سي د ـ ډېره سوچه پس مې په ټ
هغه خلکو ته وویه ل چې تاسی څه وخت مه بارېږی ځان وځنلوی چې
زه یو لار جوړه که م ـ څو وخته پس زه کور نه وه م د باندی تللی وه م د
ـ دارو خان پلار ملک زکوم خان سره د ـ زویه زموږ خپه لوانو له
ننواتی راغلی وو ـ دوے ذرے شپې یه یو ځاے به ل ځاے کړی وے اؤ
ډېره پښېمانی یه ښکاره کړے وه خو د ـ خانانو خښه م لا نه وو ختلی
د ـ هغه ننواتې یه نه وه منلې اؤ پور دے ټینګ وو چې د ـ هغو د ـ
ښې مزدور کاره خلک د ـ کلی باسو په دے کی یو وخت په هغو
خلکو کې د ـ یوه په کور کی څوک زنانه مړه وه اؤ له دے ښېری چې د
ـ کلی خانان به دا زموږ مړی د ـ کلی په هدیره کی نه پرېږدی هغوے
خپه ل مړی لری د ـ به ل کلی ادیږے له وړی وو اؤ هه م په دغه زوز

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

زما یو د ـ وراځایه تره د ـ هپیز خان پلار بناغلی هبو خان (حبیب الله خان ) په دغو کسانو کی یو د ـ ماجته ایستلی وو ـ او د ـ لمانځه یه بند کړی وو ـ دغه وخت زما مشه ر ورور هه م په جومات کې وو دا کار هغوے ته ډېر ناروا او سپه ك ایسپدلی وو او ډېره یه خوابده سوې وه ـ ماتې وویه ل چی دا خواږس ډېره بده خبره سوه له ـ هغوے خواران مړی بل کلی له وړی او د ـ خوداے په ماجه ت کی لمونځ نه سی کولاے د ـ دی به پاے څه وی ـ ما هغوے ته خو څه ونه ویه ل خو هغو خلکو ته می خبر ورکی چی تاسی څو کسه مابنام د ـ پلانی خان ځاے له د ـ ننواتی په توکه ورسی زه به هلته نه یه م خو هیله ده چی دوے بیے ومنی کنی نو زما او زما د ـ ورور به پلمه جوړه سی او په ډاکه به دا ویلاے سو چی د ـ ننواتی نه منه ل پښتو نه ده ـ نو تاسی به پاته سی ـ هغوے داسی وکړه او مشرانو خانانو بیا هه م ونه منه ل ـ خو زمونږ دواړو او نورو کشرانو پلمه جوړه سوله او دغه زیاتے ورو ورو پاته سو ـ هغه کسان ته ر اوسه لا دلې دی ـ

د ـ پښتنو جنګ جګړی او وهه ل ټکوه ل څومره ورانے جوړولاے او د



Scanned with CamScanner

ـ پښتنو لپاره زغم ـ ساه خوږلي اؤ جوړه روغه (عدم تشدد ـ صبر اؤ تحمل) څومرى ډېر په کار دى د ـ دې اندازه ماته له دغى پېښى څه په ښه شان وسوله ولى په دې پېښه پسى دا څو خبرى سم دستى پېښى شولې چى هره يوه ـ د ـ مرګ ژوبلى اؤ بې پايه بدى پيلامه کېدلاے شوله ـ

(۱) د ـ دې پېښى له ږ ورځى پس چى زموږ ځپه لوانو غيبى زو ته وويه ل چى تاسى به زموږ له کلے بارېږى ـ اؤ هغو ايسته بيسته کوه ل خو بارېده نه ـ يوه ورځ زموږ يو نوى زلمے نوکر اوډول غيپور ملېزے د ـ مدو ملېزى زوے ماته راغى چى "مامد سليم خان چى د ـ ده هه م زوږى اؤ اشناے وو اؤ په دې جګړه کى له موږ سره وو ماته وايى چى زه به د ـ کوره توپينګچه اؤ توپک راوړه م اؤ ډواړه به ورسوغيبى زو ته به د ـ کور په وره کى ودرېږو چى کله را واخلى بارسى اؤ که نه بارېده يو ډوه به پکښى ووژو نور به ځپله بارېږى." ما (غيپور) وورته وويه ل چى "زه تيار يه م ده ر سره ځه م خو چى له ده (اوډول سمد) نه تپوس وکو ښه به وى ـ نو ستا څنګه خوښه ده ؟ که دى

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خوښه وي ټوموږ اوس دستي ځو اوٚ دا کارکوو۔" زه ډېر خوشاله شوله م
چي دې هلکانو دا کار خپه ل په مه خ نه دي کړی اوٚ یا یه د ۔ بل چا
خښه م جه ن سړی نه تپوس نه دي کړی ۔ ما ووړته ووې چي " مامد
سلیم چېرته دی؟" وې چي "ستاسي په انګوری باغ کي راته ناست دی
" زه ووړسره لاړه م هغه هلته وو اوٚ خبره روښتیا وه ۔ ورو ورو مي دواړه
پوے کړه ل چي دا بد کار دی داسي نه دي کوه ل پکار دا کار به
مشران په روغه جوړه وکي اوٚ دا خبره مي ته ر ننه چاته نه ده کړې۔وې
مي هسي نه چي د ۔ نوړو کشرانو دې ته پام نه سي ۔
(۲) زموږ د ۔ ځایه لری پوړ شپېته میله په توبه کي زموږ د ۔ پښې
جلېزو همیدزو مله ك اوٚدول کادر چي ته ر دغه وخته نه موږ پېژاند اوٚ
نه چېری زموږ کلي له راغلی وو۔ نه مو په غم ښادی کي هه م تله
راتله وو۔چي په دې خبر سوی وو چي دارو خان غیبی زی د ۔ جلېزو
خانانو سره جګړه کړې ده راغی اوٚ دې ته تیار وو چي د ۔ دې بدله
پوړ توبه د ۔ غیبی زو مشرانو مله ك ولهه م اوٚ مله ك بایه ك دوے په
وهلو واخلی ۔ زموږ د ۔ زیاتره مشرانو هه م دا خوښه وه اوٚ مله ك کاده

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ر تہے ښیے ډوډی اوْ څه نغدی روپۍ هه م ورکړے خو زه په دے پوے وه

م چی د ۔ دے څه بد جهړیداے سی اوْ مله ك کادر می ځان له خّپه ل

په ځوښه خبر کی، ځکه هغه هه م څه بدله وانه خیستله ۔

(۳) کال ذوه پس په هغه غیبی زو کی چی د ۔ موږ سرے جګړه کړے

وه یو کس ډوه زموږ کلی له په یو واده کی راپیښ سوی وو اوْ هاسیل

ملېږے چی ته ر غیبی زو موږ ته په نښکت کی نیژدے وو اوْ ځان لے

هه م د ۔ دغو غیبی زو سره دوښمنی وه ما یه بل ځاے چېری یاد هه م

کړی دی په خبر سوی وو ۔ زموږ یو مشه ر توربوږ یه خبر کړی وو

اوْ دے تہے تیار کړی وو چی ته هسی راسره لاړ سه ۔ د ۔ هغه واده ځاے

له وهه ل اوْ جنګ زه زما مل کړی اوْ خّپه لوان کوو اوْ دا شان به هغه

د ۔ دوے بدله واخلو اوْ هغه هه م سره د ۔ دغه هاسیله اوْ څو کسانو

نوکرانو وورسره تللی وو خو د ۔ دوے ته ر رسیدو وړاندی یا دستی هغه

سړی پوے سوی وو اوْ تللی وو جنګ نه وو سوی ۔

(٤) ته ر تهولو ناپیښه لا دا وه چی څو روزی پس ښاغلی میریوسه‌پ

الی خان مکسی زما تپوس له راغی اوْ ځان لے راته وویه ل چی که

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دی ښوبنه وی زه به ښپه ل سړی سره د ـ وسلے راولیږه م اؤ هغوے به
ښتاسی د ـ سړو اؤ نوکرانو سره د ـ دارو خان پور کلی یرغل وکی ـ اؤ
ښتاسی بدله به واخلی ـ زه وورته په خندا ښوه م اؤ وورته می وویه ل
چی " مور چی د ـ زغم اؤ بدلے نه اخیستو (عدم تشدد ) بول کړی
دی ـ " ده وے چی " زما خو ګومان وو چی هغه رو به مور د ـ سرکار
سره ساتو " د ـ څه خبرو پس په خبره سره پوه ښولو چی د ـ زغم رو
ته ر سرکار ښپه ل د ـ کامه سره لا زیات په کار دی ـ هه م دغه ورانی
اؤ خرپامی د ـ روه (سرحد) په زیاتره خودایی خیدمتګارانو کی ښته
ځکه خو د ـ سرکاری زور زیاتی په وراندی هر یو پوره اؤ ناپیښبه زغم
کوی خو په کورنی چارو کی له باچاخانه اؤ ډیرو لږو نورو کسانو پرته
یو هه م د ـ زغم (عدم تشدد ) پور لار نه چلیږی اؤ تل په کورنی اؤ د
ـ نورو پښتنو سره په جنګ جګړو ـ وهلو ډزو ـ ان چی په مرګونو اؤ
بدو اخته وی ـ

هه م په دے کال کی د ـ کلات خان میر مامد ازم خان مه ږ سو اؤ د
ـ هغه دویه م زوے میر امد یار خان ښپه ل د ـ مشه ر میره ییځ وروړ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

میر مامد اکرم خان د ۔ لہونتوپ له کبله د ۔ کلات خان سوِ ۔ ځکه
چی د ۔ میر ازم جان د ۔ خانی په لروِ ّشپوِ کی د ۔ کلات په خلگوِ
کی ڈیر زّیات کامی ژّوه ند پیدا سوی ووِ اۆ هه م د ۔ هغوے په وخت
کی په بلوِخانوِ کی په ڈاگه کامی کار پیل سوی اۆ کیدی د ۔ جالاوان
د ۔ شوریش تهوِل کامی بندیان سردار نوِردین مینگل ۔ سردار شاباز
خان د ۔ هغوے زامه ن اۆ غازی سوِلیمان اۆ د ۔ هغوے مله د ۔ جیلوِ
اۆ بنده بنتوِ را خوِشی سوی ووِ اۆ بناغلی میر یوِسه پ الی خان رنگه
کام دوِسته سرِے سردار تاکه ل سوی ووِ نوِ که څه هه مٓ زما د ۔ دوِے
سره زّیاته پیژاند گلوی نه وه خوِ د ۔ دوِے په مرگ چی می د ۔
غمرازی کوِم تار ولیره په هغه کی می د ۔ دوِے مرگ ته کامی غم
ویلی ووِ هسی هه م د ۔ بناغلی میر ماموِت خان نه سیوا چی د ۔
هیند د ۔ نوِروِنوابانوِ اۆ راجگانوِ په شان بد خرڅه بدخویه بد کاره د ۔
کامه بیل اۆ د ۔ انگریز د ۔ خولے اۆ د ۔ لاس سرِے ووِ ۔ د ۔ امد شا
با با له وخته راهیسی چی د ۔ کلات خان نسیر خان یه ځپله ساتلی
روِزلی اۆ بیا خان کری ووِ ۔ د ۔ کلات تهوِل خانان کام دوِسته اۆهیواد

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پالوڼکی خلک تېر سوی ووړ ـ پښتنوړ ته په خوړے بوړے نیژدړہ اوْ زیاتره به د ـ واده په رکی د ـ پښتنوړ خښبان هه م ووړ ـ خپله میر ازم خان پښتوړن وزمه سادهٔ اوْ غیرتی سړے ووړ ـ انګرېزانوړ د ـ خپلوړ سپېروړ مرادوړ له مخی په کلوړ یو وار خپه ل د ـ پلار میر خودایداد خان سره اوْ بیا د ـ هغوړے د ـ مرګه پس هه م په بوړی ـ پښین اوْ کوټه کی بندی ژان ساتلی ووړ ـ نیژدړے دېرش کاله پس چی هغوړے تپ سپین ږیری زوړ ـ د ـ خپه ل میرہ ییخ ورور میر مامود خان د ـ مرګه پس ځکه د ـ کلات خان سوړ چی میر مامود خان د ـ واده کړی ښځی (اصیل ) زوړے نه ده رلوړد اوْ د ـ کلات سردارانوړ چی ډېر پکښی د ـ دوړے زوړمان ووړ دا غوړه ښت چی دے خان سی ـ



Scanned with CamScanner

# میر امد یار خان

د ـ کلات نوی خان چی د ـ یوه بندی پلار زوے اؤ د ـ کلاته لیری د ـ ݒلار د ـ بندی والی پہ وخت کی د ـ پښتنو پہ مٻان کی زوکړی اؤ لوے سوی وو کہ څہ هم لہ ر لوستی وو خو وه اوله س ته پہ خوے بوے ډېر نیژدے ساده پښتون وزمه خوار سړے وو ـ نہ د ـ نوابی پہ نخرو بلد وو اؤ نہ د ـ نوابانو بدخویونہ پکښے ـ یو وختے پہ ډېره لہ ر تنخا اؤ ورکوتی ځاے ایڈجوټینټ پہ توګه پہ چاغی لېوی کور کی د ـ انګرېزانو نوکری هم کړے ځکه مه خ لہ د ـ هېواد د ـ نورو ساده خلکو پہ شان یو ځوان وو ـ د ـ انګرېزانو دوښمنی اؤ د ـ ځپه ل واکی مینه یہ د ـ مور د ـ پیو سره روزلے اؤ د ـ میر نسیر خان د ـ وخته پہ ښکت (میراث ) ووررسېدلے وه ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# کامی کار

په دغه کال زموږ کامی کار اؤ ډله ته ر اوړلسی رنګ زیاته د ـ زیاترو لوړمړنو کامی ډلو په شان د ـ یو څو لوستو اؤ اوچتو خلګو کامی ډله وه ـ کار مو هه م هغه شان کله کله د ـ ډلی د ـ مشرانو غړو اؤ جیرګګو (کمیټی ) غونډی ـ پریاڼونه (تجاویز) اؤ له سرکاره د ـ ولات د ـ خلګو لپاره نوکری اؤ ښیګړی غوښته ل وو یا په اخبارو کی بیانونه اؤ لیکونه راایسته ل وو خو ځکه چی یو خو زموږ ولات(صوبه بلوچیستان)هغه وخت د ـ هری خوا ډېر بېړ برخی نتلی (مظلوم ) اؤ د ـ هر راز واکه وتلی وو اؤ به ل زموږ په ډله کی هه م یوازی د ـ ښاغلی میر یوسه پ الی خان نه چپ نور ټول خوار اؤ نتلی خو نوی ځوانان اؤ لوه ستی زلمی وو ـ نو زموږ نیوکی (اعتراضات) اؤ غوښتنی به زیاتره اوړلسی اؤ کامی وې ته ر ټولو ناپیښه خبره دا وه چی که څه هه م په موږ کی زیاتره غړی په بلوچیستان کی د ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

انگرېزانو د ـ باچهی په رو او اپره (بنیادی پالیسی ) خبرنه وو اؤ نے
چېری دا لوه ستی وو چی کوم شے چی دوے سنهېمن پالېسی بولی هغه
دی څه ؟ اؤ نه په دے رسېده چی دلته د ـ انگرېزی باچهی بونیاد پوړ
جرګه اؤ سرداری ولاړ دی خو لکه چی د ـ ښنتنو زوړ متل دی چی
وایی " د ـ هېواد سوے هه م د ـ هېواد تازی وهلاے سی " ګوا د ـ هر
ځاے خلګ خپه ل د ـ ځاے په کار ښه رسی اؤ ښے کولاے سی زمونږ د
ـ ډلی د ـ کار مخه هه م د ـ لومړی ورزی څخه د ـ جرګو اؤ سردارانو
پاله وو ـ اؤ په دوه ډوله مو د ـ انګرېزی سرکار دا بونیاد کیناسته اؤ
کمزوری کاوه ـ یوے خوا ته مو د ـ جیرګو اؤ انګرېزی واك والانو اؤ
سردارانو پوړ زیاتوب اؤ ناخواله کارو سختی نیوکی اؤ ځړی کولے اؤ
هغه به مو څرګندولے بلی خوا ته مو د ـ هېواد د ـ ټولو خلګو په
زیاته د ـ سردارانو پوړ ناواکی اؤ د ـ ولات په کارو اؤ ګټو کی پوړ بہے
برخی روز ( محرومی ) ژړه ل د ـ دے پاے دا سو چی یوے خوا ته
خپه له د ـ بلوچیستان خلګ اؤ د ـ باندینی دونیا په بلوچیستان کی د
ـ انګرېزی سرکار په ناخواله کارو اؤ زیاتوب خبر سو اؤ بلی خواته


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سره د ـ سردارانو په ټولو خلګو کی د ـ دې ډېره ژیاته مینه پیدا
شوله چی موږ دی د ـ هېواد اؤ ولات په ګټو اؤ واك کی پوره برخه
ولرو ـ که څه هم ژیاتره وګړی اؤ سرداران په دې رسېده هم نه چی د
ـ هېواد په واك کی برخه وایی وڅه ته او نه د ـ دې شی وړ هم وو
خو په دې ټولو خلګو کی د ـ غرو اؤ بېبانو ته ر خلګو پوری ډېرژوه ند
اؤ ځپه ل د ـ نتلی ژروزی ( مظلومیت ) درك (احساس ) پیدا سو
اؤ ژموږ ډله ډېر ژه ر د ـ خلګو په ژیاته د ـ نتلو خلګو اؤ سرکار ته ر
مّیان یو ذریه م شے اوَ د ـ خلګو موږچه جوړېدله ـ خو موږ ته ر دغه
وخته د ـ سرکار سره څه جګړه نه غوښته اؤ دغه وخت بیے بغاونه اؤ د
ـ وسلے بیے جنګه خلګه په بله جګړه پوهېده هم نه اؤ هغه موږ نه
غوښته ـ ژموږ دستی مرّاد دا وو چی ژموږ اخبارونه اؤ ژموږ ډله
(پریس او پلیټ فارم ) چی لا په بلوچیستان کی آزاد نه وو باهر چلېده
دلته آزاد اؤ دلیے جوړ سی ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner



باباے پښتون

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# جوکمابات له کلهٖ

د ـ کوٹی په تهول پلو کی سره ژموړ د ـ ځایه په ژمی ډېر یخ وی ـ ځکه زیاتره خلګ چی وسې رسی په ژمی څه وخت ګرمو ځایو له ولاړ سی ـ خوار پښتانه په خواری مزدوری پسی څرهٖ ولاړ سی څوک چی نوړ نه وی د ـ سیوی مېلے له ځان ورسوی ـ اؤ زیاتره پښتانه اؤ بلوڅ کوچیان اؤ کوړپشا خلګه په کلهٖ ولاړ سی ـ د ـ کوٹی ـ پښین اؤ ګولیستان ځینی وس واله خلګو به هه م کلهٖی بوټلے ژمی ببې په سیند کی تېراوه ـ ژموړ د ـ کوړ اؤ کوړنی خلګو به هه م ویه ل چی موږ هه م تللی وا ے ښه به وو ـ خو ما به ته ل ویه ل چی ژموږ یوهٖ اؤ لویه ګټه دا یخنی ده چی په هغو مو رنګونه ځانونه اؤ روغ واله ته ر ډېرو خلګو ښه وی ـ که دا هه م موږ په ګرمی بدله کو نو ته ر ګټه به مو تاوان ډېر وی ـ خو په دغه کال ځکه چی ښاغلی مامد اسلم خان د ـ پلوهٖ ایسته ل سوی وو ـ اؤ د ـ هغوے د ـ کوړ خلګو د ـ ډېره وخته

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لیدلی نه وو نو موبر د ۔ ده کهه اۋ یو ثلور کوره نور ثبّه لوان په دغه کال په ژمی په کهه جوکمابات (جیکب آباد) له ولار چیری چی دے اوسیده ۔ هلته د ۔ بلوچیستان کانپره نس غرو بناغلی غولام کاده ر وکیل چی ژمور منبه ر سکته ر وو اۋ بناغلی غولام سرور موغول راله د ۔ کورنو بندوبست کری وو ۔

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د ـ ایدارابات غوٌه نڼه

د ـ دیسمبر په اوسترۍ هوته کی زه اوٌ مںبه ر وٌروړ می د ـ جوکماباته روان سوٌ اوٌ نوړ ډېر غړی د ـ بلوچیستانه راغله چی سٌمایه ل جان اوٌ مامد سلیم هه م پکٌښی ووٌ اوٌ تهول پوړ وخت د ـ ایدارابات (حیدرآباد ) غوڼڼی له پوړ وخت هلته ورسېدو ډ ـ غوڼڼی د ـ هر کلی جرګی د ـ پلو جرګی (ډیسټریکټ بورډ) په ډاك بنګله کی د ـ مېلمنوٌ د ـ اوسېدوٌ اوٌ غوڼڼی ډېر ښه سریښته کړی وه ـ څه وخت پس ښاغلی نواب مګسی هه م را ورسېدی نوړ هه م ډېر غړی د ـ کلاته د ـ بلوچیستانه د ـ کراچی ـ سیند اوٌ پنجابه راغلی ووٌ ـ ځینی پکښی سرکاری نوکران ژیاتره د ـ وړوٌ ښووه نځوٌ (پرائمری سکول ) اوستادان ووٌ ـ د ـ پنجابه د ـ لاهوړ د ـ بېلوٌ پوهه نځوٌ (کالیجز ) د ـ شاګردانوٌ یوه تهولی د ـ ښاغلی نواب زاده میر ماموت خان لغاری په مشری کی راغلی وه ـ هغوی د ـ غوڼڼی د ـ کاره سره د ـ بلوچیستان اوٌ تهول



Scanned with CamScanner

هیند ـ د بلوڅو شاګه ردانو د ـ ډلی (بلوچیستان اینډ آل انډیا بلوچ
سټوډینټس کانفرنس ) لپاره څه بسپنه هه م ټوله کړله ـ دغه ډله په
لاهور کی د ـ بلوچیستان اؤ د ـ هیند د ـ بلوڅی هولکو کام دوسته
شاګه ردانو په لاهور کی زموږ د ـ جیکومبات د ـ غونډی د ـ ایله
جارو (رضاکارو) د ـ مشه ر ښاغلی مورید هوسین مکسی پهکوښهښ
جوړه سوې وه چی د ـ پوهنځو د ـ شاګیردانو د ـ نورو کارو سره
د ـ اړو اؤناچارو غړو د ـ کومك لپاره بېږ په نګه هه م غونډوله د
ـ پنجاب زیاتره بلوڅو مشرانو اؤ سردارانو به کومك اؤ ډاډ وورکاوه ـ
لکه نواب سر مامد جمال خان لغاری ـ نواب موشتاك احمد ګورمانی
اؤ ښاغلی کلندر الی خان وکیل ـ په دغه کالې مشه ر (صدر ) د ـ
نواب لغاری زوې میر ماموت خان وو ـ دغه ښاغلی اوس هه م ستّه
ـ زیاتره د ـ پنجاب اؤ ښیا د ـ یونیټ د ـ اسمبلی غړی وی یو څه ل
ډوه لا پکښی وزیر هه م وو د ـ غونډی مشه ر ښیا هه م د ـ خیرپور
نواب وو څو هغه ښیا هه م راغی نه په ځاے یه د ـ سیند اوځار کامی
مشه ر میر غولام الی تالپور سپین ږیری پلار میر هوسین بخش

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ٹالپوڑ مشه ر وتاکه سو ـ د ـ هرکلی د ـ جرگہے مشه ر اوڅار میر بنده الی خان ٹالپوڑ وو نوڑ هه م د ـ سیند غٹ غٹ بلوڅان راغلی وو ـ اوٗ ڈیره ڈرنه غوٚه نڈه وسوله ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# ناوړه پیښه

ته ر غونډه څو ګانټې وړاندی زه ښاغلی میر یوسه پ الی خان چی دغه وخت د ـ مګسی تومن اؤ هولکې سرکاری سردار وو زه وبلله م اؤ د ـ کلات د ـ پولټیکل ایجه نټ یو سرکاری ختې راکی چی دوے ته دغه وخت د ـ سړی په لاس رسېدلی وو ـ په خت کی هغه پرنګی ده ته په سرکاری توګه لیکلی وو چی " ته به په غونډه کی ګډون نه کوې اؤ ترے روانیږے به " د ـ لږو خبرو پس مونږ دا پریکړه وکړله چی که څه روزی وړاندی واے لا خیر اوس چی دے ده لته راغلی دی دا وړ نه ده ـ بیا مو نهر د ـ بلوچیستان مله هه م راوبله ل اؤ په ټولو مو دا خوښه کړله اؤ هه م دغه جواب ورکوه ل سو ـ په غونډه کی د ـ نوړو ګڼو پریکړو سره د ـ بلوچیستان د ـ ګډی پور غوښتو دا پریکړه هه م وسوله چی د ـ غونډی (کانپره نس )سرینته دی د ـ خپه ل واکه ولاتو شراکت (فیډره ل ) وی اؤ په هر ولات کی دی یو خپه ل واکه ښاخ وی ـ ګوا

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په بلوچیستان کی به د ـ دې اولسی (سیاسی ) ډلی ځپه ل واکه ښاخ جوړېده ـ بله پرېکړه زما پوړ غوښتو دا وسوله چی د ـ غونډی (کانپره نس) تړون دی د ـ ټول هیند د ـ موسلمانانو د ـ ډلی (آل انډیا موسلیم کانپره نس ) سره وسی اؤ زه (اوډول سمد ) دی په دې هکله د ـ هغی ډلی د ـ مشرانو سره خبری وکی چی دا ترې ښکاری چی ما اؤ زموږ د ـ ټولو ملو د ـ لومړی سره لا د ـ هیند د ـ موسلمانانو شراکت غوه ښت اؤ موږ د ـ هغوے غلیمان اؤ د ـ هیندوانو بالکیان (ابجنټان) نه وو لکه چی وروسته په موږ پوری وتړه ل سو ـ د ـ ډلی لپاره څه په نکه هه م غونډه سوله نیژدے شپږ زره روپی وے چی ښاغلی میر بندھ الی خان ته مو ورکړلے چی د ـ وراندی کال لپاره مالی سکته ر وتاکه ل سو ـ خو ټیا د ـ دغی په نکی په درك پوھ نه سولو چی څه سوله ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# د ـ ښاغلي شيخ اوُدول مجيد جرګه

غونډې له په نوروٍ بهرنوٍ ميلمنوٍ کي ښاغلي اوُدول مجيد سيندي هم
راغلي وو ـ هغوٍ چي په غونډه کي د ـ بلوڅانوٍ په هکله ويناوي اوٌ د
ـ سيند د ـ بلوڅانوٍ غتانوٍ جوش ليدلي وو ـ نو ما اوٌ ښاغلي يوسه پ
الي خان ته يو پيغام اوٌ کيله د ـ چا په خوله را ليږلې وه چي د ـ دې
ډلي پاے به د ـ سيند د ـ موسلمانانوٍ تاوان وي ولي چي سيند اوس د
ـ بمبي نه را بيل سو اوٌ ژه ر به دلته چوڼ کيږي که په دې چوڼ کي د ـ
سيند موسلمانان په بيلو ډلو کي ووېشه ل سو ـ نو هيندوان چي په
شمېر له ږ دي هغوے به دا وار پيدا کي چي کله د ـ موسلمانانوٍ د ـ
يوې ډلي مل کري سي اوٌ کله د ـ بلي اوٌدا شان به د ـ ځينوٍ
موسلمانانوٍ په مرِه سته پور سيند هيندوان باچهي کوي ـ هغه سړي دا
پيغام موږ ته د ـ سيند د ـ ځينوٍ بلوڅانوٍ مشرانوٍ په مه خ کي
راورساوه ـ اوٌ هغوے په دې ډيره خوابده کړله-وې " په سيند کي د ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

موسلمانانو ډېرې بلوڅ دي ـ مځکه هم زیاتره د ـ بلوڅو په لاس کې
ده ـ خو بلوڅان ډېر نتلي ـ په لوستو کې پاته په نوکرو کې بېې برخې
په سوداګرې ناخبره دي ـ اؤ د ـ سیند هیندوان اؤ ځیني کم شمېره
موسلمانان تیپې یه په ګڼه لوټي اؤ زیاتې باندي کوي ـ د ـ هیندوانو
سېوا یه سیدان د ـ پیري پور نامه شکوي اؤ مېمنان یه د ـ سوداګرې
په رنګ کې ـ ځکه دوې ډول دا نه غواړې چې بلوڅان یو سي اؤ ژوه ند
پکښې پیدا سي ـ خو موږ وورته وویه ل چې د ـ ښاغلي شېخ اؤ د ـ
دوې د ـ مل ګرو سره خبرې کوه ل پکار دي اؤ په دې یه پوهوه ل په
کار دي چې زموږ مراد ځپه له ودانې ده د ـ چا تاوان مو مراد نه دی
نوړو ودانو خلګو له زموږ د ـ خوار اوله س په خسمانه اؤ ویښولو کې
د ـ موږ سره کومك په کار دی ـ نو سبا له ښاغلي میر بنده الي خان
موږ دواړه ښاغلي شېخ اؤ یو تن ډوه نور سیندیان اؤ څو تنه بلوڅان
د ـ روژه ماته پس مېلمانه کړلو ـ هلته مو د ـ سیند د ـ اولسي
(سیاسي ) ډلو اؤ اولسي کارو په هکله ډېرې خبرې وکړلې ـ اؤ د ـ
سیند د ـ موسلمانانو په دې بده روز خبر سولو چې نه څه اولسي ډله



Scanned with CamScanner

لري نه يو ښه اخبار سته ـ بس ټوله اولسي کاره د ـ يو څو تنو غټو
زميندارانو ـ پيرانو او سېټانو په لاس کي دي او هغه هم ټول د ـ
انګرېزي سرکار سره تړلي او د ـ هغو خوشامندګه ر دي ـ ښاغلي شېخ
او د ـ هغوے مل ګرو د ـ سيند په دے غټانو بلوڅانو کي رے نه
واهه ـ ته ل بېے ما او ښاغلي يوسه پ الي خان ته وې چي تاسي په
موږ کي دا نوے ډله جوړوي چي په پاے کي به موږ ته تاوان رسوي
که موږ ډېر ووړته ووېه ل چي داسي به نه کېږي خو د ـ هغوے بروسه
نه کېدله ـ په پاے کي مو خبره پوره دے پرېښوله چي د ـ غونډي پس
به زه او ښاغلي سردار يوسه پ الي خان کراچي ته ځو او هلته به د ـ
سېټ اوډولا هارون او نورو سيندي مشرانو سره خبري کوو ـ
په غوه نه کي چي ما د ـ بلوچيستان په هکله کمه وينا وکړله ځکه
چي هغه زياتره پوره انګرېزي سرکار نيوکي وه او د ـ بلوچيستان د ـ
پريوتي او بدي روزي پېلامه مي د ـ انګرېز رو (پاليسي) ښوولې وه
او دغه وخت په هيند کي د ـ انګرېز سره د ـ کانګريس جنګ روان ووټو
هغه د ـ سيند کام دوسته خلګو او اخبارو ډېره خوښه کړه او ښه چاپ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سوے وه ـ دا اخبارونه ژیاتره د ـ هیندوانو پارسیانو اؤ نورو ناموسلمانه خلګو وو ـ لیکوال اؤ خبریالے ژیاتره هیندوان وو هغوے به ماله راتله پور بلوچیستان اؤ د ـ سیند اؤ هیند په اولسی کارو کی بیے راسره خبری کولے ـ په دوے کی یو ځوان سورت سینګ ژموږ اؤ د ـ بناغلی شیخ اوډول مجید دوے په مرکه خبر سوی وو اؤ په دے هه م چی موږ به کراچی له ځو هغه دا خبر هه م لیږلی وو ـ اؤ دا شان ژموږ ته ر رسیدو وړاندی د ـ کراچی په اخبارو اؤ کام دوسته خلګو کی ژموږ په هکله څه خبرتیا پیدا سوے وه د ـ غونډی پس ژموږ ډیر مل ګرو وے چی موږ هه م کراچی له ځو ـ چی ته ر دے راغلی یو نو د ـ کراچی سیل به هه م وکو ـ په دوے کی می دا بناغلی یاد دی اؤ څه لا نور هه م وو ـ اونکا ـ نسیم ـ نیزامی ـ سید لال مامد شا اؤمیر میټا خان مرے ـ دا اوستری ځلور سره سرکاری نوکران اؤ ماستران وو ـ بناغلی میر شاباز خان اؤ بناغلی سرداریوسه پ الی خان ځکه چی په مل ګرو کی مو ژیاتره بیے وسه وو په هوټلانو کی د ـ استوګنی وسے نه وو که څه هه م هغه وخت د ـ هوټل باړه ( کرایه ) هه م دووله س

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

آنے یا روپی پور سری د ۔ ژوزی وہ خو پہ موڑ کی زیاترو دا ھہ م نہ دہ رلوڑدہ۔ژما ھہ م دومری وس نہ وو چی د ۔ تہولو خرخ می کری واے ۔ بناغلی یوسہ پ الی خان پہ کلیپتہ ن کی بنگلہ نیولے وہ ھورے اوسیدہ ناجوڑہ سو پہ درمان لگیا وو ۔ بناغلی میر شاباز خان د ۔ چا خپہ لوانو کرہ اوسیدہ خو ما دا ور نہ بللہ چی د ۔ مل گرو بیل د ۔ مبوے د ۔ آرتیانو مبلمہ سہ م ۔ ځکہ د ۔ ھغوے سرہ پہ مولو ڈینا خیراتی سراے (مسافر خانہ ) ڈیرھ سوہ م ۔ چی د ۔ ھوتے لپارہ یہ ڈوے کوتے بیے بارے ویریا راکڑلے ۔ د ۔ روڑے میاشت وہ پہ مل گرو کی ما اؤ یوہ دوو نورو روژہ ھہ م نیولہ ۔ پہ ڈویمہ ژوز د ۔ بناغلی سردار یوسہ پ الی خان د ۔ ناجوڑی لہ مخی ما ۔ بناغلی میر شاباز خان اؤ بناغلی نسیم سیٹ اودولا ھارون ولید ڈیر خبری مو سرہ وکڑلے ھغہ وے چی زہ بہ میاشت دوے پس د ۔ تہول سیند اؤ بلوچیستان د ۔ مشرانو یوھ غونڈہ راغوارہ م ھلتہ بہ د ۔ بلوچیستان اؤ سیند پور تہولو خبرو رغیبرو اؤ دا یہ ھہ م راتہ وویہ ل چی کہ تاسی د ۔ کراچی ځینی مشران ھیندوان ۔ موسلمانان اؤ پارسیان لیدلی واے اؤ دلتہ مو یوھ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ګډه اولسي غونډه کړې واے چي په هغې کي د ـ بلوچیستان په هکله تاسي ویناوي کړي واے اؤ ښیا موږ دلته د ـ بلوچیستان د ـ کومك لپاره یوه جرګګۍ جوړه کړې واے نو به د ـ بلوچیستان د ـ خپه ل واکي خبره په ښه توګه اوچته سوې واے اؤ د ـ انګرېز سرکار لپاره به پوړ تاسي زوړ زیاتے ګران وو ـ که څه هم اوس چي د ـ انګرېز سره د ـ کانګریس جنګ روان دي دا کار څه ګران دي خو ښیا هم که د ـ کانګریس نه باهر کامي مشران هیمت وکي نو دا کار کېداے سي" هغه وختې د ـ ځینو موسلمانانو ـ پارسیانو هیندوانو مشرانو نومونه اؤ پتې راولیکلې چي لیده لې په کار وو ـ زموږ دا خبره ډېره خوښه سوله اؤ مُلا مو وترله ـ خو کار لکه چي موږ ګاڼه ته ر هغه ډېر زیات وو ـ اؤ ځکه ډېر ګران وو چي د ـ کراچي رنګه په لوے ښار کي د ـ ګڼو کسانو لیده ل ډېر ګران وي په زیاته ښیا ځکه چي موږ د ـ موټه ر خو پرېږده د ـ بس اؤ ټرام هومره پیسې هم نه ده رلوډې ـ زیاتره به پلي پسي ګه رزېدو ـ ښاغلي اونکا خو به د ـ روزي څه وخت خپه ل د ـ اخبار " البلوچ " کار کاوه اؤ هغه نورو مل ګرو به خپه ل په خوښه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سہل کاوہ اؤ بیّا خپّہ لوٚ نوٚکروٚ لہ ٚولاڑ خوٚ ښاغلیٚ میر شاباز خان ۔ ښاغلی نسیم د ۔ ما سرہ دہٚ کار تہ وجوڑیدہ تہولہ ٚزوز اؤ شّپہ تہ ر ڈیرہ بہ ٚکہ رزیدوٚ اؤ بیل خلکہ بہ موٚ لیدہ ۔ پہ لہ ر ٚروزی کی د ۔ کراچی شّپروٚ اوٚلسی وروٚ تہولکیوٚ (انجمنہا" پہ شریکہ یوھ غّونڑہ پہ خالیك ڈینا ھال کی را وغوښتلہ چی د ۔ بلوٚچیستان پہ ھکلہ ٚزما وینا واروی ۔ موٚڑ پہ کراچی کی دوٚمری بلد ھہ م نہ ووٚ اؤ نہ موٚ ٚزیاترہ ھغہ خلکہ پیژاندہ چی لیدہ بہ موٚ ۔ پہ دہٚ کار کی د ۔ ھغہ ځاے ځینوٚ خلکوٚ ڈیر کوٚمك راکیٚ۔پہ دوٚے کی یو ښاغلیٚ موٚجتبا ووٚ چی یو یتیم ھلك ووٚ۔ښاغلی سیٹھ اؤدوٚلا ھاروٚن لوٚے کڑیٚ ووٚ ۔ ښہ ٚلوہ ستیٚ اؤ کام دوٚستہ ځوان ووٚ ۔ بہ ل ښاغلیٚ اے ۔ کے ۔ جانگیانی یو ھیندوٚ خبریال ( نامہ نگار ) ووٚ ۔ اؤ بہ ل ښاغلیٚ مولوی نوٚروٚالھك د ۔ پیښوہ ر د ۔ ایسلامی پوٚھنځی (اسلامیہ کالج پیښوہ ر ) اوٚسنے ڈین ووٚ چی د ۔ ښاغلی جام میر ۔نوٚروٚلا خان د ۔ پیژاندگلوی لہ مخی ښاغلی میر شاباز خان پیژاند اؤ کہ موٚجتبا موٚ پیژاندگلوی سرہ وکڑلہ ۔ ښاغلیٚ جانگیانی د ۔ ایدرابات سوٚرت سینگ خبر کڑیٚ ووٚ ۔ دے پہ کراچی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کی د ـ مدراس ـ بمبی اؤ ډیلی د ـ لوېو انګرېزی اخبارو خبریال وو ډېر ځواخوږی ـ خواری کښ ـ پوه اؤ کام دوسته سړے وو ـ د ـ کراچی په کام دوسته خلکو اؤ اخبارو کښے ډېره ښه پېژاندګلوی اؤ مه خ ده رلود ـ ځمونږ په کار اؤ زما د ـ خان اؤ د ـ بلوچیستان د ـ کامی کار په پړے پېژانده کښے دغه وخت هه م اؤ وړاندی هه م ډېر کومك راسره وکی ـ د ـ هیند د ـ وېشه پس هیند ته ولاړ څه وخت د ـ ډیلی د ـ هندوستان ټائمز اخبار چلوونکی هه م وو بیا په بمبی کی وو اوس خبر نه یه م چی چیرته اؤ څنګه دی خو هر چېری چی وی خوداے دے خوښ خوشاله لری ـ دغه سړی دغه وخت خپه ل په باهرنو اخبارو کی هه م اؤ د ـ کراچی په اخبارو کی هه م ځمونږ د ـ کار ډېره پړے پېژانده وکړله ـ دے د ـ کوټی د ـ زلزلے پس خپه لو اخبارو د ـ زلزلے د ـ خبرو له پاره کوټی ته رالېږلی وو ـ اؤ بیا زما پوړ وینا هلته پاته سو ـ په کال ۱۹٤۲ کی د ـ هیند د ـ آزادی په جنګ کی زما ټه ر نیولو وروسته هه م د ـ دغه کار له پاره خپه ل ولات سیند له تللی وو اؤ هلته د ـ کانګریس د ـ یو ډیکټېر (تهرل واك) په توګه جېل له تللی وو ـ د ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کراچي د ـ دغې دورې په وخت هـ م ده په لومړی ځه ل ځما د ـ نامه سره "بلوچیستان ګاندی" ځیات کې چې وړوسته ډېر ځیات اوخار سو دوستانو به د ـ ستاینني په توګه په دې نامه بلله م اؤ دوښمنانو به د ـ ښکنځلو په توګه ـ

دغه وخت د ـ کراچي کانګریسی مشران په جېلو کی وو ـ اؤ ځیني سوداګه ر مشران چې د ـ باندې وو هغوې ته ر آرډیننس لاندې په بنده ښتو اخته اؤ کوږ ناست وو ـ څوکې په ډېرو اؤ ډرنو جورمانو داسې بېرولې وو چې هیڅ اولسی کار له نیژدې هـ م نه ووړتله ـ ځکه ځموږ د ـ غونډی کار تول د ـ هغو خلګو په لاس کی وو چې کانګرېسیان نه وو ـ په دې هکله سېټ هاجی اوډولا هارون چې ښیا د ـ غونډی مشه ر (صدر) هـ م وو ـ ښاغلی پارسی مشه ر جمشید نسیروانجی ـ ښاغلی هاتیم الوی ـ ښاعلی جېټ مه ل پرسرام اؤ نورو ګڼو خواخوږو ډېر کار اؤ کومک وکې ـ

چې د ـ غونډی پرېکړه وسوله اؤ د ـ شپږو تولیو مشرانو غونډه را

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وغوښتله.یوه هوته ۍراندی "خبر ښیری" ( هینډ بیلز ) چاپ سو نو هم
موږ دا کار روان وساته چی د ـ کراچی مشران وینو اؤ هغوے په
بلوچیستان خبر وو اؤ غوڼهی لیے رابولو ـ د ـ ژوزی به یو څه ل ډوه
کله پیادهٔ اؤ کله په بس کی د ـ ښاغلی یوسه پ تپوس له په کار
خبرولو اؤ ساتهری له تلو کلیپته ن ته اؤ نور وخت به مونامتو سری
وبنیی اؤ وده ورکی ـ د ـ دهې په مه خ هغه کار وړ چی
لاندی له بر
روِه (صوبه سرحد) پښتنوِ خواخوږوِ له ته ر انګرېزانوِ
سرکار په
پوِتهې واك په لاس ورغیِ نوِ د ـ ډاکتهر خان د ـ کانګریسی
زدکړه په تهړوِن
تهوِلوِ جبلوِنوِ کی د ـ هر بندی لپاره څه نه څه لوِه ست اؤ
دینی زدکړه
(لازمی) کړله که د ـ چا نوِر لوه ست پوِره وی هغه به
کنی اوِردوِ
کوی کهې اوِردوِ اؤ انګرېزی زده وی پښتوِ اؤ تازی به وایی ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اوُ انگرېزی به ڵولی ـ اوۡ دې لې په هر سٚته ر (سنټرل) جېل کی یو خان له وړوکی سوپرډه نټ د ـ پوهنی لگولی دی چی د ـ نوکرانو اوۡ بندیانو اوستادانو په مٚره سته ټول بندیان لٚولی ته ر ننه لا هه م ا سرېښته چلېږی چی د ـ پاکیستان په به ل یوه جېل کی لا نسته ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# انګرېزي زدکړه

چې د ـ سرکاره مې هيله وختله نو يو وخت هسې ناست ناست مې
پام سو چې ولي د ـ خوداے پاك د ـ مځکې اؤ کاڼو څه د ـ سلېټ او
پينسيل کار وانه خلې پس دستي مې خپل لوه ست دا شان پېل کړه چې
سرکاري انګرېزي کيتاب ناوه ل ماوه ل به مې کوت اؤ هر ګران ـ نوي
او نابلده توري چې به مې مخې له راغې هغه به مې په خپله چيمبر
ژه ب توپني (لغت يا ډيکشنري) کې چې ښاغلې جام نورولا خان د ـ
بوري څه چېرې چې دے ورورکې تاسيلدار وو د ـ پښين جېل له رالېږلې
وه اؤ ته ر اوسه لا د ـ هغه ښاغلې د ـ نخښې په توکه را سره ده
وکوت اؤ په کاپي به مې پور مځکه پينځه ځله وليکې چې ايزګي يا
پېژمه ـ(سپيلينګ) به مې ياد سو بيا به مې پينځه خبري داسي
جوړي کړلې اؤ پور مځکه به مې وليکلې چې مراد به مې په ياد کې
ټينګ سو ـ ځکه چې زما انګرېزي توري مه خ له له ږ زده وو نو په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سر کی خو به د ـ جېبی ناوه ل په یوه یوه مه خ کی لس یا ځیات تړری
نوی پیښېده نو په یو وخت به می په متهی (بمشکل) یو مه خ پوخ
کی ـ اؤ په لیکلو به ښتړی سوه م نو ښیا به می هه م بېکاری‌نه کوله
لوسته ل به می پېل کړه ـ خو په دے کی ګرانه دا وه چی د ـ ځوزی خو
مځکه وه د ـ ښپېے مځکه نه وه د ـ کوټهے نس په سیمټ پوخ اؤ
دېوالوںے د ـ پخو خه بنتو وو اؤ د ـ جېل ښپه خو ډېره اوږده وی اؤ
ښیا هغه وخت پوره ځلور بجے چی لمر به لوه ر ولاړ وو ـ ماځیګر
لمونځ به لا نه وو سوی چی ډوډی به راکړله اؤ پوره ځلور نیمی بجے ور
راپسی جندره کی اؤ سهار بجے ښیا پوره پینځه ښپږ بجے لمانځه وخت
پړانه ست ـ نو د ـ جېل د ـ وړی لنډه ښپه هه م دووله س ډیارله س
ګانتهے وه چی بجے کاره نه تېرېدله ـ د ـ ژمی خوبه لا نوره هه م اوږده
وه خو څه ځوزی پس می دے ته پام سو چی د ـ کوټهے دېوالونه به دوے
د ـ لاندی خوا هر ایتوار ډرے پله (فټ) ـ هومری په خاوره لېږ(که‌ل)
کاوه چی ناپوهه بندیانو به توکانی اؤ خراشکی یا ناړی اوګډه نک
باندی اچوه ل ګنده کېده به پوره دے لېوښه په اسانه اؤ ډېر لیك

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کېداے سوړ خو ګرانه دا وه چې ما دا نه غوښته ل چې د ـ جبل پرنګے زما دا نوي سلېټ ووینی ولی دا باور می نه وو چې دے بېړے را باندی بند نه کی ځکه دے ته زه ړغے وه م چې لیکلی به بیا ورانوے ځنګه چې پرنګے یه ونه وینی خو د ـ ازمودے پس می دا زده سو چې پوړ لیکلی باندی څه اوبه وپاشے اؤ بیرته لیوکے نو وره ك سی ـ بس بیا خو کار اسانه سو ډوه مخه انګرېزی کیتاب یا زیات یا کم شه ل توری اؤ سه ل خبری (فقرے ) به می په ډوه ګښته د ـ روزی لیکلے اؤ دومری به می د ـ شپېے لیکلے د ـ کیتاب یوه سریځه (عنوان ) چې به می دا شان زده کړله نو دستی به می په ځان ازموینه (امتحان ) وکړله داسی چې هغه به می بیا دے له ولوستله چې ګران توری می یلا سوی دی که نه ـ که م چې به می نه وو یاد هغه به می یو وار بیا هغه شان پاخه کړه ل اؤ چې کیتاب به می ووایه هغه به می یو وار بیا د ـ ازموینی لپاره لوه ست ـ د ـ شپېے به په وورې د ـ ګرمی اؤ په ژمی له یخه خوب نه راته ځکه به په وورې ته ر یوے ډوو بجو ویښ وه م څه به شپه سره سولہ اؤ څه به زه په لیك اؤ لوه ست ستری سوه م نو به

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خوب راغیٔ اوده به سّوه م پاته خوب به می د ـ ژوزی پوړه کیٔ دا
شان به خوب هه م ښه کېده اوّ زه به هه م په ڎوه ځله خوب دمه وه م
ـ په ژمی چی کله به د ـ ښپیے یخ راویښ کړه م نو به راپاڅیده م کار به
می پیل کیٔ چی ستړیٔ به سّوه م بیا به می سر ولګاوه اوٗ بیا د ـ
ژوزی چی لمر به وړ پیتاویٔ ته کنیٔ دننه به می یو دم ږوړه ولګوله ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د ـ پرنګی ښیګړے

په سر کی می زړه وو چی د ـ روژے څخه ځه دمه اوْ په وینه سه م نو
به د ـ کلاس کوښه ښں اوْ جنګ پېل کوه م خو دے لیك زدکړی لوه
ستو اوْ اخته ژوه ند دومری خوند راکی چی هغه چورت می ایله کی ـ
سرے د ـ کاره باندی وزے د ـ جېل په ژوه ند کی له هیڅه نه وه م په
زاوال په سادھ خورو ـ جامو اوْ بیسترھ بند نه وه م نه می د ـ کټ اوْ
کورسی پروا لرله خو د ـ ډرو څلورو ځیزونو می بد راتله یوْ دا چی د ـ
شپیے د ـ اوْدس مات سریښته ډېره ګندھ وه اوْ ته ر اوسه لا هه م دا
شان دھ ـ دریمه ونکی (کلاس ) بندیان اوْ کله کله اوچتی ونکی
(کلاس)بندیان هه م که په بارك کی وی اوْ که په چکی ځان له کوټه
کی دے ته ناچاره وی چی د ـ شپیے به په هغه کوټه کی اوْدس مات
کوی چېری چی اوسی لمونځ کوی ـ ډوډی ـ خوری اوْ بیدېږی ـ په ډېرو
کمو جېلو کی د ـ دے لپاره بېل اوْ بند ځاے وی زیاتره خو بند کموه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هه م نه وی ـ خو ماته ر وسه د ـ دې نه ځان ساتلی دی ـ کله خو د ـ
جېل واك والان داسی ځاے راکی چی د ـ اوُدس ماتی بېل بند ځاے
وورسره وی ـ کله می د ـ شپېے نه بندوی لکه په کراچی هری پوړ اوُ
کوّټه کی اوُ کله می ډېر ناوخته پوړ نه لس بجے بند کی اوُ سهار پوړ
ډرې څلوړ بجے ور راته لری کی لکه په مچ کی ـ خو هغه وخت څو
مّیاشتی دا نه وه نو ما به د ـ غرمے پس خوّاړه اوُ اوبه بند کړه ل نو د
ـ شپېے به اړی نه پېښېدله ـ به ل د ـ باجیرینی پیّاڅی می بد راتّله ته
ر پایه می نسوه خوّړلاے ـ هغه درمانی را باندی بنده کړې وه ځکه چی
زه په سر کی په روږه تپ سوی وه م اوُ بیّا به پرنګی هسی راکوله ـ
ډریه م شے تلاشی وه چی زمّا ډېره کمه سوې ده ـ ځکه می وخت بنه
تېریده اوُ د ـ اوچتی ګوزارې ( بهتر کلاس ) چوړت می پږېښوو ـ په
دې مّیان کی د ـ جېلو سّته ر واك وال (انسپکټر جنرل ) راغی هغه
ته می ډوه ناله بنته وکړه ل یو د ـ یوازی والی چی زه یوازی ډېر تنګ
یه م ما د ـ نوړو بندیانو سره واچوی دا می لغه ږ دې له وکی چی
هسی نه چی دوے په دې پوړ [illegible] چی دے یوازی خوّبن دی اوُ د ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

نورو بندیانو سره مي واچوي او به ل د ـ خوراك چیښاك د ـ لوښو چي
د ـ لغړي اوسپيني ډوې د ـ ترازو پلې شانته تالي وې ـ اوبو يا خوړو به
سم دستي زنګ پکښې وکړه ل ـ که څه هم درمانيانو ويه ل او وايي
چي د ـ اوسپيني زنګ تاوان خو پرېږده سړي له ګټه لري خو د ـ پښتو
متل دی چي وايي "شکوڼ که هلال وي رنګې د ـ موردار دی ـ" زما
د ـ دغه لوښو نه ته ل بد راتله د ـ يوازې والي په هکله خو زمالاس
وړونيو او خپه ل لاسې راوړاندي کې وې " ګوره ستا لاس زما ته ر
دې لا هم ډېر نازك دی نور بنديان سخت کاروڼه کوي زه نه غواړم
چي ته هم هغه کوې او نې کولاې سې تاله دا ځاې بنه دی " ما وې
" دلته خو نور هم لوه ستي او نازك بنديان ستته د ـ هغوې سره مي.
واچوي ـ وې خنده ل خو برغېې ونه کې او د ـ لوښو وې چي تاته خو د ـ
درمانتوڼ د ـ کوټو لوښي ده ر کړي دی نور څنګه لوښي غواړې ؟"
ما وې " دا خو د ـ بنديانو ته ر دې ښشکه چي څه بنه دي خو د ـ
درمانتوڼ دی او زه اوس جوړ يه م چي دا يوسې بيا ؟" وې " نو څنګه
لوښي غواړې " ما وې " که چيني او د ـ ښيښې نه وي نو پيتلي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

(اینامله) پلیټهونه اؤ گیلاس خو په کار دی " وے " گورو به " څه
وخته پس نی چی څنګه د ـ جبل پرنګی ماله ټله راټله پیل کړه ل ګنتهه
ڈوے به راسره ګه رزیده ـ بنه پوھ اؤ جوړ سړے وو لکه ژیاتره انګریزان
چی خپه ل په ځانی ژوه ند کی وو ـ د ـ هر څه نه سیوا یه ژموږ د ـ
کامی ژوه ند اؤ کام ولی نه بده ګنله اؤ نیے په سپکه وورته کاته ډیر
نیغ اؤ روښتونی سړے وو له ماه سره د ـ ده د ـ دے ناستی پاستی یوھ
پیلامه دا هه م وه چی د ـ ده خپه ل د ـ وروو اؤسرانو سره نالګی وه ـ
هغوے د ـ بناغلی ایکرام الی په مشری کی ډله وورته جوړه کړے وه
اؤ په پاے کے دے لزی کی اؤ بناغلی شیخ یه په ځاے سوپه رډینټ
سوپه دغه وخت کی ما خپه ل په ځاے کی څه ګولان هه م وکره ل بنه
می سات په تیر وو ـ پرنګی راته هغه لوبنی یو غاب (پلیټ) یوھ
پیالی د ـ تام چینی په خپله خوبنه راکړه ل وے کے ماته څه ویه ل ټیا
بیے ګورو اؤ بلے دا وکړه چی مابنام بیے ګانتهه ڈوے ناوخته بندوله م اؤ
سهار بیے ګانتهے ڈوے وختی پرانستله م ـ به ل د ـ ده په خبرو می
انګریزی بنه کیدله ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د ـ یوه ناڵوه ستی ڵولوه ل

هه م په دې وخت کی وزیر خان نومېده یو کېتراڼ نمبردار راله راغی چی د ـ ڵوه ستو سرې ډېره مینه لرله اوردو ژبه یه په جېل کی زڎه کړې وه اؤ د ـ خوداے کیتاب په توروِ ڵوه ستی وو ـ ماته بېے وې چی ماته د ـ خوداے د ـ کیتاب مڕاد (ترجمه ) ووایه ـ ما وې ته هه م لکه نورِ نمبرداران یوه مِیاشت به دلې یېے اؤ دا کار اوِرد دی که دی خُوښه وه زه به اوِردو ڵوه ست ده ر زڎه که م چی بْیا یه وُروِ وُروِ په جېل کی هر ځاے ویلاے سې اؤ چی اوِردو ڵوه ست زڎه کې نو بْیا به د ـ خوداے د ـ کیتاب مُراد اؤ توسیر په اوِردو ڵوڼې چی ډېر چاپ سوی دی د ـ سړی ښه خُوښه وه خو ګڕانه دا وه چی دا باورې نه راته چی زه ڵوه ست زڎه کولاےسه م دا یه پوخ باور وو چی ڵوه ست زڎه کوه ل ډېر اوِرد اؤ د ـ کلو کار دی اؤ په وُړوك والی کېداے سی زاړه توتیان خبری نه زڎه کوی ـ خو په له ږ ڒوزی کی تیار سو اؤ په جېل کې د ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چا نه یو اوږدو کیتاب راوی - چی د - ده ږ - لوه ستوګه رسره نه وو
خو ما وہے څه ګومان بہے وی چی زه کیتاب لوله م اؤ ما ده ته هه م د
- مځکی پوړ خودایی سلېټ ځپه ل په توګه لیك اؤ لوه ست یو ځاے
ژده کوه ل پېل کړه ل - ټکی (حروف) ده پېژانده د - هغو بړغ جوړه
بنت اؤ د - نوړو ټکو (حروف) سره تړون ما ووړبنوو اؤ ده به پخوه ل
اوزګار هه م وو اؤ خواری کښ هه م هر روز بہے ډېر کار وکی - زما د -
بنوولو چل دا وو چی په سر کی می د - لګه بنت یا جوړه بنت له
مخی د - ټکو (حروف) ډلی یا کوړنی ووړژده کړے لکه دا چی ب -
ت - ټ - ث - ن اؤ ی - یوه ډله ده اؤ ج - چ - ح - خ - بله اوداسی
نوری - د - ټولو ټکو سره د - اے (الف) لګه بنت ووروبنوو - لکه م ا
- ما - ب ا - با - ن ا - نا - ك ا - کا - ل ا - لا د ا - دا - چ ا - چا -
ډریه م لوه ست می د - دې ټکو په غبرګون (بړغون) د - مراد (
بامعنی) توری ووړته جوړ کړه ل لکه ماما - بابا - نانا - کاکا - دادا
- چاچا - په دې د - هغه زړه ډېر غټ سو چی زه خو لوه ست زده
کولاے سه م - بیا می د-دغو سره د - ډرو ټکو اسانه توری ووروبنوول

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لکه بات ـ سات ـ کام ـ مال ـ زار ـ سال ـ چال ـ خان ـ مار ـ تار اؤ
ښیا می د ـ دے څه ځینی خبری وورته جوړی اؤ په جوړی کړے لکه
ماما کا کام ـ بازار کا حال ـ خان کا تار ـ سات بار د ـ دے پس چی
دا یه ښه وه ژړه ته ولوښده چی لوه ست زده کولاے سه م ـ د ـ کاره
سرے دوړمری مینه پیدا سوله چی زه تړے تنګ سوه م ـ د ـ خپله
کارے بیے ایسته م په خپه ل کیتاب کی به لګیا وو چی بلد توری بیے
پیدا کی په مه نوه به ماله راغی چی دا توری " مال" اؤ دا " بات "
دی که نه ؟ دا شانے په میاشت کی ډیر توری وپیژانده د ـ میاشتی
پس چیے بدلاوه ده جمادار ته څه مینت زاری وکړله چی ما مه بدلوه
زه دلیے خوشاله یه م خپه ل لمونځ اؤدس کوه م اؤ خوداے یادوه م د ـ
لوه ستو چا ویلاے سو ـ بله میاشت هه م دلیے سو اؤ ښه روان سو ـ ښیا
چیے بدلی راغله ډیر خوابدی وو ـ خو وے چی دا څه ل که می وورته
وویه ل چی مه می بدلوی هسی نه چی نوړ شکیے رانه سی ـ دا میاشت
به ولاړ سه م بله میاشت به ښیا راسه م ـ چی ته ما وورته وویه ل چی
باهر به د ـ چا نه لوه ست نه کوے ګومان می وو چی که یو څه ل دا لار

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ټرې پاته شوله اؤ په رښه اموخته شو نو کار به ګران سي - ده وې ولې به لوه ست نه کوه م ؟ ما وې " په جېل کې بنه لوه ستې سړے نسته خوشې به چپ رپ تورې زده کړې اؤ دا کړې خوارې به دې هه م ګار سي "

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# بلوڇی ژبه

ماله نوی نمبردار د - ډېرهغازی خان بوزدار بلوڅ راغی چی کاده ر
بخبں نومیده - ګومان می سو چی بلوڇی ژبه جینی ژدھ که م - د -
لومړی ژوزی می وورته وویه ل چی ما سره به بېے بلوڇی ژبی به ل څه
نه وایېے که زه پوهیږه م کۀ نه چی نه سه م پوھ نو به تپوس ده ر نه
کوه م - دا شان ډرېے هڅتېۓ پس په بلوڇی کی ښه روان ښوه م اؤ ښیا می
ږراندی هه م د - خلګو سره ویله اؤ تپوسونه به می کوه ل چی اوس می
ښه ژدھ ده څه وخت پس میستهه ر تهاون سن بدل سو په ځاے یه ښیا د -
مچ هغه پخوانے پرنګے میستهه ر ریلېے راغی چی ولایت له پور چوتی
تللی وو - تهاون سن په بدلی خوښ نه وو څه کوښه ښېے هه م وکی اؤ
مه نڼهٔ ووهلېے خو پاته نه سو-وېے داسی راته ښکاری چی په ولایت کی
څوك د - پارلیمنټ غړی د - ریلېے کومك کوی - دا نوی پرنګے هه م
درمانی (ډاکټر) وو -

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وزیر خان چی به ل څه ل راغی، ما ته ر دغه وخته دے په ډېر نه وو
خبر کړی چه زه د ـ لوه ستو سره تاته لیك هه م بنیه م اوس چی می
خبر کی بیا وار ختا سو چی دا چیری کیداے سی خو ما ډاډ ورکی اؤ
په کار می لګیا کی دا شان د ه له ما سره په واری واری ـــــ شپږ
میاشتی تېری کړې ـ اؤ لیك اؤ لوه ست یه د ـ ګوزارې هومره زده
کړه ل په اوستری میاشت چی ما وورته ووې چی ته دا څه ل کور ته
خت خپله ولیکه په مونشی یه مه لیکه ډېر هك پك اؤ وار ختا سو چی
زما خت چیری رسېداے سی هسی به می کاره تې تاوان سی اؤ چی
وې لیکه هه مے خو خو څله ماته اؤ د ـ جبل مونشی ته بنکاره کی
چی سم دی که نه ـ په هیڅ توګه یه باور نه کېده چی کنی زه هه م خت
لیکلاے سه م اؤ په کمه زوز چپے د ـ خت جواب وورله راغی زه به څه
ووایه م چی خومره خوشاله وو ـ په تهپوڼو ماله راغی وې " خان زما
د ـ خت جواب راغلی دی " چی ما هر څه وس وکی چی په آرام سی
اؤ خت ولولی هسی نه چی د ـ خوشالی مه ړ سی خو ده دغه خبره
کوله تهپونے وهه ل اؤ ګرېده چی ستری سو نو کښېنوست ختے وایه بیا

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بیہ ھه م ناری کڑہ وہے وی زما په دہے خبرہ ھه م پوڑے سوی دی چی دا خت ما خپله لیکلی دی اؤ په دہے خبرہ ھه م چی ماته ر اوسه د ۔ به ل سری دومری خوشالی نه ده لیدلیہ۔په دہے می دا ازموده وسوله چی ھر کله ما سره د ۔ دہے چی د ۔ ښوونی پوھه می ھه م نه وه زده اؤ بیہ ھیخ رنگه سامانه یوه سری ته په شپږ میاشتی کی ھغه ھه م په واری واری لیك لوه ست زده کړل اؤ بیّا په داسی ژبه چی د ۔ ده خپله مورنی نه وه ھسیہ لره ډیره زده کرہے وه ۔ نو یو داسی سرے چی د ۔ ښوونی ( Teaching ) پوھه (علم ) یه زده کرہے وی ۔ پوره سامان ھه م لری د ۔ شاگه ردانو په مورنی ژبه به ولی د ۔ شلو دیرشو یوه ټولی (جماعت ) ته په شپږ میاشتی یا کال کی لیك لوه ست زده نه کی خو دا ازموده می لا نه سوہے ده اؤ نه وورته اوزگار سوی یه م چی خپلیہ پیل که م ھسی چی کله جبل ته راغلی یه م ځینو کسانو ته به می څه نه څه لیك لوه ست ښوه ل ۔

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# د ـ انګرېزی ازموینه

په انګرېزی ژبه کښې زما زیار اؤ وده هغه شان روانه وه اؤ په دې رسېده م چې وده کوه م ځکه چې په انګرېزی کیتابو کی به اوس ډېر کم داسې توری مخې له راتله چې زما به زده نه وو ـ په یوه مه خ کی به اوس د ـ لسو په ځاے په یوه نیم توری نه رسېده م ـ خو په دې می لا باور نه وو چې کنې د ـ ګوزارې هومره اؤ سمه انګرېزی په زیاته لیك مې هه م زده دی که نه ؟ چې یؤ وخت خبر نه یه م څومره وخت پس ګومان می دی چې نیژدې کال پس به وو ښاغلی نیزامی د ـ باهر نه د ـ کورد سردار د ـ تول (جایداد) د ـ وېش په هکله د ـ هغه د ـ زامنو د ـ یوه کړکېچه ن (پېچیده ) ناله ښت په هکله څه سرکاری کاغزان ـ درخواستونه بیانونه ـ پرېکړی (فیصلے ) دوې راولېږلے چی دا د ـ اپیل لپاره راله انګرېزی که ـ کاغزونه اؤ پینسیل یه رالېږلی وو ـ ما په څه وخت کی هغه وکړه ل ـ خو خپه ل د ـ زړه ـ ډاډ له می

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هغه د ـ جېل وړوکی واك وال شېخ ایکرام الی خان ته ښکاره کړه چې
دا راله وګوره چې انګرېزی یه سمه ده که نه یا د ـ سره انګرېزی هه م
ده که نه ؟ ته ر دغه وخته ښاغلی شېخ ژما د ـ لیك لوه ست په غلا
خبر وو ـ کله کله مېی کومك هه م راسره کاوه ـ خپه ل ځانی اخبار "ټریبون"
بېې په پته را رساوه اؤ یو ځه ل ډوه خو د ـ خت لپاره کاغز کلم اؤ
لیپا په هه م راله راوړه ل ـ دا ځکه چې ده د ـ یوه ښېې کوراکولی
خولی ډېر ارمان ده رلوډ چې په کوټه کی نه پیدا کېدله اؤ ژما مشه
ر ورور د ـ کابله وړله راوغوښتله پیسېې خو ده ورکړېلې چې اتله س یا
اته ویشت روپی وه خو ده ته ښه شی ورسېده چې د ـ ده خوښ اؤ پړه
خوښ وو ـ هغه چې وکاته وه دا انګرېزی به تا نه وی کړه ته خو
وایېې ما لغه ړ ته ر اتمه انګرېزی ویلې ده اؤ دا خو سمه لا نه ډېره ښه
انګرېزی ده ـ ژره می ډېر ډاډه سو اؤ وراندی به می خپه ل پوړ
خودایی سلیټ ختونه اؤ لیکونه لیکه ل اؤ د ـ اوردو ـ پښتو یا پارسی
څه به می انګرېزی جوړوله یا د ـ انګرېزی څخه دا نوری ژبی ـ کله
چې به په ده ستری سوه م نو به می کیتابونه کته ل ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د ـ اوړمبارك ويناوى

ۆړاندى مى هه م په وړوك والى د ـ وينا وړ ځينى كيتابونه په ژياته مشكات د ـ مولا شېر مامد ساګزى څخه ڷوه ستى وړ اوٚ "ميركات" به مى ووړسره كوت خوړ دا څه ل چى مى شپړ سرھ سم كيتابونه (صحاح سته ) وكاته ووړسرھ د ـ خبريالوږ (رواة ) پوهنه (اسماء الرجال ) اوٚ د ـ وينا وړ ـ بيلتونږاوٚراز راز پوڇى (فحش عريان ) اوٚ د ـ نه منلوږ وينا وى مى وليدلې د ـ خبريالوږ د ـ پوهنى بيلتونږ مى وليد چى د ـ يو څوږ كسوږ چپ يو هه م په ګړه سم سرے نه بوڵى ټيا د ـ ښاغلى پوهـ ـ نووى (علامه نووى ) اوٚ هجر اسكلانى (حجر عسقلانى ) و هغه ببې ځايه كوبنه ښ ته وكاته چى ښكارھ ځله بيلى (متضاد ) وينا وى په زوړ سره لګوى نوږ مى د ـ وينا وړ په هكله د ـ ښاغلى مه خ كنبه ابوهنيپه ( امام ابو حنيفه ) رو ځوبښ سوږ چى ډېرى لږ وينا وى يه د ـ لاس نيوكى (سند ) وړ بللى دى_لكه چى ته ر

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اویاوو پوری یادیږی اؤ د ـ ښاغلی سرسید اهـمد خان دا رو چی وینا چی هر څه سی باور (یقین ) نه پیدا کوی چی ښه (مستند ) هه م وی نو ګومان تړه پیدا کیږی اؤ چی دا می وکاته چی د ـ ویانو (واعظین ) د ـ زوړ له مخی ښاغلی ایمام غیزالی رنګه وتلی پوه اؤ لا ښه پوه (فلسفی ) هه م ځنپه ل په کیتابو کیمیا اؤ اهیا کی د ـ ښه اؤ خوشی وینا هیڅ بیلتون اؤ چون نه دی کړی اؤ هر څه یه راوړی دی اؤ ځاے په ځاے ځپله وایی چی " دا وینا که سمی وی نو به داسی وسی " نو می د ـ هغه وخت و کیتابونو ته وار ختا سو چی سړے به د ـ چا ومنی اؤ د ـ چا به نه منی په پاے کی می د ـ ښاغلی ایبن جوزا تله ( معیار ) می خوښ سو چی وایی ـ کمه وینا (حدیث ) چی د ـ خوداے د ـ کیتابه چپه وی ـ چی د ـ پوهی (عقله ) چپه وی چی په له ږ نیکی ډیره ګټه (ثواب ) اؤ د ـ لږی بدی ډیر زاوال (عذاب ) وایی چی سپکه خبره وی ـ هغه د ـ منلو وړ نه ده داسی نوړ هه م څه خبری دی ـ



Scanned with CamScanner

## د ـ میستهه ر تهاون سن اؤ ښاغلی کوړد جګړه

ته ر بدلی ټړاندی څه وخت ښاغلی کوړد ـ پرنګي ته ویلی وو ـ چی موږ ډواړه یو ځاے که ـهغه وورته ویلی وو چی دا نه کیږی اؤ وورسرهـ یه په انګریزی ویلی وو یو بلهډی پیر (YOU BLOODY PAIR) ښاغلی کوړد دستی نه وو په پوهـ سوی ماتے ولیکه ل چی " داسی خبره یه وکړله د ـ دیے څه مړاد دی ؟" ما یه مړاد وورته ولیکه ـ ښاغلی کوړد خت وورته لیکلی وو اؤ خوایه بده کړے وه ( احتجاج ) سبا له پرنګے اؤ شیخ ایکرام الی وورته راغلی وو چی زموږ دا مړاد نه وو اؤ پرنګی بخښ ( معافی ) جینی غوښتی وو ـ



Scanned with CamScanner

# د ـ ښاغلی اوډول سلام
# خان او جېل والا وو جګړه

هه م په دغه شپو کی یو وخت د ـ باهر نه خبر راغی چی ښاغلی ـ
ـ خان اوډول سلام خان زما لیدو له راغلی دی ـ اوسباله‌څه وخت جېل
والا وو زه وغوښته م چی لیدو له دی څوك راغلی دی ـ زه چی د ـ لیدو
ځاے له ورغله م ډېر وخت هلته وه م ـ خو څوکې را نه وسته ل او
جمادار راغی وې " څه چی واپس ځو ستا ځپه لوان نه دی راغلی دوتر
والا تېروتلی وو "دا دروغې ځکه ویه ل چی د ـ جېلو واك والان ته ل
ډېر وس کوی چی بندی د ـ ځپلی خواری او کاره په چپ د ـ باهر یا
جېل په هیڅ خبره هه م خبر نه سی که څه هه م بندی په هر څه خبر
وی او دوے هه م په دې خبر وی چی بندیان خبرېږی خو دوے دانمایه‌ش
ښیا هه م کوی ـ زه چی هلته ولاړ وه م د ـ وروړ بڼغ می اروېده چی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په زوره زوړه ګایده ـ د چا سره جګړه وه ـ خو را باندې بېلېده نه چې څه جګړه ده ـ په ډېمه ځوز مې ورور لیدو له راغې تپوس مې جینې وکاوه وې "هو هغه ځوز راغلی وه م خو د ـ جېل والو سره مې جګړه وسوله ځکه چې هیڅ بېې هیڅه دروازه وان ( دربان ) راته وجوړېده چې زه به ښتا تلابنې کوه م ما هر څه ووړته وویه ل چې زه څه ښتاسې بندې خو نه یه م اؤ نه جېل ته دننه ځه م چې ته به مې تلابنې کوې ـ ته دا واك نه لرې چې په دې ډول زما ښپکه وکړې هغه ووړلاړ ډیپټې شیخ ایکرام الې تې وویه ل هغه هه م د ـ ده پلـه ونیوله چې دې غواړې نو ښتا تلابنې به کوې خو ما نه منه ل چې زموږ سره بڼغ سو پرنګې را ووړت هغه هه م وې چې هو تلابنې به ووړکوې ـ خو خیر دې دا جمادار بېې نه کوې ښتا تلابنې به ډیپټې ځپله وکې یا بېې زه وکه م خو ما وې چې تاسې یو هه م دا واك نه لرې چې زما تلابنې وکې ـ بیا یه وې چې په دې کې هیڅ ښپکه نسته د ـ سره لمخه ته زموږ تلابنې وکه بیا به موږ ښتا وکو ـ خو ما وې تاسې بېې ښپکه نه ګڼې زې ګڼه م اؤ هیچرې تلابنې نه ده ر کوه م اؤ که تاسې نه منې نو خیر دې زه به

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وږوړ نه وينه م اؤ ترهے لاړه م يسرکار له مى تار ورکى چى جېل والا ما د ـ ۆروړ ليدو ته هله پرېږدى چى زما تلاښى وکى ِهغو دوے ته تار وړرکړى دى چى داسى مه کوى نو هله دا يه م نه ن راغله م " ماته خبره داسى ښکارېدله چى زياتره خلګه بنديانو ته د ـ ليدو په وخت په غلا غولتى څه پيسے ميسے يا نور شيان وړرکوى نو ځکه دروازه وان اؤ د ـ هغه ځاے نورو ورو اؤ غټو واك والانو ته هه م بلې وړرکوى چى هغوے د ـ دوے دا د ـ غلا کار پرېږدى ځکه چى ما اؤ وروړ مى دا کار نه کاوه نو مى ورور بلې هه م نه وړرکولے اؤ هغو لکه د ـ سيکانو ګومان کړى وو چى که تاسى څه بد نه کوى نو مونږ به خپه ل بينډار نه ده ر نه اخلو که څه ؟" اؤ دا چلے جوړ کړى وو چى ورور مى خپه ل په ټينګار ځان ترهے بچ کى ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# زه اوٗ ښاغلی کوډرد یو ځاے

ته ر بدلی ۆړاندی تاون سن زه اوٗ ښاغلی کوډرد په اته م نمبر کی سره یو ځاے کړلو ـ خو دا ګڼرانه وه چی ښاغلی کوډرد تے هغه له ړ سوران هه م نه وو وورکړی ـ چی ماتے راکړی وو لکه غلمینه ډوډی ـ نیم سبر پی اوٗ د ـ تام چینی لوښی ـ نو سبا یا بله ږوز ما پرنګی ته وویه‌ل چی موږ ډواړه یو ځاے یو اوٗ په خوړو کی‌ مو دا بیلتون وی دا نه سی کیداے یا به دوے ته هه م دغه له ړ سوران وورکوے اوٗ یا بیے له مانه هه م اخلے ـهغه وے چی ته خو ناجوړه یا کمزوره ییے اوٗ دے کمزوره نه دی خو د ـ څه خبرو پسے د ـ غاښو د ـ ۆرانی په پلمه هغه سوڕان ورکی ـ وخت مو ډیر ښه سره تیریده خو ښاغلی کوډرد دا خوے ده ر لوډ چی ژیاتره به غمجه ن اوٗ ځان له ناست وو ـ اوٗ چی ما به وریغاوه یا به می دا کوښه ښ کاوه چی په خبرو خندا یا توکو یه سات واړوه م نو بیے خوا بدوله اوٗ خه ښمیده به ـۆروستهٔ بیا زه خبر شوه م

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چې دے د ـ باهر نه په اپیمو اؤ نورو نشو اخته وو اؤ د ـ مانه بیے په ټ د ـ ښاغلی نیزامی څخه اپیم راغوه ښت اؤ چې کله به هغه نه راورسېده نو د ـ ده به بدن درد کاوه په زاوال به وو ـ ځکه به غمجه ن اؤ ځان له پروت وو ـ هغه وخت زمونږ د ـ مل ګرو دا ښه خوے وو چې نه مو یو د ـ به ل په کمزورو اؤ تاوان پسی لتون کاوه اؤ نه چا خپه ل په کمزورو ویاړ کاوه اؤ په هسکارے مه ل ګری په خبروه ل ـ ته ر وسه بیے داسی خبری پتولے زما اؤ د ـ ښاغلی کورد د ـ پیژاندو اؤ مل ګری نیژدے ډرے کاله سوی وو خو زه تر دغه وخته اؤ په جېل کی یو کال لا به ل هه م په دے نه وه م خبر چې دے کنی نشے هه م کوی خو بس یو شریك مراد مو ده ر لود اؤ مل ګری وو ـ دا ناخوالی وروسته د ـ ځینو مل ګرو له لاسه پېښه سوله چې په کراچی کی د ـ اوسے له مخی یه ځان کمیونیسټ باله خو کمیونیزه م یه بس دغونه وو چې نے خپلی کمزوری اؤ بد خوینه پټوه ل اؤ نے د ـ به ل پرده کوله ـ په زیاته ښاغلی اونکا اؤ نیزامی دواړه ورونه او بیا وروسته نور هه م ـ د ـ ځان په بدو بیے ویاړ کاوه دا بیے روشتینولی بلله اؤ په نورو ملو پسی



Scanned with CamScanner

بهے لټون کاوه او زه او نور ځله بهے په خبرولو ۔ په دے ژموږ وډله ته
ورروسته ډېر تاوان ورسېده ژياتره چې به ډوډ سره کښېناسته خبرې بهے
هه م دا وهے ۔ " د ۔ډپلانکی په هکله دی څه ګومان دی ؟ " چی هغه به
څه وویه ل ښه ۔ کنې ده به پېل وکه ړ ۔ " ما خو اروېدلی دی چی داسی
دی او داسی دی " دا شان په تهولو مل ګرو کی یو په به ل پسی پیشی
شا خبری ( Vispering Compain ) لګیده (غیبت ) پېل سو ۔ ته ر دے چی
د ۔ ځینو مل ګرو په ژیاته نیزامی او اونکا ډواړو وروڼو په ګومان
شاید یو د ۔ ما چپ ژیاتره کسان سرکاری جاسوس ( سی ۔ آیی ۔ ډی
وو) ځینی روشتونی ځله ساده او ناپوه وو ۔ ځینی تالی څټ او ځینی
ښپه ل چاری ۔ او ځانه خوښه ( مغرور )۔ ماته خو ښپه ل د ۔ کمزوړو
څه په هسکار پرده اخیسته ل داسی ښکاری لکه سړے چی جامے
وباسی او د ۔ خلګو په مه خ برمه نهه ودرېږی ۔ ژیاتره خله ک چی بد
هه م وی خو چی د ۔ به ل په بدو خبر سی هغه یه په ښته رګو کی سپه ک
او بهے باوره سی نو خله سړے ځان و به ل ته سپه ك کی په ژیاته و
مل ګری ته ۔ خو د ۔ نه ن سبا بهے دینه لوه ستی خلګه چی ژوه ندهے د۔

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

یوړه پ د ـ ښو خلگو اؤ ڎرنو کیتابو په ځاے د ـ بازاری ناولانو ـ پیلمانو اؤ سٚپکو خلگو پوړ ژٚوه ند جهړوی اؤ هه م دغه د ـ دوړے د ـ ژٚوه ند مٚراد وی چی دوړے داسی سی لکه د ـ یوړه پ ڀڑبوتی اؤ بازاری خلگه دا نه منی اؤ خٚپه ل اؤ د ـ به ل له ځ اؤ په ټ ښٚکارهکول ریشتینولی اؤ نبغ ژٚوه ند گنهی ـ



Scanned with CamScanner

## د ـ ښاغلي کوږد يو څو خبرې

د ـ ښاغلي کوږد سره يو وخت پوړ دې ګايده م چې ته ولې دومرې غم جه ن يېږې ؟ خپلې څه ناچارې د ـ بچو اوُ کوږ مينه اوُ دا هغه يه را وراندې کړلې اوُ چې ما وورته وويه ل چې " دا شيان خو زما هه م سُته زه هه م په جېل کې يه م اوُ بيا هه م زه وخت څه په خوشالي اړوه م ـ وې " هغه دېوال ګوره هغه خو هه م په جېل کې دي چې سه د ـ درك اوُ لمبېږې (جذبات) نه لرې ـ نو د ـ هغه څه پروا ده "

۲ ـ چې د ـ کلات د ـ خان له خوا يه په پړېښوولو کې ډېر ځنډ وسو هيله يه جيني وختله اوُ په کلو له ما سره سم په جېل کې ناست وو ـ په پاے کې په کوږنۍ کې څه بدې هه م پېښه سوله د ـ اکا زوے يه ښاغلي هاجي خان د ـ کوږد سردار وروږ مه ړ کې اوُ هغو په هغه روز په سرکارې تانه کې دے هه م په بدله کې وواژه ـ خو بيا هه م ځکه چې د ـ سردار خپل بدله خو د ـ اوله س په يوه سړي نه پوره کېږي اوُ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د ـ ده وَروڼه ښاغلي مير دوړ خان اؤ اؤدول رسول اؤ د ـ کوړنی نوړ مشران کشران هه موني و ل سو اؤ جيل ته راغله۔دغه وخت انګريز سرکار زه په څه ناوړه لاس ګری (ضمانت ) ايله کوله م خو زه نه وته م يو وختي ماته وے چی "زما ګومان دی چی سرکار ما ته ر هغو ځکه نه ايله کوی چی ته هه م نه يې وتلی اؤ ته وينې چی زما د ـ کوړنی کار ډېر وَران دی ته له ما سره دا ښه وکه چی لاس ګری (ضمانت ) ورکه چی دوے ما وباسی۔ته بيا لاس ګری واپس که اؤ بيرته راسه ـ ۳ ـ ځکه چی بلوڅان اؤ پښتانه د ـ ډېره وخته په چايو روږد اؤ اخته دی نو په کلو چی موږ يو ځاے وو هره ۤروز سهار هه م اؤ مابنام هه م چی ښاغلی کوږد به د ـ شيودو پيالی وورپوړته کړله وے 'کشکی څه چايی هه م په ګډی واے۔" خو هغه وخت په جيلونو کی چايی نه سرکاری وورکولی کيدے اؤ نے خپلی پرېښوو ے هو د ـ ډاکټر خان لومړی پښتني سرکار د ـ روڅ (سرحد ) په جيلو کی بنديانو ته سهار يوڅ لوټه (مګ ) چايی پيل کړلے ـ ولی هغو ے د ـ پښتنو په دې خو ے خبر وو اؤ اوس هه م چی د ـ يو يونيټ په ټولو جيلو کی د ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پنجاب د ـ جبل خوارہ چلېږي.بندیانو ته سهار کلّه خوره اوګره (دلیا) کله ایشولی اوْ کله وریتي چنې وورکوی د ـ روه وه بندیانو ته هر چېري چي وی چایي وورکوی ولی هغوے د ـ چایو په ځاے به ل ځیز نه مني ـ په بلوچیستان کی وه ځینو بندیانو ته د ـ درمانتون له خوا وورکوه ل کیږي ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د ـ اینسان یؤ ناپېښه په ټ واك

یاد می نه دی چی په کوم کال د ـ کال ۱۹۳۵ ته ر زلزله وّروسته که
وّړاندی یو وخت ناساپی اؤ بېې له هیڅ پېلامېې (سبب ) په خّپه لوانو
کی یوه نجیلۍ چی زّما هیڅ شان اړیکے هه م نه وو وورسره را یاده
سّوله ـ هسی خو به ډېر خلګه هر ّروز رایادېده خو دا څه به ل شان
یادېده وو ـ چی زې په بېلتون پوه سّوله م اؤ نیژدې ته ر یوې هؤتې
پوری به می د ـ ّروزی اؤ د ـ شپېې څو څو ځله دغه شان یادېدله ـ ته ر
دې چی ما د ـ ښاغلی کوړد سره هه م وویه ل چی داسی چل را پېښ
دی ـ اؤ ّبیا می هغه کهانده وّرکه سّوله ـڅه وخت پس می د ـ کوړه
خت راغی چی د ـ هغی نجیلۍ کوزده وسّوله ـ په دې پوه سّوه م چی
د ـ دې د ـ کوزدې اؤ زّما د ـ هغه ناپېښه کاهه ښت وخت یؤ وو ـ خو
ّبیا یه هه م په اړیکی (تعلق ) نه رسېده م ـولی نه هغه ما غّوه ښته نه
زّما د ـ واده وو وه ـته ر ما چېره که شره وه نه ما به ل واده کاوه هه م

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د ـ اینسان یۆ ناپێبنه پە تۆ واك

یاد می نه دی چی په کوم کال د ـ کال ۱۹۳۵ ته ر زلزله ۆروسته که
ۆراندی یو وخت ناساپی اۆ بیے له هیڅ پیلامیے (سبب ) په خپه لوانۆ
کی یوه نجیلی چی زما هیڅ شان اړیکے هه م نه وۆ وۆرسره را یاده
سۆله ـ هسی خۆ به ۆیر خلګه هر ۆروز رایادیده خۆ دا څه به ل شان
یادیده وۆ ـ چی زیے په بیلتون پوه سۆله م اۆ نیژدیے ته ر یویے هۆتیے
پوری به می د ـ ۆروزی اۆ د ـ شپیے څو څو ځله دغه شان یادیدله ـ ته ر
دیے چی ما د ـ بناغلی کورد سره هه م وویه ل چی داسی چل را پیښ
دی ـ اۆ بیا می هغه کهانده ۆرکه سۆله ـ څه وخت پس می د ـ کوره
خت راغی چی د ـ هغی نجیلی کوزده وسۆله ـ په دیے پوه سۆه م چی
د ـ دیے د ـ کوزدیے اۆ زما د ـ هغه ناپێبنه کاهه بنت وخت یۆ وۆ ـ خو
بیا یه هه م په اړیکی (تعلق ) نه رسیده م ـ ولی نه هغه ما غوه بنته نه
زما د ـ واده وۆ وه ـ ته ر ما ۆیره که شره وه نه ما به ل واده کاوه هه م

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چې کنې د ـ زړه اړیکے به مې وورسره وو ـ خو خبره مې په یادوه چې
ډېر وخت پس د ـ جېله کوړته راغلهٔ م د ـ هغې د ـ کوزدې په هکله
مې د ـ خپه لوانو نه څه لتهون وکې ـ خو څه درك راته ونه لګېده.په
پاے کې مې خپله هغه نجیلې وپوښتله چې " داسې ښتا د ـ کوزدې
په شپو کې هیڅ بېي هیڅه ته ماته ډېره را یادېدې دا څه چل وو ؟"
هغې راته وویه ل چې کوم هلك له چې زه غوښته م هغه زما خوښ وو ـ
مېړ او پلار زما نه وو.واك مې د ـ ډرو مېرېخو ورونهو وو هغوے نه
سره ست کېده د ـ یوه ډوو خوښه وه د ـ به ل نه وه خوښه.ما به ته ډېر
ډېر یادولے چې که دے دلے واے دا زما ورونه بې پوے کړې واے.هسې
نه چې زما کوزده پاته سې ـ نو زما باور سو چې په سړې کې یو
داسې په ټ واك ښته چې لیرې اوٌ نیژدې په ناویسیا (غیر حاضرې)
څه م بېي وینا یو د ـ به ل پوړ زړه برید (اثر) کولاے سې ـ
(۲) په کال ۱۹۳٦ کې یو وخت د ـ اودولا خان کلا د ـ ربل په
ټېسه ن کې د ـ بابو په دوتر کې ناست وه م ـ هلته د ـ ربل والا وو
تلیپون (کنټرول) لګېدلې وو ـ چې د ـ جرکماباته ته ر چمنه تهول

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ټپسنان یه پورله پوری کړی وو ـ چی یو به ګایده ټولو خبری اروېدا ے
سّوے ـ چی کوم ځاے بېے باله هلته به ټلی وربغېدله اؤ په نورو کی به
هسی ټك ټك سو او په دے بېے پوے سو چی چا به ل ځاے وباله ـ زه د
ـ ټیلیفونه بیرته ناسته وه م خّپه ل څه کار می کاوه د ـ به ل ځاے د ـ
ګنټی ټك ټك وسو ـ زه داسی بېے واکه راولاړ سّوه م ټیلیفون می
راواخیست چی په مچ کی د ـ بابو اوّدوړل خالیك سره خبری کوه م چی
د ـ مردان یو ډېر مینه ناك پښتون بابو وو دغه وخت په مچ کی
لګېدلی وو ـ مچ د ـ اودوړلا خان کلا څخه څه له پاسه سه ل میله دی
چی ټلیپوڼ می راواخیست بېے څه تپوسه می اوّدوړل خالیك وباله اؤ
هغه راته جواب راکی ـخبری مو وکړلے پس ته چی ما پام وکی چی ډا
څنګه اؤ ولی ته بېے واکه د ـ ځایه ټیلیپوڼ له راولاړ سّوے چی د ـ
!ودوړل خالیك خان سره ګنېږه م ؟ اؤ څه شی ته په دے خبر کّړے چی
مرو مرو به اودوړل خالیك پوړ ټلیپوڼ وی هسی خو ّزیاتره پوړ سم
ټلیپوڼ هه م سړے وار له واره تپوس کوی چی ته څوك یې ؟ دا څه له
سّتا دومری پوخ باور وو چی بېے تپوسه دی اودوړل خالیك خان وربغاوه




Scanned with CamScanner

هغه په ټ واك ـ زړه د ـ سړی د ـ م د هه دا چی دی می ګومان ـ
کاروونه وو ـ کېداے سی چی یو وخت د ـ سړی پوهه په دے واك سمه
ورسېږی اؤ هغه کاروونه جینی واخلی چی اوسے د ـ ټلیپون تار ـ ریډیو
اؤ ټیلیویژه ن څه اخلی ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner



بابائے پښتون

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د ـ باهر مل ګری اؤ کار

چی مونږ په جیل کی وو ـ د ـ باهر څو تنه مله ښه په بیړه په کار لګیا وو اؤ په هولکه کی ژوز ته ر ژوزئ خلګه ویښیده ـ زمونږ د ـ بنده پس دستی ښاغلی یوسه پ الی خان روان سو یوره پ له ولاړ اؤ نیژدی یؤ کال هوری وو ـ بیا راستون سو ـ ځکه چی ما د ـ هغوی سره په ژوند کی بیا ونه لیده ـ نو خبر نه یم چی دوی لنده ن له څه له اؤ په څه پسی تللی وو ـ چی ته د ـ کاهیری څه خپه ل اوځاره اوردو پوهیته (نظم) رالیږلی وه په اخبارو کی راتله اؤ ډیره اوځاره سوله څو کړی یه دا وی ـ

قسم اس جیل کی جس میں جواهر لال رهتے هیں
قسم هے کُرد اور عبدالصمد خان کی صداقت کی

نوری به لیکه م ـ

چی راستون سو په یوه اخباری بیان کی ویلی وو چی " د ـ بلوچیستان

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اوّ بناغلی کورد لری چی سمد اوّدول خو واك په هکله کار کامی د ـ
د ـ هېواد آزادی بې د ـ خو زما په ګومان د ـ هېواد آزادی بې د ـ
اوس په جېل کی بند دی ـ که د ـ هیند آزادی هیڅ مراد نه لری ـ که د ـ هیند
خلګو د ـ ګوزارې د ـ ودی اوّ آزادی هیڅ مراد نه لری ـ که د ـ هیند
کامی کار پور دې لار زور کړی واې نو د ـ اینګلینډ دانا وزیر هیند
په هکله دا نه سو ویلاې چی " سپی دی غپېږی
به هیچېری زمون په هکله دا نه سو ویلاې چی " سپی دی غپېږی
کاروان به تېرېږی " د ـ دې بیانه اوّ د ـ ځینو مل ګرو د ـ خولې داسی
ښکاری چی د ـ لنده ن د ـ زوه ند برسېره ن پړك خل بل اوّ د ـ
انګرېزانو زور ـ دولت اوّ اوچت زوه ند هغوې هه م لکه بناغلی سرسید
احمد خان ډېر بدل کړی وو اوّ دا ګومانې وو چی ته ر څو موږ هه م په
پوهنه (علم ) پوهی اوّ ګوزاره کی وده ونه کو آزادی اوّ خپه ل واکی
نه سو میندلاې دا هه م چا راته وویه ل چی هغوې وې چی " ما چی
د ـ بلوچیستان په هکله د ـ سر آغا خان سره خبری وکړلې نو هغوې له
مانه تپوس وکی چی په بلوچیستان کی څو تنه وکیلان ـ ډاکټران ـ
اینجینران اوّ د ـ بهرنو هېوادو سوداګران سته دی ؟ اوّ چی ما وورته
وې چی دا شیان خو نه هلته سته اوّ نه د ـ انګرېزی پالیسی له مخی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ژه ر پیدا کېداے هه م سی۔ " نو هغوے وے چی " د ـ آزادی اؤ خپه ل
واکی لپاره دا شیان هرو مرو په کار دی ِوّلاړ سه دا پیدا که ّبیا نو
ماله راسه " وایی چی ده ویه ل چی دے خبری پوړ ما ډېر ّبرید وکی
اؤ دغه زّما د ـ هغه بّیان مّراد دی که څه هه م د ـ دوے د ـ ځلبلانه
خوے رشتینوالی (صداقت ) اؤ د ـ هر باور (یقین ) سره بد لېدونکی
اندی (اثر پزیر طبیعت ) سره دا بد لېده څه ناپېښبه نه وو۔خو زّما هغه
وخت هه م باور وو اوس می هه م دی چی دا بدلی هه م د ـ پخوانو
بدلو په راز نه پخه وه اؤ نه د ـ څه بدی اندېښنې یا بېری له مخی لغه ر
دا په کار وو چی چا څّواخوړی کام دوسته ـ هېواد ّخوښه اؤ د ـ ده
باوری سړی پوے کړی واے چی د ـ لوپی ونی ته ر سیوری لاندی وړے
ونی هیڅ کله وده نه سی کولاے په ّزیاته ّبیا چی د ـ پېچك " Parasite
Plants " رنګه هغه وړه ونه د ـ لوپی خوراك هه م وی ـ څه له ر ډېر وده
چی کېږی هغه هه م د ـ غوړځو په ر زو ( جد وجهد ) پاے وی چی
وړه ونه د ـ ډېرو ځانګو د ـ جارولو اؤ ّزیانولو پس چېری یو ځانګه
نیمه په څه لاړ د ـ لّمر روڼا ته وباسی اؤ هه م دغه د ـ کامی غوړځو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په رزو ٌمراد او نمونه وي ـ

اوس اوس ښاغلی میر ګول خان زګر مینګل ځپه ل د ـ بلوچیستان په تاریخ کی دا لیکلی دی چی ښاغلی یوسه پ الی خان د ـ کلات خان میر امد یار خان لنده ن له ځپه ل د ـ ریاست د ـ پړے پیژانده لپاره لیږلی وو ـ هغوے ځپه ل په کیتاب کی دانه دی لیکلی چی دوے ته دا خبره له کومه رسیدلے ده اؤ نه ماٍیا دوے لیدلی او پوښتیدلی دی که څه هه م دا خبره سره لګیږی خو د ـ دوے د ـ خبریدو لاری یؤمهٔخ د ـ شکه وتلی نه وی ـ ـ ـ!!!

لنده ن ته د ـ تلو پس د ـ انګریز سرکار په وینا د ـ کلات بیے وسه جرګیے خان اؤ سرکار ښاغلی یوسه پ الی خان ډیر ژه ر د ـ مګسی له سرداری لری کی اؤ په ځاے یه کشه ر وٌرور ښاغلی مهبوب الی خان د ـ کام سردار کی ـ یوسه پ الی خان چی بیرته راغی څه له ږ ٌوروزی ژٌوه ندے وو ـ اروېده می چی روان دی بیرته لنده ن له ځی هلته واده کوی اؤ نور ژٌوه ند به هورے اوسی د ـ واده اؤ بیرته تګ خبره یه په دے هه م پخه ښکاریدله چی هغوے دلته ٌخپلی ډوے ښځی چی ٌپلاره

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ووړله کړی وے خو ګومان می دی چی لا واده نه وے ړپرېښوولے (طلاق ) چی په بلوڅو کی ډېر بد ګڼه ل کېږی اؤ خپه ل د ـ پیسو په راغونډولو لګیا وو چی د ـ کال ۱۹۳۵ په زلزله کی د ـ کوټی په ډاك بنګله کی لاندی سو اؤ ځینو دوستانو اؤ خواخوږو د ـ کاسیانو په هدیرہ کی سپارلی وو ـ وروستے بیا خپه لوانو ځلی په مرمر کاڼی پوخ کی د ـ ځلی پور سندوخے د ـ دوے خپلی ځینی ښے اؤ خوږے پهیتی لیکلی دی ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د ـ یوه انګرېز سخت اؤ ناروا زیاتے

ښر نه یه م چی څه له اؤ څنګه خو لکه چی د ـ بدنامی د ـ بېری
ښاغلی میر شاباز خان نوشیروانی د ـ زلزلے په سهار د ـ ډاك بنګلے
څه د ـ دوے د ـ راکښلو اؤ ښخولو پس د ـ دوے پاته مېری توزی د ـ
کلات وه انګرېز پولټیکل ایجه نټ میسته ر سکراین ته سپارلی وو
چی په هغه کی د ـ دوے د ـ پوهیتو لیکلی کیتاب (قلمی دیوان ) هم
وو ـ اؤ هغه ناسېری پرنګی که څه هم پوه د ـ پاړسو ښه لوستی اؤ
د ـ خلګو په ګومان پوهه ن یار (علم دوسته ) سړے وو چپے و خپه
لوانوته به نور شیان واپس کوه ل وورته ویلے وو چی " هغه کیتاب ما
وسېځه ځکه چی د ـ سرکار د ـ دوښمنی خبری پکښې وې " که څه ما
خره ماته پخه نه ده رارسېدلے د ـ ځینو مل ګرو می اروېدلی دی که
څه هم د ـ یو انګرېز اؤ بیا د ـ سکراین رنګه پوه ن یار (علم دوست)
انګرېز سره دا ناخواله کار نه لګی خو د ـ هغه وخت د ـ پولټیکل



Scanned with CamScanner

ایجه نن سره څه ناپیښه هه م نه ده خو هر څه چې وی زموږ دا کامی غمے اؤ یادګار وّره ك سو اؤ د ـ ښاغلی میر یوسه پ الی خان لغړی یڼو څو کامی پوهیتی (نظمونه ) د ـ خلګو په خّولو اؤ زړو کی پاته سو اؤ نور ټول کیتابیے ٔوره ك سو ـ د ـ مرګه پس د ـ ده د ـ نغدو روپو هه م څه درك ونه لګېده نه د ـ ده په ټّوږو کی څه وو اؤ نه په کوپنګ (بینک ) کی ـ څه وخت ډېری خبری کېدے چا به وے چې د ـ لنده ن په بېنک کی دی ـ چا به وے په لنده ن کے یو هوټل رانیولی دی ـ دا خبره هه م کېدله چې په لنده ن کے ډېره ډرنه بیمه پاته سوے وه اؤ د ـ هغه څاے چا مګسی دوړ مامد چې بیا په کراچی کی د ـ دوکے په بهٔل ناله ښت کی ونیوّ سو د ـ ده بیمه هه م په دوکه اخیستیے ده ـ لنډه دا چې د ـ هغه د ـ اوسترى ژّوه ند اؤ مرګ ډېری خبری په پردهٔ کی پاته سّولے اؤ دے ـ د ـ موږه بېل سو ـ

زموږ د ـ نیولو اؤ سزا سره سم د ـ کراچی "البلوچ " اخبار هه م سرکار بند کی ـ نو ښاغلی یوسه پ الی خان مامد نسیم تلوی هه م کراچی له لیږلی وو چې د ـ اونکا سره خّپه ل به ل اخبارراوباسی اؤ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هغوړے هلته د ـ کراچی د ـ ښاغلو مل ګرو اوْ کومکیانو په مرسته به ل
اخبار ایسلتی ووڅورے اوسپده اوْ اخبارے چلاوه د ـ بلوچیستان له
پارے ښه کار کاوه اوْ خلګو بہے اخبار په ډېره مینه وایه اوْ د ـ پیسو
کومك بہے وورساوه ـ خو ارمان چی دغه ډواړه ځوانان د ـ کراچی په
ژوه ند کی رنګ سو اوْ په ځینو داسی خوپو اخته سو چی د ـ
بلوچیستان خلګو نه خوښوه ل ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# د ـ مل ګرو تنګی اؤ پړیشانی

په دے کی سرکار د ـ دوے له دے نوے اخباره هه م لاس ګری
(ضمانت ) وه غوښتله د ـ دوے اخبار بند سو ـ اؤ لاسے تنګ سو په
دغه وخت دوے د ـ تنګی اؤ پریشانی له لاسه یؤ د ـ بله هه م بېزاره اؤ
خوابدی سوی وو اؤ له کاره هه م ـ ته ر دے چی ښاغلی یوسه پ الی
خان د ـ لندنه څه پونډونه وورته رالیږلی وو ـ هغه خت دوے ته رسېدلی
وو خو په خپله پړیشانی وار ختایی اؤ در په دری کے لوه ستی نه وو که
څنګه خو پیسے یه نه وے اخیستی اؤ د ـ میاشتو پس چی یوسه پ ته
بېنګ خبر وورکړی وو چی پیسے لا نه دی اخیستے سوی اؤ هغوے بیا
وورته لیکلی وو نو دوے اخیستی وے اؤ په دے میان کی اخبار بند
سوی وو اؤ په دغه پیسو اؤ نوره لږ ډېره پنګه دوے خپله ګوزاره کوله

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# د ـ ښاغلي ایوب خان کار، خوابدي اؤ بېزاري

په بلوچیستان کی ښاغلي ایوب خان چی هغه وخت د ـ ټلاره بېل اؤ خوابدي په کوټه کی اوسېده ـ د ـ ښاغلي اؤدول کودوس خان په شراکتې د ـ ګوزارې لپاره یو وړوکی شانته دوکان کاوه ـ په ډېر خواري اؤ پتې ـ ولی هغه وخت په بلوچیستان کی هیڅ کامی کار په ښکاره نه ـ سو کېداے ـ نور خو پرېږده چی چا پښتانه یا بلوڅ به د ـ لاهور ورزپاڼی (روزانه اخبارات) په زیاته زمیندار کوت نو هغه به هم پولیسو څاره (واچ) اؤ په راز راز بې تنګاوه ځپه ل کامی اخبار رانیوه ل اؤ لوه سته ل خو ډېر ګران کار وو ـ په شپو څه پیسې نیژدې دیارله س سوه چی د ـ اخبار ته ر لاس ګری زیاتی وې غونډي کړي وې ـ د ـ کوټي څه ته ر چمنه نیژدې اتیا میله پور سایکل اؤ پور پښې تللی اؤ په پته په ځینو خواخوږو کامی خلګو ګه رزبدلی وو ـ خو دغه وخت د ـ ښاغلو اونکا اؤ نسیم د ـ کراچی د ـ ژوه ند په هکله په مل ګرو کی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

څه ښې باوري پیدا سوې وه ـ اۆ ښاغلی اۆدول کوډوس خان د ـ هغه د ـ ګرېږنې (تحقیقات ) له پاره کراچي ته لېږه ل سوی وۄ ـ هغوې پوړ واپسی د ـ هغه خبرۄ مۆږه سته کړې وه نۄ ښاغلی ایوپ خان د ـ یوه ریشتونی اۆ اوپاری (امین ـ دیانتدار ) پښتانه په توګه دوې ته د لږه ډېره کامی په نګه چي خلګو د ـ ده په لاس وورکړې وه سپاره ل وۄ نه بله ل ـ اونکا اۆ نسیم یوې غاړی ته ماته په جېل کی ولیکه ل چي دا پیسې جینی را واخله او بلی غاړی تې ایوپ خان اۆ نوږو مل ګرو ته په ختو کی د ـ بدنامولو ګواښ پېل کی اۆ د ـ کراچي په ځینو اخبارۄ کې څه څه وهه م لیکه ل ـچي د ـ دوې ختونه ته ر ما اۆ ژما د ته ر ښاغلی ایوپ خانه رسېده اۆ هغه پیسې وورلېږلې ـ دوې ږیا ایوپ خان دوړمری ځوابدی اۆ بېزاره کړی وۄ چي ږیا یه ته ر پایه په کامی ډله کی کار ونه کی ـماته ښې ویه ل چي کوم کار چي ته په ما پوړه ډله کی کار بولې راته وایه ته ر وسه ښې کوه م ـزه د ـ دې خلګو سره په ډله کی کار نه سه م کولاې ستا به د ـ ژړه زوړ ژیات وی کواې ښې سې زه نه یه م پګښې اۆ ته ر څو چي دلې وۄ هه م پوړ دغه لار راسره چلېده ـ څه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وخت پسې د ـ ژغم (صبر ) د ـ جنګه هه م زړه مات سو ـ څې په جهړه نه بلله د ـ وسلې په جنګ اؤ یا تخت یا تخته یه باور وو د ـ کراچی مل ګرو ته په دې لړ کی د ـ یوسه پ الی ـ ایوپ خان اؤ ځینو نورو ملو له خوا د ـ اخبار د ـ لاس ګری (ضمانت ) ته ر زه ر روپی ډېری زیاتی پیسې په لاس ورغلې خو دوې د ـ کراچی په ژوه ند اؤ د ـ سبا په غم داسی اخته وو اؤ خپه ل په مّیان کې دومری بېلتون راغلی وو چی هغه زهړ اخبارې بیا چالو نه کی ـ بناغلی نسیم هلته د ـ ګوزارې لپاره څه سوداګری پېل کړله اؤ اونکا په به ل نامه او د ـ چا په شراکت به ل اخبار پېل کی اؤ ځینو نورو خلکو هه م د ـ بلوڅو یا بلوچیستان په نامه څو اخباره پېل کړه ل ـ چی زیاتره به د ـ بلوچیستان د ـ بدکاره اؤ زلندهٔ واك والانو اؤ سردارانو څه په خوشامنده یا بېرولو (بلیك مېلینګ ) پیسې بودولې ګوزاره بېې په کوله اؤ اخبارونه بېې په چلوله ـ څه وخت پس نسیم هه م بیرته د ـ چا په مل ګری اؤ نیا ځان له هغه زهړ اخبار راویوست چی ته ر اوسه لاسته د ـ بلوچیستان په اخبارواو کامی کاریندګانو کی دا د ـ خلکو د ـ بېرولو او پیسو



Scanned with CamScanner

بوږدولو ( بلیك مېلینګ ) خو دومره زیات سو چې نور خو پرېږده
خپله ماته هم پېل وکی۔ په سر کې اونکا په جېل کې لا پیشرو راکي
چې زه چې کمو کسانو کراچي ته رالېږلی وه م ۔ بناغلی سردار یوسف
الی خان ۔ نواب زاده ادرامان خان بوګټي سردار رسول بخش مېنګل
اؤ زه۔په هغو کې یو ته هم وې اؤ تا زموږ د ۔ ګوزارې لپاره
پینځوس روپۍ میاشت په ځان ایښی وې اؤ د ۔ کمه وخته چې جېل
ته تللی یې هغه پیسې دی نه دی رارسولې۔زما یه په دې څه چې ته په
جېل کې یې که باهر زما خو خپله ګوزاره په کار ده۔ته به ژه ر ماته
هغه ټولې پاته پیسې اؤ پور مه خ پینځوس د ۔ میاشتی را رسوې
کنې زه په میانځ ګرې (عدالت ) کې ناله بنت ده ر باندی کوه م ۔ خو
ما څه کلك جواب ورکی اؤ په دې می پوه کی چه زه نه سردار یه م
اؤ نه سرکاری نوکر چې د ۔ داسی ګوابنو به بېرېږه م اؤ پیسې به ده ر
کوه م خره دی ایله دی ۔ نو هغه هه م چوپ سو ۔



Scanned with CamScanner

## د ـ انګرېز يو خوشي خو ناپېښه چل

چي زه لا په جېل کې وه م د ـ کوټي د ـ خان بهادوراينه دين خان يو زوے چي په اوغانيستان کې اوسېده او اوس هه م هوړے دی ـ ګوليستان له زما وروړ له وورغلي وو او پتهے د ـ هغوے پوړ نامه يو خت وورکړی وو چي دا په کابه ل کې د ـ روس لوے ايلچي راکړی دی وروړ مي وايي چي څه بېل او ناپېښه شان لوټه (لفافه ) وه د ـ باندی يه بېل رنګ وو دننه بېل توړ رنګ وو او ښه خنډ چي د ـ دننه شے د ـ باهر نه په هيڅ توګه نه ښکارېده ـ په تېزه روڼا هه م ـ وايي ما چي لوټه وشلوله لومړے خو د ـ هغه استازی يوه چره ( فوټو ) جيني را پرے ووت چي ګوا دا سړے باوری دی او هه م په لاس رالېږه ل سوی دی ـ بيا يو خت وو په هغه کې ليکلی وو چي ستا وروړ چي د ـ باندی وو موږ به کومك ووړسره کاوه روپيې به مو وورکولے خو اوس چي دے نسته تاسو به تنګ ياست موږ د ـ ده د ـ کور د ـ خرڅ او ستا



Scanned with CamScanner

کومک ته اوس هم تیار یو ته به د ـ دې سرې په لاس جواب راکړے
چې شتا د ـ کامې کار او ځان لپاره څومرې پیسې په کار دی ؟ ورور
می وورته ویلی وو چې زما ورور خو به ته ل د ـ خرڅه تنګ وو ځپله
مځکه او اوبه بېې خرڅولے کار بهې په چلاوه ـ زه خو د ـ هغه په دا شان
پیسو خبر نه یم او نه زه کامې کار کوم نه په خبر یم ـ هغوے
وایې چې زړه مې غوښته ت چې واك والان په خبر که م خو په دې پوے
وم چې څه په جوړه نه ده سړے د ـ انګریزانو جاسوس دی ـ هسې به
می ځان په پېښو او په جنجال اختۀ سی سړے مې په جوړه جواب کړی
د ـ ورور سره مې دا شان یو به ل ځه ل سوی وو ـ زه په ډیلی کی یا به ل
چېرې وه م یو وخت مابنام درې تنه پنجاپیان او هیندکیان یو سیك
یو هیندو او یو موسلمان د ـ هغوے ځاے له ورغلی وو او وورته یه
ویلی وو چې موږ د ـ هیند د ـ بمبازی ډلی غړی یو ستا ورور به ته ل
موږ ته وسله تماچېے ـ ټوپکان او کارتوس راکوه ل د ـ هغوے سره
موږ بها تاکلے وه تمانچه په شپږ سوه ټوپك په اوز او کارتوس هم م
داسې موږ خبر نه وو چې دے کوم نسته او رالو اوس ته میهربانی وکه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خالي لاس نه سو ټلاے هر څه وسله چي هغوے ځموږ لپاره غوره نه کړه وي هغه به راکړے کني. په زور ډوے کړے را پیدا که بهانه بهے درکو. وروړ مي دا څه ل ډېر بد وورته ویلي وو چي ښه مو پېژنه م چي د. انګرېز جاسوسان یاست چي سرکار ده ر خبر که م څه په جوړېږي نه اوځ خپله مو هه م وهه م ټکوه م نه پردیسان اوځ زما مېلمانه یاست شپه تېره کې اوځ سبا له وختي پښے باسي چي بیا مو دلته ونه وینه م. دا شان یو تن یا ځیني کسان نور هه م وو خو هغه راته د. جاسوس په ځاے ټګ یا ټګان (نوسرباز) ښکارېده یا به ډواړه وو ولي زما په ناویسیا (غیر حاضري) کي به چاله ورغلي وو پښتون یا پښتانه اوځ څه دغه شان پلمه بهے جوړه کړله اوځ په پاے کي بهے د. خرڅ په پلمه پیسے وغوښتے یو بهے وړے. دا سړے یو څه ل ته ر زلزله وړاندي په کال ۱۹۳۲-۳۳ کي چي د. ښاغلي ایوپ خان ټلار په کوټه کي ای. اے. سي وو اوځ ایوپ خانے د. انګرېزي کار لپاره د. ځان سره ساتلي وو د. هغوے خپله انګرېزي نه وه زده په داسي وخت کي ایوپ خان له راغلي وو چي زه په ډیلي کي وه م. ایوپ خان تے ویلي وو چي زه د.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

باچاخان خّپه ل اؤ خودایي خیدمتګار یه م باچاخان اؤ نور مشران خو
په جېل کی دی زه ده کار لپاره په ټ (فراری یا انډه ر ګراوننډ ) ګه ر
زم اؤ د ـ دوے د ـ بروسے اؤ خّپه ل د ـ آرام اؤ آزادی لپارے دا هه م
وورته ویلی چی ّستا سره په کور کی نه سه م اوسېداے هسی نه چی
پولیس را خبر سوی وی اؤ ما ونیسی اؤ ته او ّپلار دی راسره په جنجال
کی ولّوبېږی په ښار کی څه ورکوتی اوْ نابلده شانته هوټل راله ګوره چی
ّشپه ّذوے تېری که م دے به هه م راسی ډېر ّدروند اؤ په ټ کار می دی
وورسره هغوے د ـ ده په خّوښه یه یؤ هیندو هوټل کی دېره کړی وو
خّود به د ـ هیندو په نامه وی بله ّروزے هغوے ته ویلی وو چی دے
خو نه راغی اؤ زه دلته نه سه م پټېداے بیرته څه م هسی نه چی ومی
نیسی اؤ کار دا وو چی د ـ روس له غاړی پیښوه ر له لس لکه روپی
رارسېدلی دی د ـ هغه ځاے خلګو ویه ل چی دے خبر که چی خّپله
راسی یا څوك را ولېږی اؤ خّپله برخه راوړی دے خو نسته تا اؤ دے به
سره خبر یاست اؤ تاسو هه م زّمور خلګه پېژنی ته راسه اؤ پیسے راوړه
ـ هغه وورته ویلی وو چی زه خو په دے نه یه م خبر چی ده ته څوك

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پیسې ورکوی اؤ نه زه ده ر سره ټلاے سه م سّتا یه په مخه ښه چې
دے راسی زه بې خبر که م بیا یه څه پلمه ورته کړے وه یاد می نه دی
چې څنګه چې پیسې راسره نسته که راځه غلا سوے اؤ یؤ پینځوس
روپۍ یه جینی اخیستی وے۔زه چې ورغله م دوے خبره راته وکړله زه
په خندا سوه م چې پیسې خو نه درځه ووهلے ؟ هغوے وے ته څنګه
پوے سوے چې پیسې یه رانه وړی دی ؟ پیسې خو پینځوس د ۔ خرڅ
لپاره یو ورلے چې نه ن سبا بې رالیږی۔ما وے خیر دی هغه بې نو ده ر
ته راولیږی خو ماته دا د ۔ پیریانانو شانته بوده (قصه ) دا شك را
اچوی چې دا هه م سرے دی چې په ټول هیندکی په ببلو نمو د ۔
باچاخان پور نامه وهنی کوی۔

یؤ وخت د ۔ جوکماباته د ۔ اسلم جان خت راغی چې د ۔ پېښوره یو
سړے راغلی وو سّتا سرې کار وو دالته نه سی ده ر ټلاے په ټپلانکی
ځوز بیرته راځی ته به ځان راورسوے کارے ماته نه وایه ۔ ما تار ورکی
"پام کوه چې پیسې ده ر نه یو نه سی زه خت دهه ر لیږه م۔" په خت
کی می وورته ولیکه ل چې داسی سړے دی اؤ داسی وهنی کوی که



Scanned with CamScanner

هغه وو نو ټیا به درنه سی اؤ که ټیا هه م درغی نو تار راکه زه به
درسمه ـ د ـ هغه جواب راغی چی پیسپے خو ډوھ سوه وړی وپے خو زه
د ـ روړی پهر تپسه ن ناساپه پور پپښ ښوه م پیسپے یه بیرته راکړلے
خو ښتا لیدو له نه راځی ته ځان مه زهیروه ماته دا د ـ پیسو د ـ بیرته
اخیستو خبره روشتیا نه ښکارپدله ځینی خلګ هسی دا بد کار ګنی
چی زه چا تیر ایستله م نو خپه ل تاوان پتهوی ـ چی ټیا مو سره ولیده
ما به باندی خنده ل ـ یو ځه ل په مهو چاونی کی ژموړ د ـ کلی
مامد شا شمك زی له چی هلتپے سوړ کاوه هه م یو پښتون پپښورے
ورغلی وو اؤ ژما پور نامه یه څه پیسپے جینی اخیستی وپے چی په
ټلانکی ځاے کی د ـ ده جیب وهه ل سوی وو ببپے خرڅه ناست وو زپے
تاله را ولیږله م ـ

زه لا په جیل کی وه م چی ښاغلی اسلم جان مچ له راغی هلته اوسپده
ـ نیزامی سره یا چی هغه به نه وو ژموړ کار مار ببپے کاوه ـ د ـ ده
ته ر راتلو ګراندی چی نیزامی به نه وو ژموړ کار به د ـ ښاغلی اوړنکا
ښځی کاوه ـ اسلم جان څه وخت دااته وو ټیا سرکار د ـ دغه ځایه هه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

م د ـ تهاك د ـ توريزينى (قانون جرائم سرحدى ) ته ر ۳٦ نمبر څانګه
لاندى ويپوست اؤ هغه جوکمابات له لاړ اؤهلته دېرهٔ سو ـ کامی کار
بېې کاوه څه وختېې د ـ مولانا کوهاوه ړ په اخبار "الهنیپ" کی کارکاوه
بیا یه خپه ل اخبار "کمال هیند" چلاوه ـ

په جبل کی پور موړ د ـ کال ۳۵ـ۱۹۳٤ ژمی ډېر په سختی تېر سو
ولی ته ر نوړ کله څه زیات بارانونه اوربده د ـ مچ اوخاری سیلی اؤ
بادونه چلېده ـ زیاتره وخت به باهر اوبه یخے کېدلې د ـ کوټی په شان
نلان خو به نه بندېده خو ته ر نلکو لاندی اؤ پور شا اؤ خوا پرش به ته ر
ډېره ځایه خرمنونه کنګل پروت وو ـ زموږ په کوټو کی یوازی دانه
چی د ـ تودېدو یا اوړ څه سریښته نه وه ـ ورے هه م پوره نه بندېده اؤ
د ـ شا پاله ورګے چی درے پله اؤ دوهٔ پلهٔ وو پور هغه څه پردهٔ یا بله
پنا هه م نه وه ـ خو بس د ـ لمرښته رګه چی کله به وه اؤ د ـ جبل
توری شړی مو پردهٔ وے ـ زیاتره به په هوتو په کوټه کی دننه په کمبلو
کی پېچلی پراته وو باهر به ناستی یا ګه رزېدو له نه سو تلاے ـ اؤدس
خو پرېږده د ـ لمبا لپاره هه م نه تودے اوبه وے اؤ نه داسی بند ځاے

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چې سړے د ـ باده څوندې وی ـ ډېر بنديان چې به څپه ل د ـ بيې ځايه دين دوستی له مخې سهار وختی و دغه باد ته ته ر نلکه لاندې ولمبيده بيهوښه اوُ ناجوړه به سو ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# زلزله

د ـ کال ۱۹۳۵ د ـ میی د ـ میاشتی د ـ دیرشمی روزی په ماښام چی پڑیواتو بیے غمه بیے غمی وه د ـ هیچا دا ګومان هه م نه وو چی کنی په دے شپه به پور بلوچیستان داسی ذرنه لوییږی چی ښهار له به په زرو کسان مړی اؤ په لکو به بیے کوره کیږی ـ خو د ـ شپیے څه وخت ناساپی راویښ سوم څه ډیر زیات درازه وو اؤ مځکه ښورېدله زلزله څه اوږده اؤ زوروره راته ښکاره سوله ـ په موږ پسی ور جندره وو هیڅ بله چاره نه بیے زغمه ځوا کی می ښاغلی کورد ته ږغ کړه ل هغه وے "څه وایبے ؟" ما وے تیاری کوه ؟" وے "د ـ څه" ما وے "د ـ مرګ به ل د ـ څه ؟" توبه ته دا وخت هه م ټوکی کوے ؟" په دے مځکه نوره هه م په زوره وښورېدله ـ برېښنا بنده سوله اؤ بتی مړے سوے ـ باهر د خه ښتو د ـ راپڑیوتلو ږغ هه م پیدا سو ـ اؤ زلزله بنده سوله چی تپوس مو وکی څه د ـ پاسه ذرے بجے وے ـ لس پینځله س مینته پس د ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

جېل واك والان اؤ پرنګے ړاغله وګه رزېده څه ډېر تاوان نه وو سوی۔وے خیر دی۔ سهار ته د ۔ وړه لیری کېدو اوسرکاری وخت ته لا یوه نیمه ډوے ګانټے پاته وے خکه دوے وړونه لری نه کړه ل ته ر سهار ډوه خله نوره هه م مخکه وبسوربدله ځپله خو می څه باك نه دی په کړی د ۔ ناچاری نوم زغم وی ځو پور نورو بندیانو به هر وار ډېره یره تېره سوله اؤ د ۔ شاخوا بارکونو څه به د ۔ نارو بوغارو ۔ پزل پزل ۔ ډېر رهده ده ر هده بږغ پورته کېده ۔ خو واك والانو لا خپه ل وتاکلی وخت ته کاته ۔ د ۔ بندیانو ته ر ژوهه ند د ۔ دود (قانون ) پابندی زیاته په کار وه ۔ سهار وروڼه لری سو اؤ د ۔ جېل ژوه ند د ۔ پخوا په شان پېل سو ۔ هیڅ نوے خبره نه وه چپ د ۔ دے چی ډره سته روز به له ږ وخت پس مخکه بسوربدله کله وړو کله په زوره ۔ ماپښین ډرے بجے چی نوی سپاهیان راغله لا په مچ کی هیڅوك د ۔ کوټی په نږېدو خبر نه وو خو څه څه بږغ پیدا سو چی په کوټه کی تاوان سوی دی شپږ بجے چی نوی سپاهیان راله هغوے پوره خبر راوی چی یؤ هیندو ایس ډی او خپه ل په ټکټکه ( موټه ر سایکل ) سهار کوټی له تللی وو چی خپه ل د ۔

کوړ اؤ خپه لوانو خبر واخلی ـ اؤ اوسے د ـ کوړ شپږ او وه مړی اؤ څه زخمیان په لاری کی راوړه ل لګیا دی سوځی یه ږغه وایی چی ټول ښار رنګ سوی وو هیڅ پاته نه وو ـ سرھ د ـ دے خبره اؤ سره د ـ دے چی مځکه برابره لګیا وه ښوربدھ د ـ جېل واك والو بندیان په کوټو کی بند کړه ل د ـ شپږے ھه م مځکه څو واره وښوربدله د ـ شا و د ـ خوا بندیانو د ـ ښوره موږ ھه م ښه خوب ونه کی ـ خو سهار سو ـ سهار می پرنګے راوغوښت اؤورته می وویه ل چی " ته دا څه کوے پوره څو میله کوټه رنګه سوله په زرو خلګه مړه اؤ ژوبه ل سو دلته ھه م په روز اؤشپه کی څو څو ځله مځکه ښوری اؤ دا ځاے چی یو وار په کال ۱۹۳۱ کی ھه م رنګ سوی دی څه بیا نه سی رنګیداے ؟ تا بېګا بیا د ـ خوداے دا پینځه سوه بیے وسه بندګان په بارکونو کی بند کړی وو وژنے یه که څه ؟" دا شان می څه په جوش خبری ورته وکړے ـ وے " زه څه کولاے سه م ؟" ما وے " که نور نه وی دا خو کولاے سے چی د ـ شپږے بندیان مه بندوھ په یوه ارت غولی کے باهر پرېږده لکه په کال ۱۹۳۱ کی ـ" وے " که ولاړ سی یا څه شر اؤ ورانے جوړ کی نو جواب

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بېې څوك ووركوى ؟" ما ورته "داَ ستاسى د ـ جېل د ـ واك والانو
خوشى كهانده ده چى هر بندى به ته بنتى اؤ اوس تاسى را تهينګ كړى
دى.په كال ۱۹۳۱ كى كله وته بنتېده چى اوس به ځى ؟ هغه وخت خو
لا د ـ جېل د ـ كلا ډوه اړخونه هه م سر ته ر پايه نړېدلى وو چى
اوس لا روغ دى اؤ كه هڅويو څو كسه ولاړ هه م سى نو دا به بنى وى
كه دا چى په سوو كسان مړه سى ؟" ورته په كال ۱۹۳۱ كى خو دلته
سركار د ـ پوج يوه كمپنى رالېږلې وه باهر د ـ هغوے چوكى وه ګرانه
دا ده چى كوټى ته هه م نه لار سته نه تار چى د ـ بالا واك والانو سره
خبره وكه م " د ـ څه خبرو پس يه ويه ل بنه دى زه به په څه توګه د ـ
بالا واك والانو سره خبره وكه م ته ر مابنامه به څه چل وكو" نبغ د ـ
دغه ځايه په خپه ل موټه ر كى كوټى له تللى.وو. اؤ په څه خوارى
رسېدلى وو ولى يو ځاے ډوه لار وړانه وه ـ هلته لاټ ليدلى وو چى
كېټه ر نومېده ډېر ځانه خوبنه (مغرور ) اؤ هوډى پرنګے وو اؤ خپله
هه م په زلزله كى لاندى سوى اؤ ژوبه ل وو ـ هغه ته ويلى وو چى
ځما ته پوج راكه چى زه د ـ جېل د ـ بنديانو بچاو وكه م"؛ هغه وورته

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ویلی وو چی څو تنه بندیان دی ؟" وې " څه د ـ پاسه څلور سوه " وې " واړدان اوْ پولیس څو دی ؟" وې "نیژدې ډوه سوه " وې " بنه نو ته لا نور هه م غواړې ـ دې ته نه ګوری چی دلته زما څومری مړه ژوبه ل اوْ وری خلګه په غاړه دی اوْ څومری نوکران را پاته دی " ته ډېر ناپوه سړے یې ځه څپه ل کار کوه " ماپښین بیرته راورسېده ـ سات پس د ـ جېل ډوه واړه واك والان ژموږ غولی ته راغله وګه رزېده وې چېری د ـ بچاو ځاے ګورو مانسام مو دباندی راباسو ؟" ما وې " دلته خو د ـ بچاو ځاے نسته چېری به ل ځاے ګوری د ـ څلره م اوْ ډویه م بارك غولی ارت دی " اوْ هغوے وْلاړ ـ



Scanned with CamScanner

## جګړه د ـ واك والانو هوډه اؤ ځمونږ تینګار

ماځیګر شپږ بجې ځمونږ د ـ ډوډی سره چی جمادار راغی وې " تاسی تې په پښو کی کړې نه دی لګولی ؟" ما وې " نه ـ کړې څه وی اؤ څه لې رالګوی ؟" وې " ولی د ـ شپې به باهر نه یاست ؟" ما وې " یو به خو کړه د ـ څه له پاره ؟" وې " کړې به ده ر لګوو ټولو بندیانو ته لګېدلی دی اؤ په هغه کی به بېل "لوړې ځینځیر" اچوو اؤ د ـ هغه دواړه سرونه به لری په تمبو پوری جندره وی " ما دا شې اروېدلی وو د ـ پښین په جېل کی بې نورو بندیانو ته لګاوه ګومان می دی چی اوسې هه م وورلګوی چی څه ډېر زاوال جه ن ګنده اؤ د ـ شرم کار وو ټول بندیان به لکه په وندریارسه کی یوه لیکه اؤ یؤ په بل پوری تړلی وو چی یؤ به پور اړخ اؤوښت نو ټول به وورسره ویښ سو ولی هغه به زنجیر راکشاوه اؤ سماوه اؤ چی څوك به روږو بولو یا اؤدس ماتی ته کښېنوست نو بې هرږ مږه ټول ویښوه ل اؤ دومری ځینځیر



Scanned with CamScanner

بېړې رابنکه چی یوْ ګز ډوه بیرته د ـ سریا پښو خوا ته ولاړ سی اوْ
هلته د ـ ټولو په وړاندی په څه لوښی کی اوْدس مات کی چی ټوله
شپه به هه م دالته وی اوْ بوړے بېړې باندی ځی ـ ما ښاغلی کوږد ته
وویه ل چی بېل خو دا شان وی ښتا څنګه خوښه ده ـ زه خو چی یو ځه ل
نه سه ل ځله په زلزله مړه م یا می دوړے وژنی په خوښه دې ته غاړه نه
ایږده م ـ هغه وې "زما هه م داسی خوښه ده" جمادار چی دا زموږ
خبری اروېدې شېر مامد نومېده بروهی وو ـ وې "څله خوشی خبری
کوی اوْ ځان خرابوی دا د ـ ساب پرېکړه ده اوْ ټولو بندیانو ته لګوی
هرو مرو به ده رلګېږی ـ" ما وې "ته ځان مه کړوه اوس لا وختی دی
دا روټی دی هه م یوسه موږ ې ته ر هغو نه خوږو چی د ـ دې خبری
پرېکړه کېږی ځپه ل واك والان اوْ پرنګے دی خبر که" هغه لاړ څه
وخت پس ښاغلی شیخ ایکرام الی راغی ټپوسې وکی اوْ موږ ځپله
خبره ووږته وکړله ولاړ بیرته دے اوْ پرنګے راغله ډېری خبری مو سره
وکړلې ـ خو دوړے پوړ هغه ځپه ل ځره سپاره وو په ژیاته پرنګے ـ زموږ
خبرې نه اروېدلې ـ پرنګی راته ویه ل چی دا څه خبره ده چی تاسی به د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ـ نورو له مخه اوٌ نور ښتا سو په وړاندی بوڅی کوی ؟ زه به اوس ښتاسی په وړاندی دلته بوڅی وکه م " ما ووړته وه " چی ته به کواے سے موږ نه سو کواے .موږ ته دا لویه بے شرمی ښکاری اوٌ که تاسی کوه ل اوٌ نه شرمېدے اوٌ زما پښے آزادی وی نو که تا نه سه م ګډ زولاے نو زه به ده ر نه لری سه م اوٌ چی پښے می بندی وی نو به ناچاره یه م ـ" دوے بیرته لاړ اوٌ هغه نور بے وسه بندیانے په زیلو (بیلز) کی بند کړه ل نیژدے نه بچے بیا راغله اوٌ بیا یه هغه خبره کوله په پاے کی ما ووړته وویه ل چی دا هر څه خو ته زموږ د ـ بچاو لپاره کوے اوٌ هغه هه م زما پور خوښه زه دا د ـ بے شرمی بچاو نه غواړه م ته ر دے مرګ راته اسانه دی بېشکه موږ دننه بند که " نو په روښتیا یه موږ دننه بند کړلو اوٌ کیلی ( چابی ) یه هغه سیك پاره دار ته ورکړه چی کله زلزله سی دوے په تلوار را پړانزه ما ووړته په خندا ویه ل چی زموږ سره دا سپاهی خوار مه وژنه زلزله څه دے له خو نه راځی چی موږ اوٌ دے خبر کی هغه خو یو سیکه نټ وی هسی نه چی دے موږ پړانزی اوٌ خپله راسره لاندی سی ـ" خو دوے موږ بند کړو اوٌ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ولاړ۔موږ سیك ته وویه ل چی " سردار جی ځان چېری بچ که موږ خوداے ته پرېږده له خوبه مو مه باسه " د ۔ شپې زلزلے هه م وسولے اۋ موږ په آرامه خوب هه م وکی ۔ اۋ ډرے شپے لا نوړ هه م دغه شان بند وو ځلرمه شپه چی د ۔ چابره اۋسر نه یه تپوس وکی اۋ نه خپله شرم ورغی ۔ موږے باهر پرېښوو اۋ ځینځیرے نه راواچاوه ځو روزی داسی د باندی وو چی په دے کی یوه شپه څه له ږ باران وسو د ۔ سوونو بندیانو پرانسته شماره ل اۋ به ل ځاے بندوه ل خو کېداے نه سو ځکه هغه باران ته پراته وو په زیاته د ۔ درمانتون ناجوړان سهار له واك والانو بیرته دا پرېکړه وکړله چی بس دی زلزله اوس نه راځی اۋ بندیانے بیرته په بارکونو کی وتړه ل۔

دا وو د ۔ هغه وخت انگرېزی جېلو اۋ د ۔ انگرېزی سرکار انگرېزانو واك والانو اۋ د ۔ هغوے د ۔ دېسی بالکیانو سریتوب او د ۔ سرکاری سرینبتیے ( لا اینلا آرده ر ) مراد ۔ ارمان دی چی هه م دغه رۋ لا ته ر اوسه د ۔ پاکیستان په جېلونو کی روان دی که څه هه م دوډ (قانون) خو څه څه بدل سوی دی ۔ آزاد اۋ نیم آزاد (Open & Samy Security) جېلونه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پوړ کاغزانو جوړ سوی دی ـ خو ځکه چې واك لا هغه شان د ـ انګرېزانو د ـ هغو زړو بالکیانو په لاس کې دی.پوړ دوړ ځوك چلېږی نه د ـ هری پوړ دا جبل چېری چې زه دا تکی لیکه م نیم آزاد جبل دی. (Samy Security )خو تېر کال په سخته ګرمی کې هه م بندیانو ته د ـ باهر څه ملاستلو هغه سوړان د ـ پرنګیانو دې بالکیانو ورنه کی که م چې دوړ (قانون ) ووزکړی وو ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د ـ يو پرنګي واك والا سره خبرى

ګومان مى دى چى د ـ زلزلې پس د ـ کال ۳۶ـ۱۹۳۵ په ژمى راجرس نومېده يو ډېر لوے مرجه ن ـ بد خويه اؤ ښرابن (حريص) پرنګے د ـ جېلونو ښته ر واك وال (اينسپکټر جنرل ) جېل ته راغى ـ يخ وو زه پيټاوى ته ناست وه م د ـ ځپلو يه ماته وے " څه کړاو خو ده ر ته نسته ؟" ما د ـ نور کله په شان وورته وے "نه ښتا ميهربانى ـ" وے "نه که څه کړاو وى يا دى څه ځيز په کار وى يا څه کمے وى نو ماته وايه" زه څه هېښبه ښوه م چى دا لا څه دى ـ وے مى " دا ځاے خو د ـ آرام نه دى د ـ کړاو اؤ تنګى ځاے دى که ښتا مراد وى چى له دوده (قانون ) چپ څه کړاو به وى خو هغه نيشته ـکنى ده ر ته ويلى به مى وو ـ وے " نه دا مى مراد نه دى هر څه کړاو چى دى وى يا د ـ څه ځيز کمے وى نو ماته وايه ـ" ما وے " کمے خو د ـ ډېرو ښيانو دى زه به څه ووايه م ؟" وے دغه خو زه ده رنه تپوس کوه م ـ" ما وے " دستى خو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ژیات کړاو راته د ـ یخ دی ـ نه می کوټه بنده ده اؤ نه یه د ـ تودیدو
څه بندوبست شته دی ـ " وې " دا خو د ـ خوداے کارونه دی په دې
پسی خو زما یا د ـ به ل چا لاس نه رسی ـ " ما وې " چی ستا واك اؤ
لاس دومری لنډ تنګ دی چی د ـ ډوډ آنو ـ د سولو لړکی کوله یا
سکاره دی په وس کی نه دی نو ولی رانه تپوسونه کوې ؟ " وې " اوهو
ستا خو خوابده سوله ـ پور تا چا زور کړی دی چی په دې یخ کی دلته
کښینه ـ خپه ل په خوښه ناست یې ولی خپه ل کور ته نه ځې ؟ " ما وې
" ستا دا خبره روشتیا نه ده چی زه دلته په خوښه ناست یه م اؤ خپه ل
کور ته نه ځه م کنی ته لری که دا خپه ل سپاهی اؤ دا د ـ جیل ور چی
زه ځه م که نه ؟ " وې " که ته روشتیا ځې نو اوس ماته یؤ ووړوکی کاغز
راولیکه چی بیا به ورانے نه کوه م نو زه ده رسره بول کوه م چی ته ر
هغو به نه ځه م چی ته می هه م د ـ ځان سره نه یې بوتلی ـ " زه پوے
سوه م چی دا ټولی ناپښبه شان خبری اؤ تپوسونه سرے هه م دې له
کوه ل چی دا ناخواله خبره راسره وخیږی ـ خو دومری ناپوه یا لوے مره
جه ن (متکبر ) وو چی دا خبره یه په سمه توګه نه راته کوله ډیر خبنه م

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

رالیۍ اوۍ سر پښو ته می ورته کاته وې می " ته خو ماته کریشتان ښکارېدې ؟" وې " هو زه روغ ( Good ) کریشتان یم خو دا څه خبره ده ؟" وې می " ولی ټوله کریشتانی د ـ ښاغلی ایسا چار دې ښه وی پوره ځان ښندلو (قربانی)ولاړه نه ده ؟ څه هغه ښاغلیۍ هم خپه ل په هېواد کی په دوړ جهړ سوی د ـ پردو خلګو سرکار (Govt Of Foreigners Established by Law) د ـ یاغیتوب (Seldition)په توړ کی نه وو نیولی ؟ څه په سرکار میانځګری کې نه وو پېښ کړی ؟ اوۍ څه دا د ـ آرام سپیتانی (بزدلی ) اوۍ خپه ل چاری لار چی ته ماته ښیېی هغوې ته نه وه ښووله سوې ؟ یا د ـ هغوې په وړاندی نه وه ؟ که خوداې دی نه کوی هغوې دغه لار نیولې واې نو نه ن به کریشتانی چېری وه ؟ ځکه چی ستا خبره د ـ ښاغلی ایسا چار د ـ لاری چپه ده نو ما تپوس ده ر نه وکی چی ته خو ماته کریشتان ښکارېدې " سړې بېر پیکه سو اوۍ په زوره زوره یه څه پیکه غوندی خندا پیل کړله هو هو ته د ـ شهادت په چوړت کی یېې اوۍ روان سو ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## په دې هکله د ـ یوه به ل انګرېز خبره

سبا له د ـ جېل پرنګے واك وال راغی ماتے وے چی " تا پرونډ د ـ سته رواك وال سره څنګه خبری وکړلے ـ ما د ـ هغو له مخی د ـ شپې ښه خوب نه دی کړی تول وخت می په هغو کی رے واهه " زما ګومان سو چی دے لکه د ـ هغه وخت د ـ واك والانو چی خوے وو په هغه نیغو روشتیا خبرو خوابدی سوی دی ـ وے می " ولی ما خو څه بده خبره نه وه کړے ؟" وے " نه ـ بده خو هیڅ نه وه خو په دې کی می چورت واهه چی د ـ پخوانو شهیدانو خواری او زاوال خو به د ـ ډرنګ سات لپاره وه ـ خو بس د ـ توری ګیلوټین یا خنجر یو ګوزار به وو ـ یا چی ډېر به وو نو به د ـ یو لاښ یا ګرنګ نه رااړتاووه ل وو یا به د ـ زهرو یوه هینده وه زیات ته ر زیات به لکه د ـ ښاغلی ایسا چار دې ښه وی وزر ښمه پوره سلیب وه یا به د ـ روما د ـ زمرو او نورو ځیناورو څیره ل او یا د ـ پادریانو شکنجې وه یا په اوسنو وختو کی د ـ توب

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دم د ـ تهپه کړ شلیك د ـ بړېښنا کورسی یا د ـ زهری وړمے کوتکی.
دا سّتا سی دا خو ماته ته ر تهولو زیاته اؤ اوږده خواری ده۔په کلو په
جېلونو کی یو یو څپك (InCh by Inch)ورستېده۔دا ته ر هغو ډېر زیات زور
غواړی ـ
د ـ زلزلے پس به زموږ اؤ ښاغلی نیزامی اسلم جان اؤ د ـ باهر د ـ
نوړو خلکو ته ر میان زیاتره خبری تپوسونه اؤ خبری یا ختونه د ـ
زلزلے په هکله وو اؤ هه م دا شان د ـ جېل د ـ واك والانو سره په زیاته
په لومړیو څو روزو کی په ډویمه یا ډریمه روز د ـ ښاغلی نیزامی خت
راغی چی ښاغلی یوسه پ الی خان هه م په زلزله کی لاندی سوی اؤ
مه ږ دی لاندے لیکلی وو

"رہ گئی اپنے لئے ایك خیالی دنیا"

"راته پاته سوله تشه د ـ گومان دونیا"

په دې می زړه ته ر اند د ـ پاسه بد سو نیزامی ته می ولیکه ل چی د
ـ مرګ څه نوړ خبرونه اؤ نخښی نوښانے یه راته ولیکه اؤ لاندی می
وورته د ـ سایه ب دا کړی ولیکله ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چون شمع زندګانئ روشن دلان دمېست
اما دمې که باعث احیائې عالمېست

د ـ ډیوې شان د ـ ښکانو ژوه ند یو دم وی
خو په دې دم د ـ جهان ژوندون ټول سم وی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# د ـ خّپه لوانو کړاو

د ـ زلزلې په ډریمه ژوز د ـ جېل پرنګی خبر کړه م چی وّروړ دی راغلی ووـ ما بېګا مابنام پوړ تېسه ن ولید ـ د ـ هغه ډېر تلوار وو د ـ زلزلې په سهار ښتا په خیر خبر پسی راوتلی ووـ ریلونه بند دی لاری بندی دی ایله دغه وخت رارسېدلی وو اؤ دستی یوه بله ګاډی هه م تیاره وه دے په کوړ هه م نه وو خبر چی نوړو زلزلو هلته هه م تاوان نه وی کړی وې چی که پاتېږه م او سهار دے وینه م بیّا خوداے خبر چی د ـ واپس تلو لپاره څه شے کله پیدا که م ـما وورته وویه ل چی ولاړ سه بېے غمه سه دے جه ګ جوړ دی زه بېے خبر که م چی دے راغلی وو ـ نو هغه بیرته ولاړ " د ـ کّوټی په ښارکی نیژدې د ـ بلوچیستان د ـ هری لتی خله ګ اوسېده یا د ـ خپلو کارو له پاره به راغلی ووـ ځکه د ـ کوټی زلزله د ـ سرېتوب د ـ شریك غمه سېوا د ـ بلوچیستان د ـ هر کوړ که نه وو ـ هر کلی خّپه ل خانی غم هه م وو ـ زّموږ څه نیژدې اؤ لیری



Scanned with CamScanner

خپه لوان په ښار کې اوسېده ځينو ورو لوه ست کوه ل او څو تنه په دغه شپه په کارو پسې راغلي وو - ډېر پکښې لاندې سوي وو - څو نور ځوك نه وو زيانې سوي-يو مامد سليم خان چې لاندې سوي وو ملا يې ماته وه د - خان لاندې خوايه مړه او بهې واکه وه څه وخت په دغه زاوال ژوندے وو ډېر دارو درمان په سو-ته ر لاهور يې هم وړى وو بيا په نوے خوانې کې مه ر سو-د - کلې يو به ل کوږ چې په درمان پسې تللې وو ښځې نه ر جوړ ناجوړه ټول داسې وره ك سو چې ته ر پايه يې هيڅ درك ونه لګېده - زموږ د - کلې ښاغلې ازم جان او د - پيرالي زو د - کلې ځينو هلکان په ښوونځې (سکول ) کې وو او په اوتاك (بورډينګ ) کې اوسېده د - ښه مه رغه دوے د - زلزلے په شپه د - نورو هلکانو سره دننه نه وو د باندې بيده سوي وو او ټول بچ پاته سوي وو - څو چې سهارے دا دومره غټه وراني ليدلے وه وار ختا سوي وو هر څه يې په ځاے پرے ايښې وو او لغه ر د - غاړې په جامو کې پور پښو کوږ ته روان سوي وو-ازم جان ويه ل چې " وار له واره مې ګومان وو چې بس دا زموږ اوتاك ونړېده - چې له ر روڼا سوه ښوونځے او شا او



Scanned with CamScanner

ځوا خایونه ټول ړنګ وو او لازلزلې کېدلې نو مې ګومان سو چې لویه
روز (قیامت) دی. ژان زلزلته الساعته شیٔ عظیم") د - لویې روزې
زلزله څه غټ ځیز دی - ) بس را روان سو چې دووله س میله راغلو او
په کوچلاغ کې مو روغې ودانۍ ولیدلې نو پوه سو چې لغه ړه کوټه
ړنګه سوې ده نور ځاے بچ دی - "ځکه ژموږ د - کلي خلګه چې د -
زلزلې په سهار د - غرمې پس خبر سوي وو نو د - هر چا چې ثوك په
بنار کې یا ناکوره وو هغه په څه نه څه توګه را روان سوي وو په دوے
کې ژما مشه ر ورور هم په تانګه کې را روان سوی وو ولی مچ خو
په کال ۱۹۳۱ کې لا هم ړنګ سوی وو چې په کوټه کې ایله له ر
تاوان سوی وو او نه ن چې کوټه رنګه سوې ده نو مچ ګومان وو چې
خو به هرو مرو ړنګ سوی وی او زه په مچ کې وه م - هغوے ایله
ناوخته مابنام کوټې ته را رسېدلی. کوټه یه لیدلې وه مړی او ژوبه ل
خپه ل او بیګانه یه لیدلی وو لا نور هم وار ختا سوی وو خو څه ځیز
یا لار وه مچ ته د - رسېدو نه وه نه تار یا ټیلیپون وو شپه یه دالته په
زاوال او کړاو تېره کړې وه او سهار لې په څه توګه ته ر مابنامه مچ ته.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خان را رسولی وو او دغه وو چی هغه پرنگے یه لیدلی وو او بیرته د ـ
کوړ پخوا ستوڼ سوی وو ولی‌مځکه خو لا ښوربېدله هیڅ باور نه وو
چی په به ل وار دی گولیستان هه م نه وی ړنګ سوی ـ د ـ خوداے
پیښبی او ډرنے (واقعات او حادثات ) زلزلے ـ چلی (طوفان ) وباګانی
په هر وخت کی او پور هر چا پیښبېری خو د ـ ویښو او نېك مه رغه
کامو لپاره هغه د ـ ګټی که نه وی د ـ اخیستے (عبرت ) پیلامه سی
هغه وختی تاوانے د ـ وړاندی لپاره د ـ نور ویښتوب ـ تیاری او نېك
مه رغی پیلامه سی یو د ـ به ل په کومك خپه ل سوی تاوان له بېکی
او د ـ کام او سرکار په ګڼ زور داسی بند وتړی چی بیا داسی تاوان نه
پیښبېری او دا شان د ـ خوداے پاك په داسی ازمویښتو کی سوبه
ومومی ـ خو بېے بخته او بد مه رغه کام چی لو نخښه یه مریتوب او
بېے واکی د ـ "عبدا مملوکا لایقدِر علیٰ شیئ" د ـ به ل ته رلاس بېے
وسه بنده هه م هغه خواری د ـ خپله لاسه خو پته نوره ژیاته کی یوازی
ژیاته لا څه کوے د ـ خان او د ـ کام د ـ شرمولو پیلامه یه کی هه م
دغه په کوټه کی وسو ـ د ـ انگرېزانو مریتوب او د ـ انگرېزی سرکار

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ناخواله رۀ ـ خله ګ یوَ د ـ بله شلولی او بیرته کېږی ـنه څه ډله وه نه څه
کامی سرېښته هر سړے ځان ځان له وو ـ خو ّبیا هه م د ـ زلزلے په
سهار د ـ کلو ځینی خلګه ځان ځان له ښار ته رارسېدلی وو اوْ د ـ
ځینو خلګو اوْ پېژاندوی کسانو سرے څه ځان ځان کومك هه م کړی یا
د ـ داسی خلګو سره چی په لار کی باندی پېښ سوی وو اوْوورته ویلے
وو چی کومك راسره وکیـ ـ ّزما ّخپه ل یو تربور چی سرھ د ـ یوه واړه
بچی بچ سوی وو اوْ د ـ چا په کور کی چی دېرھ وو هغه اوْ یوَ به ل
تربور مامد سلیم خان لاندی سوی وو هغه وایی چی لا خه ړ سهار وو
چی د ـ کلی څو کسان راّغله اوْ چی ما وورته وویه ل چی دا سړی راسره
وکاږئ هغوے راغله اوْ کومکے راسره وکیـ هغه سړی مو راوکّښه ـ نو
ّبیا ّوړاندی ّولاړ ـ دغه سړے امینولاخان وایی چی ښه روڼا سّوله نو ما
هغه زخمیان ّپرېښووه ل اوْ ّخپه ل بچے می پور ورھ کیـ چی ّولاړ سه م
ګولیستان ته تار ورکه م چی څوك راسی اوْ دا زخمیان سمبال کی ـ دے
ته می هیڅ پام نه وو چی تار به چیرته پاته وی ؟ لس بچے به وے چی
د ـ ښار په ّمیان کی پولیسو اوْسرانو راوګه رزوله م چی چیرته ځے ؟ ما

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وې تار وورکوه مږزما ده خبرې ـ جامو اؤ رنګ راز ته چې وکاته وې ته څه په خوّد کې یېږې ؟ ما وې هو ښه روغ جوړ یه مږوې "ښکه روغ یېږې ته دانه وینېږې چې په ټول ښار کې هیڅ نه دي پاته ـ تار چیرته دي او سرېښته یه چیرته ده" ما چې دا واروېده نو د ـ خوداے پاك دا ایات رایاد چې وایي "وترالنّاسَ سُکارا وُماهُم بِسُکارا ولکن عذاب اللّٰه شدید" ته به وا خلګه نشه نه دي خو د ـ خوداے زاوال زوړوه ز دي."

ښاغلي ماسټه ر مامد ایوپ خان چې زموږ د ـ ډلي غړې وو ته ر اوسه لا ژوه ندے اؤ په اوغانیستان کې دي په دغه شپه په کوټه کې وو ـ او د ـ مارکېټ په خوا کې د ـ هیندوانو په واټ کې د ـ چا پښتانه په ځاے کې لاندي سوي وو ـ هغه وایي ما ناري وهلې ځینی خلګه راغلل سر او لاس مې چې بند وو راوکښه او بیا یه راته وویه ل ته ښه یېږې اوس نو خپه ل کار کوه مړې نه موږ وړاندي ځو چې څوك ژیات ژوبه ل اؤ د ـ مرګ وي هغو ته کومك ورکو ـ خو کیداے سي چې په دغه وخت کې به هله م ځینو بدو خلګو څه لوټ مار کړي وي یا

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بېږ د ـ چا پړوت ځيز ميز اخيستى وى ـ هغه هه م د ـ ښار ځينو
لوڅكانو ولى ته ر لس لس ميله پورى د ـ كلو خلګه پښتانه اؤ بلوڅ يا
د ـ ښار ښه ـ سپين روپى ـ اؤ مخوه ر خلګه خو هه م په ځوارى اخته
وو اؤ هر څوك په ځپه ل كور كلى اؤ ځپه لوانو بوخه ت وو ـ خو چې
څنګه خود به يا د ـ وار ختا ږوزى اؤ يا د ـ ځينو بدو اوسرانو د ـ لوټ
مار د ـ مينى له مخې ـ سركار اؤ د ـ هغه غټ واك والان چې ځياتره
ځپله هه م ټپيان اؤ ژوبه ل ږاته وو وار ختا سوى وو چې كه د ـ باهر
بلوڅ اؤ پښتانه را ورسېده نو لوټ مار به جوړ كى او په لومړى ږوزې
لا خلګه د ـ ښاره وايسته ل اؤ يا يه ځپه ل په نږيدلو كورو كى ايسار
او يو د ـ به ل له كومكه يه بند كږه ل اؤ سبا له خو تول د ـ ښاره
وايسته اؤ ښارې پوج او پوليسو ته په لاس وركې ـ په لومړيو څو ږوزو
كى پوج اؤ پوليسو چې څه له ږ ډېر كومك كړى دى لغه ږ د ـ ځپلو
اوسرانو يا غټانو مخورو او نامتو خلګو سره كړى دى چې دوې
پېژانده يا ته ر دوې رسېداې سو ـ ځوار او بېږ اسرې خلګه يه د ـ
ځپله كار اؤ د ـ هر چا له كومكه ايستلى وو ـ يو هوته لا څه څه كار د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ـ پاته ژوندۍ لاندې سوو خلکو د ـ راایستلو روان وو ـ بیا په هغه هم بند کې تر هغو پورې لا هم ځینې خلکه ژوندي راوتلي دي د ـ باهر نه چې څومره کومک له راتله په زیاته د ـ کانګریس د ـ ډلې خلکه چې لوی ډله وه په زه رګونو کسان درمانیان ـ داروګان سامان پیسې او وس یه ده رلود او د ـ بهار د ـ زلزلې په شانې پوره کومک کولاے سو. هغوے انګریز سرکار خپه ل د ـ ناپاکه او سپیرو (منحوس) کامې (سیاسي) مرادو لپاره بند کړه ل لغه ر ځینې‌نیمې سرکاري ډلې سور دار (ریډ کراس) سینټ جان امبولینس دوے یه څه له ر کسان راپرېښوده ل د ـ ښار کنډوالې او تر هغه لاندې دولت د ـ پوج او پولیسو د ـ ورو سپاهیانو او اوسرانو په لاس کې پاته سو ـ او څومره چې د ـ دې خلکو د ـ خوے او لارو چارو ازموده لري هغه ښه اندازه کولاے سي چې څه به هم نه وي سوي ؟ ما خو د ـ پاکیستان تر جوړېدو له ر وړاندې د ـ کال ۱۹۴۷ د ـ هیندو موسلمان د جنګونو په شپو کې ولیده چې سرکار هیندوان او سیکان له خپلو کورو وایسته ل او په ښار کې بېل په کیمپونو کې‌واچوه ل د ـ ښار کورونې بند او موهه‌رکړه ل او

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د ـ ماښامه ته ر سهاره یه کوړ بندی (کرفیو ) ولګاوه چی ټهول خله ګ
بند اؤ پوړلیس آزاد وو ـ چی د ـ دغو بندو کوړو د ـ مالو سره څه هه م
ونه سو ـ په زلزله کی د ـ ښار د ـ خلکو په ځیاته د ـ پردیسی
هیندوانو اؤ موسلمانانو څومره مالونه ولاړ هغه خو پرېږده د ـ ځیاتره
خلګو ګومان دی چی په پینځه دېرش زره مړو کی نیم کسان ژوندی ته‌ر
خاورو لاندی مړه سو اؤ که سم کومك سوی وا‌ے نو چی هیڅ نه وا‌ے
په دغو کی نیم کسان ګوا اته ـ نه یا لس زره کسه نوړ هه م بچ
کېدلا‌ے سو د ـ خلکو دا هه م اندازه ده چی که خلګه اؤ خپه ل کار
سره پاته وا‌ے نو هر څه چی سوی وا‌ے د ـ مالو تاوان به هه م ته ر دې
کم وو لکه سرکاری خلګو چی وکی د ـ سرکار د ـ دې ځیاتی اؤ
ناسمیتوب له مخی په ټهول هیند کی ډېره خوابدی ښکاره کړه ښوله
وایی چی په کوټه کی د ـ هیند د ـ هر ځا‌ے خلګه ځیان سوی وو اؤ
تاوان وورسېدلی ـ خو انګرېز سرکار هیڅ نه منه ل اؤ هغه خپله خبره یه
نیولې وه ـ دا ځکه چی هغوے‌نه غوښته چی د ـ هیند د ـ ویښ اوله س اؤ
بلوچیستان ته ر مېان څه اړیکے ( تعلق ) پیدا سی ـ یا ټله راټله اؤ دا

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

شان د ـ دوی هغه ناخوالی ونړی ته څرګندی سی چی دوی د ـ بلوچیستان سره رااخیستی وه ـ نیژدی یو کال پس چی د ـ هیند د ـ خلګو څوابدی ناری اوډ د ـ نړی ملامته ل اوډ شرموه ل ډیر زیات سو اوډ دلته په کوټه کی د ـ دوی د ـ ناکړدو څه څرګندی نخښی نوښانی هم پاته نه سولی نو دوی د ـ ډیلی په سرکاری جرګه کی ده ته غاړه کښېښوولـه چی د ـ دغی جرګی د ـ غړو یوه جرګګی دی کوټی ته ولاړه سی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# زلزله اؤ سرکار ته ژما خت

د ـ زلزلې په ډریمه ژوز چې ماته د ـ کوټې د ـ تاوان څه اندازه ولګېدله نو ما د ـ بلوچیستان سرکار و ښته ر واك وال ایجه نټ ته یو خت ولیکه چې " د ـ زلزلې د ـ خبرو څه داسی ښکاری چې په کوټه اؤ شا اؤ خوا کلو کی بېې انته ډېر تاوان سوی دی ـ اؤ په لکونو خلګه په سختو کړاو اخته اؤ کومك ته اړ دی ـ ژما ګومان دی چې په دې وخت کی ژما لپاره هه م اؤد ـ سرکاره لپاره هه م اوس ته ر ډېره وخته اؤ د ـ هر څه نه ورانډی د ـ دغو زپلو اؤ نتلو خلګو خسمانه په کار ده ځکه په جېل اؤ زما د ـ ناستی اؤ ساتلو هیڅ مراد پاته نه دی ـ

سرکار له په کار دی چې ما پرېږدی چې زه د ـ سرکار سره په دغه لوے اؤ تلواری کار کی کومك وکه م " خو د ـ هغوے د ـ خلګو په بربادی اؤ خسمانه څه کار وو اؤ هغوے کله دا غوه ښت چې زه یا به ل څوك دی د ـ خوار اوله س په خوداے پاری خسمانه د ـ هغو په زړونو کی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ځاے پیدا کی اؤ یا دی وبرړی ته دا څرګنده کی چی خلګه په څپله توګه ته ر انګریزی سرکار ښه خسمانه کولاے سی۔ ځکه نیژدے څلور میاشتی پس کیته ر لاټ جواب راکی چی "سرکار به تا پر پړدی خو هله چی ته د ۔ ډرو کارو لپاره داسی لاس ګری راکړے چی ته به په هیڅ توګه د ۔ انګریزی سرکار د ۔ هغه د ۔ رایتو د ۔ بلوچیستان د ۔ سردارانو اؤ د ۔ بلوچیستان د ۔ ریاستو د ۔ نوابانو د ۔ تاوان اؤ بدنامی هیڅ کار نه کوے" که څه هم جواب ډېر ره ټ اؤ سوچ جواب وو خو زما په زړه کی په دے سخت وخت کی څپه ل د ۔ خوار اؤ بیے وزلی اوله س د ۔ خسمانے دومړی باړ اؤ ته نده وه چی زه هر څه ته تیار وه م خو ځکه چی یؤ خو وخت ډېر تېر سوی وو اؤ به ل زه په باهر هیڅ خبر نه وه م چی څه د ۔ خسمانے کار زما د ۔ کولو لا پاته هم دی که نه ؟ اؤ سرکار څه داسی لار هم پرېږدی چی سړے خسمانه وکی که نه ؟ نو می په تاروو که په خت د ۔ ګولیستانه مشه ر ورور اؤ ښاغلی ایوب خان راوغوښته چی د ۔ باهر په شان می خبر کی اؤ دا سلا راکی چی ما له څه کوه ل په کار دی ۔ د ۔ کوټی اؤ مچ نېغه لار لا بنده وه ځکه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هغوړے د ـ بوستان هرنائی اؤ سیوی پہ لاری د ـ څو شپږ د ـ کړاوه پس مچ لہ راغلہ پہ لاره کښے ښاغلی جام نوروړلا خان اؤ ځینی نور خواخوږی اؤ مل ګری هه م لیدلی وو اؤ د ـ دوے تهولو دا ګومان اؤ سلا وه چی دلته چی سرکار د ـ خسمانڼے کومه لار ایښے ده پہ هغه کی هیڅوک خپه ل د ـ مخی اؤ خپه ل پہ توګه هیڅ کار نه سی کولاے ـ چی مړه کېده هغه خلګه مړه سو ـ زېلی اؤ تپیان یا جهړ سو اؤ یا د ـ هیند اؤ سیند نورو ځایو ته لاړ اؤ یا شا اؤ خوا کلو ته ـ هه م دا شان بیے کوره خلګه د ـ خلګو لغه ړ دا اړی پاته ده چی د ـ هغوړے ږنګ کوروڼه وکینده ل سی اؤ ته ر هغو لاندی توړّی یا مال راوایسته ل سی اؤ دوے ته ورکوه ل سی یا بیا دا چی هغوړے ته به ل ځاے یا پور دغه ځاے کوړ جوړ سی یا دے ته پاته سی چی هغوړے پور هغه زاړه ځاییے یا پہ بدل کی به ل ځاے خپله مېنه جوړه کی اؤ دے ته سرکار هیڅوک نه پرېږدی هر څه کار چی کېږی هه م هغه دوے خپله پہ واری واری د ـ کوړ د ـ ښانده پہ مه خ کی کوی که هغه وی یا داسی کنی د ـ هغو پہ ناویسیا (غیرحاضری ) کښے کوی اؤ ته ر تهولو ګرانه هه م داده چی د ـ زیاتره

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ځایو خاوه ندان نسته سامانې سرکار راباسي اوّ څه چې پاته وي اوّ ته ر سرکاره ورسي هغه څوندي کوي اوّ دا کار بېږې سرکاره به ل څوك کولاے سي که دا ناخوالي اوّ بند نه واے نو موږ یا د ـ هېواد نورو خلکو به کار نه واے پېل کړی " خو بیا هه م ما لاټ ته جواب ورکی چې "ستابي له جوابه داسي ښکاري چې تاسي ما نه پرېږدي کني ژما نه د ـ بلوچیستان د ـ سردارانو په هکله اوّ د ـ ریاستو د ـ نوابانو په هکله لاس ګري غوښته ل چې نه سرکار دی اوّ نه زه د ـ هغوے سره څه اړیکے لره م به ل څه مراد لری څه ژما اوّ د ـ هغوے ته ر میان د ـ هېواد دوړ (قانون ) بس نه دی ؟ هیله لره م چې ته به څپه ل پور دې آرده ر بیا پام وکې " ژیات سخت اوّ غوه ټ جواب می څکه نه وورکاوه چې ما د ـ څپلي څوا د ـ ورانډي خبرو ور نه بنداوه ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د ـ ښاغلي هاجي اوۡدوړلا هاروڼ راتله

په دې مڼیان کی ډېر وخت تېر سوی او د ـ هیند د ـ سرکاری جرګې (اسمبلۍ) څه غړی چی په کوټه کی سرکار د ـ زلزلې د ـ سوی کار د ـ کتو او وړاندی لارو چارو لټولو لپاره رالیږلی وو ـ کوټی ته راغله او په هغو کی یو غړی هاجی وروستو سر اوۡدوړلا هاروڼ په مچ کی زموږ لیدو له راغی مشه ر زوے یوسه پ هاروڼ هه م وورسره وو ـ ما او ښاغلی میر اوۡدوړل ازیز کوړد د ـ جېل په دوتر کی‌د ـ ښاغلی شېخ ایکرام الی خان په مه خ کی وورسره ولیده ـ د ـ روغ بړ نه پس ښاغلی هاجی ته ر ټولو وړاندی په دې ناله ښت پېل وکی چی سرکار زما رنګه نوړو خلګو او زما د ـ سرکاری لارو چارو مل ګرو ته ډرانه نموڼه (خطابات) زیاتره د ـ "سر" نوموڼه وورکړی دی خو ماتې هیڅ نه دی راکړی وې چی زه د ـ زلزلې په جرګګی کی راغلی وه م کار مو سر سو نه ن د ـ لاټ او ستری مېلمستیا (ډینر) وه ـ خو زه دې پاله ترې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

راغله م ماوې څه هسې هه م سرکار چې زما د ـ اوچاوې د ـ ترون
(اوچاوه پېکټ ) وه تهوڵو ملو تې د ـ "سر" ډرانه نومونه ورکړه ل اؤ زه
لا خان ساب هه م نه يه م ماته څه نه راکوی نو ولاړ به سه م دے به
ووينه م " دا خبره يه په داسی توګه وکړله چې مونږ تهول په دې پوې
سو چې مرادې دا دی چې دا خبره سرکار ته ورسېږی اؤ هغه وه هه م
رسېدله ولی سبا له چې د ـ جېل پرنګے ماله راغی لومړی خبره هه م
دا راته وکړله چې هغه ستاسی مېلمه خو د ـ سرکاره په دې ډېره ګيله
مه ن وو چې ده تې څه ډروند نوم نه دی وورکړی اؤ دا پرنګے يوازی دا
نه چې هغه وخت له مونږ سره ناست نه وو په مچ کی وو هه م نه
دباندی تللی څکه زه پوې سوه م چې دا به ده د ـ ښاغلی ايکرام الی په
سرکاری خبر (رپورټ ) کی ليدلی وی ـ څه دلی دوری نوری خبری اؤ
زموږ اؤ د ـ سرکار د ـ ختونو د ـ سرکار د ـ ناخواله جواب اؤ ځنه
خبری وسولے ـ په پاے کې وې " چې زه به ستاسی په هکله لاټ ته
وليکه م " اؤ ځله بېل سولو ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# د ـ خوداے میهربانی اوْ زما پرده

زه ته ر اوسه لا د ـ ښاغلی کوړد هېر ښه منه م ولی چی د ـ تلو سره
هغوے ماته وویه ل چی په دے سرکاری خلګو هیڅ ویسیا نه وی په
کار خوښه دی نه ده چی کومی خبری چی زموږ اوْ د ـ دوے سوی دی
هغه ولیکې اوْ د ـ لاټ په لاس (معرفت ) یه وورولېږے ؟" نو ما
دستی هغه ټولی خبری ولیکلې اوْ د ـ لاټ پوړ پته می ښاغلی هاجی
هاروڼ ته ولېږه لې ـ څو ورزی پس د ـ لاټ یو خت ماله راغی چی "زه
د ـ ښاغلی سبټ اودوړلا هاروڼ د ـ خت دا لاندینے ټوك (ټکره ) ده ر
لېږه م آیا ته دے ته تیار یې ؟ اوْ هغه دا ده "ښاغلی اوْدوړل سمد خان
خپه ل پوړ چپه (غلطی) پښېمانه د ـ سرکار بخښ (معافی ) غوښتلو
اوْ په هره توګه ښتاسی تسلی کولو ته تیار دی هیله ده چی تاسی به
د ـ جېله پرېږدی" زه هېر هېښه (حیران ) اوْ خوابدی ښوه م خو هغه
ته می ولیکه ل چی "د ـ لیدو پس سم دستی چی ما ښتاسی په لاس

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کوړم خت سیټ هاروڼ ته لیکلی دی هغه په دے هکله ښه روڼ دی چی ژما اؤ د ـ ده کوړمی خبری سوی دی اؤ هه م دا شان د ـ جہل د ـ واك والانو خبر چی ته ر پایه راسره ناست وو " اؤ دا شان زه خوداے پاك د ـ دے سرکاری خواخوری د ـ ناپوهی د ـ شره خوداے وساتله م اؤ سرکار هه م دا خبره خورہ نه کړله لکه زیاتره چی به هغوے پوړ داسی وخت کوه ل ـ سیټ هاروڼ خپه ل دا خت زما خواره دوست ښاغلی مامد امین کوسه ته هه م لیږلی وو اؤ د ـ هغوے سره یوه ډوو نورو دوستانو هه م لیدلی وو د ـ تهولو ډیره خوابده سوے وه خو چی ښیا په خبر سوی وو ـ سوده یه سوے وه ـ



Scanned with CamScanner

## د ـ شومیا ګوابښ اوْ د ـ جېله راواته

ښه مې یاد نه دی چی په څه پلمه اوْ د ـ څه مُراد لپاره کوندی په جېل کی د ـ ښه روْ (بهتر کلاس ) لپاره څه وخت پس ما اوْ ښاغلی کوږد سرکار ته خت ولیکه چی "که په پینځله س "روزی کی زموږ خبره سرکار ونه منله نو موږ به د ـ "پلانکی وختنه څه شومی نیسو اوْ څه به نه خورو ـ اوْ په دې مو ښاغلی نیزامی اوْ نور "خواخوږی هم خبر کړه ـ اوْ دا خبره په اخبارو کی راووتله اوْ د ـ پنجاب سیند اوْ نورو ځایو اخبارونو ډېر څه باندی ولیکه ل اوْ ځینو نورو خلګه هم ـ



Scanned with CamScanner

# د ـ ښاغلی سېټ هارون سخت بيان

په دې هکله دغه بره سېټ اوډولا هارون اخبارو ته يو ډېر سخت بيان ورکړی چې د ـ دوي رنګه سرکاري سړی سره او د ـ دوي د ـ دې بره خته پس ډېره ناپېښېده خبره وه ـ ما چې د ـ ده پور دې ډوارو کارو سوچ کاوه چې څنګه يو سړے هم دا کوي او هم دا نو به په پاے کې دې ته ورسېده م چې د ـ دوي زړه بد نه دی او نه دوي موږ کامې خلګه راغوڅوه ل يا سپکوه ل غواړي لکه زياتره ګومان چې وو ـ دوي زموږ د ـ جبله راواته مراد بولي په څه توکه او پور کمه لار دادوي څه ډروند (اهـم) کار نه ګڼي ـ دوي به ښپه ل زړه او ايمان په دې سوکه کوي چې "په جنګ و مينه کې هر څه روا دي" لکه څېنې مولايان چې دا خوشې او ناخواله خبره په نبي اومبارك پورې هه م تړي چې "اَلْحربُ خِدْعَةٌ" جنګ دوکه ده" او دا مرادې اخلي چې په جنګ کې د ـ دوښمه ن سره دوکه روا ده ـ او د ـ دې سره د ـ نبي اومبارك چار دې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بنه وی دا کار اؤ وینا هه م راوړی اؤ منی چی ـ "د ـ بدر ته ر لومړی
اؤ سخت جنګ روز ډوے وړاندی چی موسلمانان ډیر له ږ اؤ وه یوه یوه
سری ته اړ وو کوریشو د ـ هغوړے ډوه ریشتینی اؤ غه بنلتی مله (
اسحاب ) نیولی اؤ په دے بوڼ (وعده ) یه پړے ایښی وو چی په جنګ
کی به ګډون نه کوی ـ موبارك دوے ډواړه په خپه ل لښکر ګډ نه کړه ل
وے خپه ل بوڼ به ساتی که په جنګ کی دوکه اؤ ډروغ روا واے نو ته
ر دے بنه ځاے به به ل چیری وو خو ـ خوداے دی ژموږ اسانی خونبه
مولایان وبخښی چی په داسی خبرو یه موسلمانان له کاره واچوه ل ـ
کله دوکه اؤ ډروغ روا ګڼی اؤ کله ځان د ـ مرګ په ډار کی اچوه ل ځکه
ناروا ګڼی چی خوداے پاك وایی " ولا تلقوا انفسکم بایدی کم الی
التهلکة " خپه ل ځانونه د ـ خپله لاسه مرګ ته مه وړاندی کوی ـ " اؤ د
ـ ایات هغه به ل تهوك "وانفقو فی سبیل الله" او د ـ خوداے په لار کی
بنندنی کوی ـ د ـ دے برخه اؤ وورسره تړلی نه منی ـ ځکه چی که دا
ومنی نو خود ـ آیات سم مراد به داسی چی د ـ خوداے په لار کی
بنندنی ( د ـ مال او ځان کوی ) کنی نو به د ـ خپله لاسه بربات سی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

- چی په بوخاری کی د - اومبارك چار د - وینا (حدیث) په توکه هه م
راغلی دی - اؤ چی وورته ووایےچی کے مراد دا وی چی - ځان د - مرګه
ساته ل پور (فرض) دی لکه ته چی وایے نو د - مرګ بیره خو په هر
جنګ کی وی په ژیاته د - زوروه ر سره جنګ لکه د - بدر غزا یا د -
بناغلی ایمام هوسین ځان بنده ل نو خوشی خبری اؤ پتهی (علم غیب
) ملکی اؤ د - هغو لښکر پلمه کی - ځکه خو پور تهوله نړی کامونو
خپه ل د - سر و مال په بندلو - د پردو اؤ خپلو باچهانو نه د - اوله س
آزادی - واك اؤ اوله س واکی (جمهوریت) وګتهه ل اؤ لګیا دی خپه ل
د - آبادی اؤ ودی کارونه کوی اؤ موسلمان یکی یو کام دی چی لا د -
خپلو اؤ پردو باچهانو - تهول واکانو (ډیکتیټر) سردارانو اؤ خانانو په
مریتوب کی پراته او هر چیری د - اوله س واکی نه بیے برخی دی - هر
ځوك خپه ل یا پردے چی په زور اوډنډه د - واك واکی په لاس کی
واخلی بس دوے دا د - خوداے کړه اؤ زور وګټهی او وورته پراته وی -
خپه ل د - ځان یا اوله س واکی لپاره هیڅ موسلمان اوله س ته ر ننه
هیڅ هه م نه دی کړی لکه پرانس - انګریز - امریکن - روسی یا چینی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اوله س چی وکړه ل یا یه نه ن د ـ هیند ـ اپریکې ـ اؤ نور ناموسلمانه
اولسونه کوی ـ په دوے کی که ښور یا بدلی راځی هه م هغه د ـ ځینی
داسی سړو لپاره وی چی دوے ته پیسې وورکوی اؤ جنګوی یه یا د ـ
دوے ځوښ یا ناخوښه وی د ـ اوله س واکی یا څه سریښتې (آئین یا
نظام ) لپاره ته ر ننه دوے نه دی جنګېدلی ـ ځکه د ـ انګرېزانو ـ
امریکے ـ روس اؤ چین جنګونه د ـ آزادی اوله س واکی کمیونیزه م یا
بلی سریښتې اؤ لاری جنګونه بله ل کېږی اؤ د ـ دوے دا د ـ سړو په
نامه یادېږی د ـ ښاغلو الی اؤ ماویه خوداے دی ټرې ځوښ وی د
جنګونه چیې راواخلے د ـ ښاغلی ناده ر خان اؤسکاو ته ر جنګه پوری
ځول د ـ سړو په نامه یادېږی ـ بیې وسلې اؤ د ـ زغم جنګ خو دوے د ـ
ره کړی هه م نه دی چی د ـ خپه سرکار د ـ سمولو اؤ بدلولو لپاره
کی یوه لار ده ـ ځکه خو د ـ موسلمانانو د ـ هېوادو په هره بدلی
ی اوله س هلهو له سره څوك لیکی هه م نه اوښ په څه شماری ـ ته ل
ـ دوو غتانو اؤ زورورو کسانو پور تخت یا واك جګړه وی ـ دغه
ډوه کله د ـ یوه باچا زامه ن (شاهزادګان وی ) کله ډوه جرنېلان یا

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سرداران اؤ کله یوړے خوا ته باچا اؤ بلی خوا ته څوك غل یا ډاکو۔دوے
خپه ل زوړ سره ومیچی هر یوٌ چی زوروه ر سی هغه د ـ اوله س مشه ر
وی ـ دا د ـ هغه خوښه اؤ ښه ځوانی وی چی ځان باچا بولی لکه د ـ
ایران ښاغلی رزاشاه پهلوی اؤ که نه مشه ر (صدر) یه جوړوی لکه
ښاغلی موستپا کمال او جمال ناسر۔اوله س په هیڅ کی نه وی ـ چی
ډیر وی نو اوله س د ـ یوه نه خوابدی وی اؤ هغه لیری کوه ل غواړی اؤ
په‌دے یه هیڅ نه وی چی به ل به څوك راځی سا د ـ که غل اؤ زیاتره د۔
ساد په ځاے غل راولی لکه د ـ غازی امانولا خان اؤ سکاو په پلایا
کله په چل اؤ جوره جاړه یو هغه به ل راوغورځوی اؤ د ـ خپلی اندی واك
په لاس کی واخلی اؤ دا د ـ هغه یوه تن اؤ د ـ هغه د ـ مل ګرو خوښه
وی چی څنګه سرینبته جوړوی یا چلوی ـ کے ښه جوړه کړله ـ لکه
ښاغلی موستپا کمال ـ ښاغلی جینا ښاغلی جمال ناسر اؤ ښاغلی
جرنیل ایوپ خان همے کوړ ودان اؤ زنده باد اؤ کے خپله باچهی اؤ تهول
واکی سازه کړله لکه ـ ناده ر اپشار ـ رزا شاه سکاو او ښاغلی ناده ر
خان همے کوړ ودان اؤ زنده باد ـ د ـ اوله س د ـ دے بیوسی اؤ بے

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هوښی ډېره څرګنده اوْ تازه نمونه د ـ پاکیستان هغه پېښه وه چی خّواجه نازیموډین (خواجه ناظم الدین ) په لاهور کی د ـ ښاغلی دولتانه چوپلی (منتخب) سرکار مات کی اوْ پور ځاے یه مله ك نون د ـ خّپلی خُوا ولګاوه د ـ پاکیستان اخبارو اوْ ژّیاتره د ـ موسلیم لیګ مخورو مشرانو ډېره خّوشالی وکړّله اوْ ده تې د "ناجی میلت" نوم ورکی اوْ چی له ږ ژّوزی پس ښاغلی غولامامد د ـ دغه "ناجی" چوپلی سرکار لری کی اوْ په ځاے یه خّپه ل له خّوا به ل سرکار ولګاوه هه م هغو خلګو بّیا خّوشالی کوله اوْ غولامامد زنده باد یه ویه ل اوْ دې ته هیچا نه کته ل چی دا په پاکیستان کی د ـ انګرېز د ـ پیل کړی اوْ پّرے اینښی له ږ ډېری اوله س واکی مرګ دی ـ موسلمان دا شان خّکه دی چی یوازی دانه چی دوے ته د ـ خّپه ل یا ّپردی زلنده څه خّپه ل واکی ګته ل اوْ سر اخیسته‌چانه دی ښورولی لا د ـ وخت د ـ سره یوے خّوا ته سرکار که د ـ اومیانو وو که د ـ اباسّیانو یا به ل چا په ډېره ناخّوالی اوْ سختی بېرولی ـ تهکولی اوْ د ـ داسی کارو بند کړی دی اوْ بلی خّوا ته مو لا هر داسی کار چی پکښی د ـ سر ډار وی ناروا

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کړی دی اؤ هر د ـ مهرانی کار وه زوروه ر باچا ته روښتیا خبره چی پاك
نبی سّته ر غزا (افضل جهاد ) بللے ده دوے د ـ ځان خون ( خود کشی)
اؤ په لاس ځان مرګ ته ووړکوه ل ګڼلے ده ـ اؤ د ـ خلګو د ـ زړو یه
ایستلے ده ـ هر چا چی په هره توګه واك په لاس کی اخیستے وی که
ځپه ل دی که پردے ـ که د ـ سره تاتاری دی اؤ که انګرېز هر چا چی
د ـ سرکار ډنډه ته ر لاسه کړے ده بیا یه هره ناروا لار چی رااخیستے
اؤ هره ناخواله سریبنته چپے جوړه کړے ده اؤ هر څه شندی چپے په کړی
دی دوے ووړته سرتېیټ کړی دی اؤ هغه تے د ـ خوداے سیوری اؤ د ـ
موسلمانانو کالخواے ( خلیفه یا اولی الامر ) ویلی دی چی نوړ
اوړسونه د ـ هېواد ـ په غم (تېیکس ) کی پوړ دوے پیسے زیاتوب یا
بله داسی خبره چی د ـ اولهـ س نه وی خوښه ځپه ل ځانونه اؤ بچی د ـ
ځپه ل اوړلسی سرکارګولو ـ ډنډو جېلو اؤ نوړو خوارو ته ورانډی کوی اؤ
سرکار ځپه ل په سریاز یو دے ته ناچاره کوی چی د ـ اوړلس خوښه
ومنی ـ موسلمان اوړلسونه ځپه ل د ـ سرکار د ـ لوېی نه لو ناکرده هم
په پته خوله منی ـ ځکه زموږ هر واك وال ځپله هره لار اؤ کار

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خوداییِ امر منی اوُ هر څوك چی د ـ دوے خبره په پټه ځوله اوَ تړلو سّته رگو نه منی هغه د ـ ځان لا نه د ـ هیواد ـ دین اوُ د ـ خوداے اوُنبی دوښمه ن گڼی كه څه هه م هغه ایمام ـ ابوهنیپه ـ ایبن تیمیه یا ایمام اهمد هنبل وی اوُ داسے په سختی وّركوی چی نوړ په ویروی ـ ځكه هر چیرے د ـ نړی په ناموسلمانه هیوادو كی د ـ سركاری ډلی سپوا اوُ د ـ هغو څه د ـ بیلی لاری ډلی اوُ سړی په آزادی ځّپه ل كاركوی ـ اوُ د ـ موسلمانانو په هولكو كی هیڅ یو سركار هه م د ـ ځان د ـ لاری له ر هه م چپ سړے نه ده ځّپلی ډلی پّریږدی اوُ نه د ـ بلی اوس اوس په هیند كی د ـ سركاری ډلی كانگریس اوُ د ـ جواهر لال د ـ سركار په غلیمی كی څو څو ډلی اوُ سړی لگیا دی كار كوی ـ څوك بیل پنجابی ولات غّواړی ـ څوك د ـ امریكے پوځی كومك ـ څوك د ـ پاكیستان دوستی غّواړی ـ څوك د ـ چین سره جنگ څوك په كشمیر كی د ـ خلكو خّوښه (راے شماری ) څوك سوشلیسټ دی اوُ څوك د ـ وینوبا اوُ جے پركاش مّله ـ څوك لا پكّښی كمیونیسټ دی اوَ ځینی لا پكّښی بیل ناگا هیواد غّواړی اوُ د ـ مراكشه ته ر لاهوره د ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مۆسلمانانۆ پە یوە هێواد کی هە م دا شێ نستە ـ اۆ نە یو سرکار هە م دا شێ پە اوڵە س کی پیدا کوە ل خوِ پڑپڕدە ژغمی هە م نە پاێ یە دا چی کە څە هە م بر سێرە نامۆسلمان هێوادونە وێشلی ـ ځلە بێل کمزوری اۆ یۆ د ـ بە ل غلیمان ښکاری اۆ مۆسلمانان یو موڼ اۆ سرە ژرونە ابسی خوِ پە روشتیا خبرە دا بە ل ډولە وی ـ مۆسلمان د ـ ځانی ازادی ـ ژرە وە ر تیا اۆ مبنی د ـ نیستی کمزوری ـ ناخبرە اۆ یو پوڕ بل بدگومانە وی اۆ د ـ نامۆسلمانە کامۆ ژرونە د ـ روشتیا اۆ آزادی لە مخی خپە ل پە هێواد پوڕی تڕلی وی ـ مۆسلمان د ـ بێری پە ډروږ وە سرکار تە گڼێری تە ر دێ چی د ـ سرکار وە هر د ـ باندینی یا کوڕنی غلیم تە خپە ل د ـ خوبنی چپ بد رد اۆ پوج هە م وایی خوِ ژرە یە بە ل څە وی ـ اۆ چی وخت راسی نوِ کوڕنی خوِ پڑپڕدە د ـ بهرنی دوښمە ن پە وڕاندی هە م پە ژرە د ـ سرکار سرە هیڅوك نە وی ځکە تڕل د ـ مۆسلمانانۆ هێوادونە اۆ د ـ هغوِ سرکار پە یۆ نە یۆ رنګ د ـ بە ل تە ر لاس لاندی وی ـ کە لاندی نە وی هە م جینی بێرێری ولی پە اوڵە س کی هغوێ هر وخت خپە ل مّلە اۆ بالکیان پیدا کولاێ سنی ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

څو کاله وړاندی د ـ اوغانیستان او ایران ته ر مّیان د ـ هیلمه ند پور اوبو څه جګړه پیښبه سّوله او ډوارو ّخپلی لښکری هلته را غونډی کړلي د ـ اوغانیستان لښکری به د ـ کندهاره تلي او موږ په خبرېدو ـ په دې وخت کی یوه ّروز کوّتې ته روان وه م د ـ ګولیستان پور تېسه ن می د ـ پښین یو سید ولید چی په کندهار کی ډېر لوی او وخار پیر وو ـ په ګاډی کی می د ـ روغ بړه پس تپوس ّترې وکی چی دا څه هله ګوله ده او پور څه ؟ سړے دے به د ـ هېواد په خبرو څه ّزیات خبر وی ـ ځان به ّترے پوه که م لوموړے خو شا او ځوا بیے واکه بیے واکه وکاته ّبیا یه په ټ په غور کی راته وویه ل چی ایران میران هیڅ نه دی "امانولاخان" دی هسې د ـ ایران رنګ وورکړی دی ـ چی په اوله س کی ګډېږ پیښ نه سی ـ زه ډېر وورته هېښ (حیران) سّوه م چی دا لا څه وایی ؟ ّبیا می تپوس جینی وکی چی " په دې خبره یوازی ته او ځینی کسان خبر سوي یاست او که نه ټول خلګه په خبر دی ؟" وې نه ټول اوله س او پوجونه په خبر دی " ته ر کوّتې می په دې خبره کی رے واهه چی د ـ اوله س او سرکار ته ر مّیان دومری بیلتون او ناخبری

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وی هغه هېواد به څنګه د ـ دوښمه ن مخه ونيسی ؟" په دې وخت کی د ـ جېل پرنګی واك وال بدل سوی وو اوڅ پوره ځای په ښاغلی شيخ ايکرام الی لګېدلی وو ـ



Scanned with CamScanner

## د ـ جېل د ـ واك والانو ناښواله ګوابن

ډوې ډرې ږوزی وږوسته چودری اوډوړلا ډیپټی راغی اوُ راته یه وویه ل
چی که تاسی شوميا نیسی نو موږ به په انیمه (دستور ) پی اوُ نوږ
ښواړه ده ر کوو ـ داشے پښتانه اوُ بلوڅ ډیر بد ګڼی ګومان می وو چی
هه م ځکه دوے دا ګوابن کاوه پوږ دے ښاغلی اوډوړل ایزیز خان کوږد
پښیمانه سو وې زه دا شرم نه سه م زغملاے ځکه شوميا نه نیسه م ـ
خو ما ووړته وویه ل چی زه به شوميا نیسه م تاسی هر څه چی راسره
کوی ښوبنه مو ښپله ده خو که څه سپه ك رو مو راسره وکی نو زما په
وس کی خو به ل څه نسته زه ښیا ته ر مرګه شوميا ماته نه که م که
څه هه م سرکار زما ټولی خبری ومنی اوُ یا می د ـ سره د ـ جېله
خوشی هه م کی یدا وروسته شوميا به زه ستاسی د ـ ناښوالی له لاسه
نیسه م ـ



Scanned with CamScanner

# د ـ سرکار وار ختای اؤ دّروغ

د ـ هیند د ـ اخبارو اؤ د ـ سیند اؤ بلوچیستان د ـ خلګو ژمونږ د ـ شومیا په هکله د ـ ځینو بیانو له مخی د ـ هیند سرکار دومری وار ختا سو چی د ـ شیملې څه د ـ انګرېز سرکاری باوری نایی اؤ ډنډورچی ایسوسی ایټیډ پرېس په ډېره بېې شرمی په ټول هیند کی دا خبر خور کی چی "اودول سمد څه کامی (سیاسی ) بندی نه دی هغه خو د ـ تښتونی (اغوا ) په تور کی ناست دی"

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# د ـ خوّند خبره (لطیفه)

ښاغلی اورنګا چی دغه وخت په کراچی کی وو ـ د ـ ایسوسی ایټیډ پریس په دې بیې شرمی ځان ډېر خښمولی وو ـ اوُ ځینو کسانو ته ویلی وو چی تاسی ماته په دې ځاے کی د ـ ایسوسی ایټیډ پریس خبراوو (نامه نګار) راوښیاست چی زه وورسره خّپه ل بلوڅی کار وکړم موږ بلوڅان د ـ ننګ په کار کی هرو مرو په هغه تور پسی نه‌کرزو چا چی بد راسره کړی وی موږ خّپله بدله د ـ تور (مجرم) د ـ خّپلوانو اوُ مل ګرو څه هم اخلو ځکه چی دغه خبریال (نیوز ایجنسی) زّموږ په مشه ر پوری ډروغ ویلی دی اوُ هیڅ بیې هیڅه یه د ـ هغه بدنامی اوُ سّپکه کړې ده‌نو زه دلته د ـ هغه د ـ سړی څه بدله اخلم او په بازار کی بیې سّپکوم هغه خبراوو (نامه نګار) چی خبر سوی وو نینو نومیده یو هیندو وو ـ یرېدلی وو ـ خّپه ل د ـ خبریال (نیوز ایجنسی) مشه ر له ورغلی وو هغه ته ویلی وو ښیا په کراچی‌کی‌د ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بلوچیستان کمېټۍ (جرګې) ځینو غړو له ورغلي وو هغوی اونکا لیدلی وو او ډېرې ووړته ویلي وو چې داسې نه دي په کار ـ دې سړي خو هیڅ ګرمه نه ده کړې ـ خو اونکا ټینګ وو په پاې کې څه جوړه کړې وه هېر مې دي چې څه وه ګوندي به دا وه چې د ـ دې ځاے دوتر به د ـ ځینو خلکو داسې بیانونه څواره کی چې دا دروغ دي یا څنګه ؟

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د ـ ښاغلی میر اوډول ازیز کوړد ایله کېده

له ډېرو روزی پسې ښاغلی کوړد له جېله په هغه زړه لاس کری (ضمانت) پرېښوو اوږ زه یوازی پاته سوه م ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# زما ایله کیده

خو له بر روزی پس زما د ـ شومیا ته ر وخت روز دوے وړاندی جون
کال ۱۹۳۶ د ـ جون په اوومه روز ګوا ته ر زلزله یو کال یوه میاشت
اؤ اته روزی وروسته مابنام د ـ بندېدو پس د ـ جېل اوسران راغله له
ما یه څه ناپېښه (عجیب )تپوسونه وکړه ل لکه دا "په چمه ن کی ښتا
کورښته دی ؟" ما وېے "نه" "ته ده اوغانیستان خو نه یېے ؟" ما وېے
"نه خبره وکی دا ولی داسی تپوسونه کوی ؟" وے "خبره دا ده چی
اوس موږ له د ـ کوټی د ـ پولټیکل ایجه نټ تار راغی لیکلے دی چی
دے سبا سهار وختی په ګاډی کی چمه ن ته راولیږی خو موږ نه د ـ
شپے بندی ایستلاے او پولیسو ته وورکولاے سو اؤ نه په تار باندی د
بندی په هکله څه کاروایی کولاے سو ـ دا څه ناپېښه خبره وه ځکه مو
ته تا تپوسونه کوه ل چی که ته په څه خبر وے ـ خیر دی ته تیاری وکه
چې مرو مرو غوښتے نو به دی ذرے ځلور بجے پولیسو ته په لاس

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ورکوڅ چي وختي دي په ګاډۍ کي ورسوي " دغه وخت د ـ مچ اؤ
کوټې ته ر مّیان ټیلیپون نه وو نه موټران لا دومري ډېر اؤ ارزانه وو
چي بندیان بېې پکښې بیوه ل لغه ږ تار وو ما وورته وې چي دا خو
ګرانه ده زما خو ډېر سامان په زیاته په سوونو واړه اؤ عتې کیتابونه له
تاسو سره دي د ـ هغو به څه کېږي ؟ که داسي وي نو په کار دي چي
تاسي اوس لا ما وباسي چي هغه شیان را غوه نو کو اؤ بندې کوږوه ل"
دا هه م ګرانه ده موږ د ـ شپېې نه بندي راباسو اؤ نه څه کار کوو
داسي به وکو چي ته به ولاړ سې سامان به دلې پاته وي دا خو هه م
څرګنده نه ده چي دوے تا څه له غواړي پرېږدي دي هلته دي ساتي که
دي بیرته را لېږي که راغلې خو خیر کني نو به سامان موږ په سرکاري
توګه ده ر ولیږو " دوے ولاړ اؤ ما توله شپه پوره دې پام کاوه چي ما
چمه ن له څه ته غواړي ؟ هلته زما څه کار نسته اؤسران هه م تول به
کوټه کي دي ـ که مي د ـ روژې په شپو کي په چمه ن کي ساتي با
مي هه م زړه نه اخیستله ولي د ـ دې لپاره مچ خوندي ځاے کېداے
سو ـ کله به مي ګومان سو چي پرېږدي دي خو دا هه م نه سره لګېدله



Scanned with CamScanner

چې نو به په چمه ن کې ولې ؟ د ـ دې ځایه یه هه م ږپښوولاے سوه م ـ په پاے کې مې به ل پام نه په ورسېده بېے دې چې په چمه ن کې دغه وخت د ـ اوغانیستان اؤ بلوچیستان یوه ګډه جرګه ناسته وله چې د ـ ځینو هغو ناله بنتو اؤ جګړو پرېکړې (فیصلے ) یه کولے چې د ـ دې غاړې اؤ هغې غاړې د ـ خلګو ته ر ّمیان پېښې سوې وې اؤ لا بندې پاته وې ـ ماته داسې بنده هه م نه ښکارېدله چې ژما وورسره اړېکے واے چپ د ـ دارو خان د ـ هغې مارې چې زه پکښې وهه ل سوی اؤ ګواه وه م د ـ شپیے ښیا د ـ جېل واك والانو خبر راکې چې ته به ځې ژموږ تسلې وسوله ـ اؤ لا شپه وه چې راوې ایسته م د ـ پولیسو په لاسې ورکړه م د ـ پولیسو تانه دار هغه د ـ بوستان اوډول ازیز خان پانیزے وو چې د ـ مخه هه م د ـ لاهور د ـ موسلیم کانپره نس په خبره کې ما یاد کړې دې د ـ ګاډې ته ر وخته د ـ هغه سره ناست وه م.

ښاغلې میرزا اپیزولا خان بې ـ ایس ـ سې چې دغه وخت په جېل کې وړکوټې (جونیر) کلرك وو اؤ په جېل کې د ـ خپلو پنجاپیانو اؤسرانو له ډاره نه سو رانیژدې کېداے نے روغ بړ هومرې هه م راسره



Scanned with CamScanner

کولاے سو ګوا دغه مو پړومبے لید وو دلته راغلی وو ـ او ته ر تپسنه را سره ولاړ ـ نور هه م څه کسان وو خو یاد می نه دی چی که م خینې وو ـ د ـ کوټی پور تپسه ن ښاغلی کازی داد مامد خوداے ده وبخښی راغی او چی زه ولیده م او په ده خبر سو چی چمه ن له می بیایی نو راسره روان سو چمه ن له تازه اخبارے راوی چی د ـ خان په هکله می د ـ سرکار هغه سپه ك ډروغ هه م پکښی وویه ل چی "ده د ـ تښتونی په تور کی بندی دی" او د ـ باهر د ـ ښار او زلزلے په خینو خبرو یه خبر کړه م خو په ده لا هیڅوك خبر نه وو چی ما چمه ن ته څه له بیایی د ـ ګاډی او لاری څخه چی می د ـ کوټی ښار او شا خوا کلو ته کاته دیارله س میاشتی پس لا هه م هغه شان ورانه ورانی خوره وه ـ لکه زلزله چی پرون سوه وی او چی د ـ ریلوے هغه څو نوی بنګلے می ولیده چی د ـ کال ۱۹۳۱ د ـ زلزلے پسے د ـ زلزلے پخے ( زلزله پروف ) جوړی کړی وه او په ده لویه زلزله کی هیڅ تاوان نه وو وررسیدلی او د ـ نړی د ـ خپه ل واك کامونو د ـ ودی او ودانی هغه خبری می رایادیده چی د ـ داسی پیښو پور وخت بیه په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مّیاشتو کی نوی ښارونه بیرته د ـ نوې سره ودان کړّه اؤ په له ړ شك بېې وّراندی لا غّوه نۀ ښارونه داسی نوی جوړ کړّه ل او داسی بچاوونه بېې وکړّه چی به ل ځه ل به هڅو ـ زلزلې چلی (طوفان ) نوز (سیلاب ) یا بلی خودایی پېښی هیڅ تاوان نه سو وورسولاے اؤ ډېر غّرېب به راته درېده چی که ژمړو کام اؤ هېواد هه م آزاد او د ـ خّپه ل سر واے اوڼسی اؤ خّواخوږی سرکار مو لرلاے نۀ یا خو بېې د ـ کال ۱۹۳۱ د ـ زلزلې پس په دې تېر څلوړ کاله کی تهړل ښار د ـ رېلوې د ـ دغو دّرو څلورو بنګلو په شان جوړ کړی اؤ د ـ ډاره ایستلی واے او هغه پینځه دېرش زره کسه چی مړه سو هغه به بچ سوی واے کنی په دې دیارلهٔ س

چا ـ "Flour Mill" د ـ اوړ ژرنده لګاوه اؤ د ـ هغه ځاے د ـ اوبو د ـ ژرندو بناندګانو چي زیاتره خپله زما ورونه اؤ تربرونه وو دا نه پرېښوولـه وه په دے زموږ پخوانی ژرندی کوره کېږی اؤ کرایېږی چي زموږ هه م ډېر تاوان دی ـ اؤ د ـ سرکاری مالیې هه م تاوان دی ـ چي خبره ونالـه بنت اؤ سرکار ته ورسېدله اؤ د ـ اوړ د ـ ژرندی خاوه ندانو دا ویه ل چي زړے ژرندی له ږ دی د ـ خلګو کار نه سی چلولاے اؤ هغوے د ـ اوړو مزدوری زیاته اخلی اؤ ډېر وخت ته ر دے چي میاشتی تېری سی چي د ـ یوه سړی د ـ اوړو واری راځی او سپوانانې (آسیایان) د ـ خلګو څه بڼی اؤ موکونه اخلی چي ژه ر واری ورکی په دے خبرو کی ځینی روښتیا هه م وه ـ دغه وخت زما اخبار (ایستکلال) راوتلی وو ـ هغوے دا خپلی خبری اخبار له رالېږلی وه اؤ اخبار چاپ کړی وه بیا اخبار خپه ل له خوا هه م باندی ولیکه ل چي د ـ زړو ژرندو بناندګان که خپلی ژرندی بچاووه ل غواړی نو د ـ خلګو دا ځایځ تاوانونه اؤ ګراوونه به لیری کوی ـ څه روزی پس ښاغلی هاجی غپار خان زما و خپه لوانو ته ویلی وو چي ماته کرنه برېمنه ر ویلی دی چي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اوڈوڵ سمد ماته ویلی دی چی دا د ـ اوړ ژرنده پرېږده چی ولګېږی دوے خوشی خبری کوی اؤ په دے زما د ـ ځپه لوانو اؤ نوړو خلګو نیژدے څلوړ پینځه لکه روپی تاوان کېده نو خود د ـ هغوے ډېره ځوا بده سوے وه ماته د ـ لاجوړ د ـ کلی سید یاکوب دا خبره وکړله چی نوړ تپوس می وکی ښاغلی غپار خاڼ خبره د ـ ډېرو خلګو په مه خ کی کړے وه اؤ که ناګاره سوی واے خلګو ګواهی باندی کوله نو ما په اخبار کی په دے سرخت اولیکه ل "دا ډروغ چا جوړ کړی دی ؟" لاندی می پوړه خبره ولیکله اؤ دا چی مانه پوڵتیکل ته دا خبره کړے ده اؤ نه می په دے هکله هیڅ کله ورسره خبری کړی دی ـ" یؤ وخت به ل دے د ـ څه وخت لپاره کمشنه ر لګېدلی وو اؤ پوڵتیکل اېجه نټ کیپټه ن شا وو ـ زه اؤ جام نوروڵا خان ماځیګر په هغه نوی انګرېزی بازار کی راتېرېدلو چی د ـ زلزلے پس پوړ سر کله ر روړ باندی د ـ اوسنی سیشه ن کچاری ته ر شا جوړ وو ـ موږ په ځپلو خبرو لګیا وو ـ مخا مه خ یؤ موټه ر راغی تېر سو اؤ ځپه ل ښکرے ورغاوه ـ خو ما وورته کتلی نه دی چی تېر سو ښاغلی نوروڵا خان راته وے "برېمنه ر کمیشنه ر وو

تاتې لکه چې څه ویه ل غوښت ښکرې تاته وربغاوه " ما وې " ما خو نه ولید خو خیر ټیا به راته دربده اؤ څه خوشی خبری بېې کولې ـ څو ورزی پسې یوه ورز د ـ کیپټه ن شا په دوتر کی زه ولیده م هغه تې وې " دے ډېر سر په خیال (مغرور ) سړے دی هغه ورز ما وورته سلام وکی جوابېې هه م نه کی را " دا یه وویه ل اؤ زما ته ر جواب وړاندی روان سو ولاړ ـ ما ټیا خت وورته ولیکه چې خبره دا وه چې موږ په خبرو کی ووږ ماته نه یېې لیدلی گنی هرو مرو به می د ـ سلام جواب په ښه توګه ده ر کاوه لکه د ـ ټیوه پښتون اؤ موسلمان رو چې وی اؤ ستا دا گومان چې زه "سرپخیال" (مغرور ) سړے یه م سم نه دی ولی زه خپله

ځان ته ر هر چا ښه پېژنه م زه به سرپخی (غرور ) په څه وکه م له ما سره خو د ـ نړی هغه یو شے هه م نه ستا چې د ـ جهان ناپوه خلګه په هغو سرپخی کوی ـ نه څه غټ سړے یا ستا ر واك وال یه م نه ډېر دولتمه ن اؤ موږ سړے یه م اؤ نه څه دا سی لوه ستی یه م نه څه دینی مشه ر یا پیر یه م نو زه به سرپخی (غرور ) په څه وکه م که دا خبره تا هسی بېې څه مراده کړې وی خو خیر اؤ که نه په روشتیا دی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دا باور وی نو زه خپه ل پور بدبختی ډیر ارمان کوه م چی ښتا رنګه یو پوه سړے زما په هکله دا ګومان لری " د ـ خت خبری څه اوچتی اوّ د ـ پوهنی وے اوّ زما لا خپه ل په انګریزی باور نه وو چی زه به په ښه توګه خپه ل مراد پکښی څرګند کړاے سه م که نه ځکه چی خت می ولیکی نو ته ر لیږلو وړاندی می ښاغلی نوروالا خان ته ښکاره کی چی د ـ بمبی د ـ پوهنتون (یونیورسټی ) د ـ انګریزی بی ـ اے ـ آنرز وو هغه چی وکوت وے " ډیر ښه دی په خندا یه وے ماخو ته لا هغه شان میډلچی بللے تا خو ښه انګریزی زده کړے ده داسی خت خو دا نوی بی ـ اے یو هه م نه سی لیکلاے ـ

وروسته بیا زه خبر سوه م چی د ـ سرکاری واك والانو دا هر څه نرمی اوّ بلنی د ـ دوے ځانی نه وے دا د ـ هغه وخت د ـ انګریزی سرکار سوچ کړی روّ وو چی د ـ جیل بند او سختو پس ما په نرمی اوّ سوران رانیسی سرکاری سړے راڅخه جوړ کی ـ خو د ـ خوداے ښه منه م چی په چیکه ړ کی هه م زه بوخت نه سومه اوّ نه می چیری د ـ له ړ وخت لپاره هه م زړه د ـ ایمانه وښویدی اوّ نه د ـ نړی ودے مزو ته ولاړ سو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چی انګرېزی سرکار په دې پېنځه ۍوزی کی ماته راکولاے سوې اؤ په ښکاره یه راکولې -

هزار دام سے نکلا هوں ایك جنبش میں
جسے غرور هو آکر کرے شکار مجھے

زه ر دامونه می شلولی په یؤ زغل دی
که څوك نه منی دا هول دی اؤ دا زرنده

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# ازيز پرېس ـ اوْ د ـ مل ګرو ناچارى

د ـ دغه کال په پاے کى د ـ ما سره د ـ پريس د ـ په نګى دوړمره پيسے غونډى سوے چى د ـ ښاغى مهانند په اندازه د ـ پرېس د ـ چالو کولو د ـ کار مېچنى (مشينان ) اوْ نوړ سامان په کبده ـ نو ده خپله نوکرى پرېښووله اوْ زه او دے لاهوړ ته پرېس رانيولو له روان سولو ته ر روانېدو وړاندى مى ځان له يو کوړ اوْ چاپ له ځاے چى يوه به ل ته نيژدے وو واخيسته ل.په لاهوړ کى مو د ـ چاپ د ـ کار تهول شيان واخيسته ل راموړوه ل اوْ وموږلګوه ل د ـ چاپے د ـ لګولو کار روان وو ـ ښاغلى مهانند په لګيا وو ـ اوْ زما رے په دے بند وو چى اخبار اوْ چاپ به څوک چلوى اوْ څنګه ؟ خپله مى ځان نه په اخته کاوه ولى په ډله اوْ مل ګرو کى يو زه وه م چى خپه ل په خرڅ د ـ ډلى په کار پسى د باندى تلاے سوه م اوْ تله م به ـ اوْ په دے هه م پوے وه م چى اولسى کار به د ـ ولات په کلو او بېلو تړو (تحصيلوں ) کى ډېر

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ګټنت اؤ کار غواړی اؤ کوم سړے یا سړی چی به چاپ !؟ اخبار چلوی هغه به هرو مرو په کوټه کی اوسی اؤ ځپه ل تهول وخت به هه م دغه کار ته ووړکوی هغه ټیا نه دباندی ټلاے سی اؤ نه د ـ دباندی کار کولاے سی دې ته می هه م پام وو چی په ډله کی ځینی داسی کسان ښته چی هغوے له ږ ډېر د ـ چاپے اؤ اخبار په کار پوهه دی هه م لیکلاے سی اؤ هه مې چلولاے سی ـ اؤ ځینی داسی کسان ښته چی د ـ کامی ډلی د ـ کار له مخی تاوانیان سوی دی ـ د چا نوکری تللی دی اؤ اوس په روزګار پسی در په دره اؤ ورهٔ ك دی اؤ په ولات کی ځینی نوړ هه م ویښ خلګه ښته چی لغه ږ د ـ دې له مخی کامی کار نه سی کولاے چی ګوزاره نه لری ـ نو می دا سوچ وکی چی په ځاے د ـ دې چی دا چاپه اؤ اخبار زه د ـ ځان ځیز وګڼه م اؤ نوړ مل ګری د ـ نوکرانو په ځېر پوړ کار ولګوه م اؤ هر څه واك اؤ پار زما په لاس کی وی اؤ ګټه تاوانې زما ګڼه ل کېږی زه دا چاپه اخبار اؤ تهوله غونډه کړې په نګه یو کامی ده روړ (وقف) جوړ که م اؤ په مل ګرو کی د ـ کالخوایانو به کار هه م ښه وچلېږی اؤ مل ګری به هه م ځان د ـ چا

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

نوکران نه بوږلی۔ځپه ل کار بېږ ګنهی ښه بېږ چلوی۔به ل به دا په نګه نه
زیاتېږی اؤ ته ل به چالو وی ۔ اؤ د ۔ دې نه به د ۔ د چاپېږد ۔ ګتمېره
کار یو ښوونځے جوړ سی چی هر ځاے په زیاته په کوټه کی ډېر خلګه
هیندوان موسلمانان ۔ پارسیان اؤ سیکان په لګیا دی مزدوری پکښی
کوی اؤ ښاندګانې ډېر ګټې جینی مومی ۔ چی پوړ دې می ښه سوچ
وکی اؤ د ۔ ځینو ملو سره می خبره وکړله چی د ۔ زیاترو خوښه وه ۔
خو یو د ۔ ښاغلی جام نوروﻻ خان نه وه خوښه ۔ هه م په دې نه چی
پوړ سرېښته یا سړو یه نیوکه (اعتراض) کوله یا یه څه بدلی اؤ کمے
زیاتے پکښی غوه ښت ولی هری بدلی اؤ کمی زیاتے ته زه تیار وه م
هغوے د ۔ سره د ۔ درور (وقف) لار نه وه خوښه اؤ راته یه وویه ل چی
"په دې خلګو کی لا زه دا خوے نه وینه م چی دوے یو ځاے کار سره
کولاے سی په زیاته چی پیسے واك اؤ ګټه په میان کی وی اؤ نه څه
داسی ازموده په سوې ده که څه ازموده له ږ ډېری سوی دی هغه دا
ښکاره کوی چی دوے د ۔ یوې یا بلی پلمے له مخی په ګډه کار نه سی
سره کولاے په زیاته چی پیسے په میان کی وی تاسی ښاغلی کورد اؤ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اوڼکا سره یو ځاے کړه ل پیسې مو په لاس ورکړلې خو یوه هوته هه م سره ونه چلېده ـ نسیم اؤ اوڼکا هه م ځله وخوړه ل اؤ ځله بېل سوه ل ـ مرغزانې او نسیم هه م نه ځله وبامه ل ایوپ خان اؤ نسیم اؤ اوڼکا هه م ښه نومونه نه کړه وړاندی د ـ ازموېلی ازمېینه ناپوهې وی ـ ښتا د ـ دې بان متی کوړنې پاې به هه م دغه وی ـ اوس لا هیڅ نه دی سوی ـ خلکو تا ته دا پیسې د ـ یوه کار لپاره ده رکړې دی ـ په تا یه باور دی دا هیچا نه دی ده ر ته ویلی چی ته بېې ده روږ کوې ـ ته دا کار خپه ل پوړ سر واخله اؤ د ـ کام خوښه پوړه که وروو وروو خپه ل د ـ خوښی جوړ اؤ ازموېلی سړی راغوه نو که چی کله دی ولیده ل چی اوس کار چلېداے سی نو که دی اړی ووړته لیدله ده روږې که کنې خپله یه د ـ ځان مه ګڼه د ـ ده روږ په توګه یه چلوه "خو ما ووړته وویه ل چی زه د ـ نوړو ډېرو کارو سره دا ډروند کار پوړ سر یوازی نه سه م اخیستلاے اخبار اؤ چاپ په کوټه کی ته ل ناسته غواړی اؤ په توله ډله کی یؤ زه سړے یه م چی خپه ل په خرڅ د ـ ډلی په کار پسی ښوره م یا ښوړېداے سه م که زه وه اخبار یا چاپ ته کښېنه م نو د ـ ډلی کار به ځوك کوی



Scanned with CamScanner

؟ زما لپاره د ـ کوټې هستوګنه هسې هم ګرانه ده ولې چې هيڅ نه
وي هغه د ـ میاشتې ډوډ ډېرے سوه روپۍ خرڅ غواړي ځاے به راله په
کار وي اؤ د ـ ځاے سره د ـ ډلي اؤ ځان مېلمانه ترلي دي د ـ اخبار اؤ
کامې په ننګې څخه زه څه اخيستلاے نه سه م که څه هم روا مزدوري
مې وي ولې د ـ کامې کار مزدوري ما پور ځان لا هله ناروا کړې ده"
اؤ داسي نوري خبرې ـ ښاغلي مير مامد امين خان کوسه چې دغه
وخت ډېر بد(Rabid ) کميونسټ وو اؤ د ـ هرې خبرې نه بېې لويه کشاله
جوړه کړله وې بېې دا زما څيراوے (اينلائسز ) دي هغه لا مه خ له بهل
څه ويه ل هغه د ـ سره زما لپاره د ـ اخبار رايسته ل نه خوښوه ل وې
بېې "يو خو دا خبره چې نه ن سبا اخبار د ـ سياسي کار زوروره وسله
ده د ـ نوروز ځايو اؤ خلکو لپاره به روشتيا وی خو زموږ د ـ ولات يا
ولاتو اؤ خلکو لپاره ډا خوشې خبره ده دلته خو اخبارونه لا هغه شان
دي څنګه چې ښاغلي مير ماموت خان د ـ کلات پخواني خان ويلي
وو چې "لوړيان دي " دا خبره داسې وه چې وايي يؤ وخت ښاغلي مير
ماموت خان د ـ کلات د ـ خان په توګه د ـ ډيلي يوه دربار له تللې وو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اوْ د ـ هغه وخت ښته ر وزیر ښاغلی کازی جلالوړدین خان هه م
وړرسره وړ ـهلتړے ځینی اخبار والا لیدړ له راغلی وړ ـ خان چی لا نه
اخبارونه پیژانده اوْ نه اخبار والا د ـ وزیر نه تپوس کړی وړ چی اخبار
والا څه وی ـهغه به خُود څه وړرښوولی وی خو یوه خبره یه ـدا هه م
وړرته کړے وه چی د ـ چا چی ځوشاله سی د ـ هغه ښه لیکی اوْ د ـ چا
چی خوابدی سی هغه پسی بد لیکی "نو خان ویلی وړ چی "هو پوے
سوه م زموږ په خوا یه لوړیان (ډمان ـ ډوم) بوړلی "کنی ته په ټوړل
سیند اوْ بلوچیستان کی وګوره چپ د ـ یوْ نیم هیندو اخباره به ل داسی
ښته چی لوړی نه وی یا څه د ـ سه د اوْ پوهنی خبری لیکی یا یه څوك
لوّلی اوْ یارے پکښی وهی ـ خو بس یوْ به ل چا څه لږی پیسے واخلی
اوْ یا به په یوْ هوټل کی د ـ ډوو پیسو چایی ترے وچیښی اوْ د ـ هغه
په نغوته به چا سرکاری واك وال یا به ل چا بد ولیکی اوْ سبا له به هه م
هغه سرے د ـ هغه به ل نه څه شوکه وکی اوْ بیرته به ولیکی چی دا
ډروغ دی اوْ هغه ښه سړے دی، اوْ که هغه نه وی نو یوْ یا ډیر نور به
ځپله باره جینٹی واخلی اوْ دا نه چی یوازی دے به ښه سړے کی هغه به ل

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اخبار د ـ هغه ښانده اوْ د ـ هغه خبریال له به په منوْنو بد ولیکی تماشه لا دا چی دا ډواړه اخبار والا به ته ل سره ناست پاست وی سره خواره به وی اوْ زیاتره به سره په سلا وی ـ ځکه زه وایه م چی به ل ځاے که نه وی دلته دا کار د ـ څه سیال اوْ ډرانه سړی نه دی ـ به ل دا چی ته غواړے چی یوْ ښه ډروند آزاد اوْ کامی اخبار روان کړے نو که داسی وه هه م سی اوْ هغه وهه م چلېږی نو خود به د ـ خلکو مخه د ـ هغه خوا ته سی اوْ دا نور به سپه ك سی ـ گټه بیے کمه سی ـ دوے ته چی د ـ ښکنځلو کمه باړه اوس رسېږی هغه به بنده سی دا به ښتا د ـ اخبار سوپه وی خو ښتا به نه وی ولی هه م دغه خلك به ښتا دوښمنان سی ـ اوْ تا ته به بد رد لیکی ډروغ به در باندی وایی اوْ تاوان به دهررسوی ـ که د ـ تا څوك خوابدی سو هغه به خپله بدله د ـ دوے په خوله ده ر څه اخلی اوْ که یو وخت دی دومره مه خ پیدا کی چی سرکار دا وغوښته ل چی پړے پیژانده ده رپسی وکی نو هغوے ته خو ډېره اسانه ده چی دا تهول ده رپسی ولگوی ـ ولی دلته د ـ ځانی تول (شخصی جایداد ) اوْ ترلی گټی (ویستیډ اینټریسټ ) خبره پیدا سی دا اوسنی اخبار والا

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چی له ڕ لۏه ستبی اوٗ وڕی خلڱه وڕ ـ د ـ دېرشو ڂلوېښتو روپېو سرکاری یا د ـ به ل نوکری یه هه م نه سۏه میندلاے اوٗ اوڑس د ـ ښکنځا رنڱه اسانه کار په بدله کی هه م ډېری پیسېے ګټی اوٗ هه م د ـ اخبار والا په نامه د ـ لوېو خلڱو ناسته پاسته ووړسی اوٗ لا ډېر کمزوری اوٗ بد کاره واك والان اوٗ غټان جینی بېړېړی اوٗ خوشامندی یه کوی ھغوے دا کله ژغمی چی دوڑے دی ته ش د ـ نېکی ـ کام ـ هېواد اوٗ آزادی په نامه د ـ دې غوړو ژړو څه بېے برخی سی ـ دا تهول به له تا سره په شر کی لوېړی اوٗ کېداے سی چی هه م دا پڔېس د ـ بلوچیستان د ـ سیاسی کار اوٗ ډلی ستته ر ثلی (قبر ) جوړ سی ما ووړته وویه ل چی "دا ستاسی خبری تهولی روښتیا دی اوٗ روښتیا هه م دا ده چی دا تهولی خبری یوه یوه بیا زما په هغه روز می یوٗ تاربښ مخی له راغلی ـ خو دا راته وایه چی موږ د ـ دې ډاره په ولات کی پڔېس رنڱه ښه کامی وسله پڔېښوولاے سو ؟ اوٗ به ل ته خو لغه ڕ مادی خبری سوچوې اوٗ سره جنګوې اوٗ څپه ل څه اټکل ترې باسې ـ دا خبره خو زه منه م چی لکه د ـ ژوه ند په نوړو لاړو کی دلته به هه م ځینی بد خلڱه وی یا به

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پېښ سی خو دا څنګه ومنه م چی د ـ سړی د ـ زړه بونیادی نېکی به ګه ر سره وړکه سی او یو کس به هه م ښه اؤ نېك پیدا نه سی ـ چی بېږ له څه څپه ل چاری او پرېوتی مراده د ـ کامی مینی له پاره اؤ خوداے پاری دا کار وکی په زیاته ټیا چی د ـ هغه د ـ ژوه ند تهولی که نه وی غتهی اړی به په ارزمنه توګه وورسی ـ هر څه چی وی ازموده خو بېږ کوو ـ وړاندی به ګورو چی څه کېږی ؟" خو هغه زما په خبرو سټ نه سو اؤ ما هه م د ـ ده ونه منله یو بیان می اخبارو ته ولېږه چی "زما دا خوښه ده چی دا چاپ چی نوم بېږ د ـ ښاغلی میر یوسه پ الی خان مګسی په نامه "ازیز پرېس" وی ـ ازیز د ـ ښاغلی مګسی د ـ پوهیتو نومکے (تخلص) وو اخبار "ایستکلال" چی وروسته به راو زی اؤ هغه تهوله په نګه چی د ـ ده کار لپاره ما د ـ اولسه راغوه نوه کړه ده یو کامی ده روبږ (وقف) جوړ که م چی د ـ هغه لپاره به دا لاندی ښاغلی کسان د ـ کالخوایانو د ـ جرګګی په توګه تهاکه م دا جرګه به خپلی لاری چاری اؤ مرادونه خپله تهاکی زه به هه م د ـ نورو په شان د ـ جرګے یو غړی یه م د ـ جرګے غړی به دا وی ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

(۱) ښاغلی مامد ایوپ خان اڅکزے (۲) ښاغلی میر اوډول ازیز کوړد (۳) ښاغلی میر مامد امین خان کوسه (٤) ښاغلی مامد هوسین اوړنکا (۵) ښاغلی مامد هسن نیزامی (٦)ښاغلی میر اتا مامد خان مرغزانی (۷)ښاغلی میر شاباز خان نوشیروانی (۸)ښاغلی مامد نسیم تلوی (۹)زه ځپله ـ

هه م په دغه شپو کی چی د ـ کال ۱۹۳۸ م وو د ـ روژے په مّیاشت په بمبیی کی د ـ بلوچیستان د ـ سود ځورو پښتنو ډلی "انجومن اپاغنه" ماته اؤ ښاغلی مولوی غولا میدر باغی ته بلنه راکړله چی تاسی زموږ کالیځی غونډی له راسی مولوی باغی ببل تللی وو ـ زه ځان له ووږ روان سّوه م اوٗ چی روانېده م په هغه ّروز می یو تار ښاغلو اوړنکا اؤ نیزامی ته ورکی چی په مچ کی وو چی ما پوږ تېسه ن ووینی اؤ به ل می ښاغلی کوړد ته سیوی ته ورکی ـ چی پوږ تېسه ن راسره ووینی د ـ اوړنکا اؤ نیزامی می یاد نه دی چی تار ووږسېدلی وو که نه راغلی وو که نه ـ ؟ اؤ څه خبری مو سره وسولے ؟ خو ښاغلی کوړد راغلی وو چی د ـ نوره کله په شان ښه ّورین اؤ بیے بنده ښته نه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وړ - څه بېره س اؤ نیولی (سنجیده ) شانته وړ ما وېه ګوره په څه به ل
کار یا خبره بېې اندېښنه بنده وی - اؤ چی ما دا خبره ووړته وکړله چی
زه خو روان یه م اؤ یوَ داسی اخباری بیان می وورکړی دی تاسو می
دېه له زهیر کړاست چی ما وېه خبر مو که م چی دا ډروند کار
ستاسی په غاړه کی اچوه م چی تاسی تیار یاست " پوړ سړی خبره ښه
ونه لګېدله څه نوړ هه م غم جه ن شانته سو - وېه " ښه ګوروړ به چی ته
واپس راسېې " یا څه دا شان خبرېه وکړله - زه هغه وخت پوېے نه سوه م
ټیا ډېر ؤروسته خبر سوه م چی زما د - تار په رسېدو د - ده دا ګومان
سوی وړ چی کنی دېے به د - ښاغلی نسیم په هغه پوچه اخباری پړې
پېژانده چی هغه څو روزی ؤړاندی پیل کړېه وه اؤ ما ؤړاندی ویلی دی
ډېر پرېشانه سوی وی اؤ ماته به وایی چی ته ځپه ل په مه خ (رسوخ)
نسیم له دېه کاره بند که اؤ زه به د - ښاغلی اسلم د - ړې پېژاندېه
په هکله ده ته پړاوے واړوه م اؤ ځپه ل خروښ به وباسه م ځکه یه ځان
خه ښمولی وړ اؤ بېره س وړ - خو چی زما خبره یه واروېدله اؤ لا دا هم
چی زه یوازی دا نه چی د - نسیم په بېې مخی پرېشانه نه یه م لا ګه‌ر

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سره جیني خوابدي هه م نه یه م اؤ هغه د ـ کالخوایانو په جرګه کي
هه م اخله م نو لا ډېر خه ړ سو ما د ـ کالخوایانو د ـ جرګې په
هکله ډېر سوچ کړي وو ـ د ـ هغه وخت په مل ګرو کي هه م دا کسان
وو چي یا څه له ږ ډېر لوه ستي وو ـ یا له ږ ډېر د ـ اخبار اؤ چاپه په
کار پوهېده اؤ یا سرکاري نوکران نه وو اؤ یا ځیني پکښي وه اوزګار
اؤ ګوزاره ته اړ وو ـ اؤ ما څه جیني غوه ښت نه لا مي یؤ جوړ تیار
شے اؤ پیسې په لاس وورکولے ځکه ما له دوے نه وړاندي دا تپوس نه
وو کړي چي ستا دا کار خوښ دي که نه ؟ اؤ دا باور مي وو چي هرو
مرو بېې په خوښه وکي ـ خو د ـ سړي د ـ زړه کلپي اؤ ځلي په هله
اسانه نه سي څرګندېداے ـ
موږ په بمبیي کي وو چي زما د ـ بیان په جواب کي په دې بره ښاغلو
کي د ـ پینځو تنو یؤ بیان د ـ ښاغلي نسیم په اخبار کي راغي چي
موږ دا کار ځکه نه سو کولاے اؤ نې کوو چي د ـ کالخوایانو
(متولیانو ) دا جرګه ده ولي تاکلې ده ؟ دے دا واك نه لري چي دا
جرګه وټاکي دا جرګه به د ـ بلوچیستان ټول اوله س ټاکي اؤ داسي څه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

نوری خوشی اؤ د ـ خوابدی خبری زه دے بیے خبری اؤ ناپوهی ته هیر هیښه (حیران ) ښوه م اؤ ډیره می خوابده ښوله خو ټیا می هه م یو اخباری بیان ورکی چی سرخښے د ـ نیزامی ګنجوی دا کړی وه ـ

باصاف دل مجادله با خویش دشمنیست

هر کس کشد به آئینه خنجر به خود کشد

علیمی د ـ سپین زه ړکی ذ ـ ځان بدی ده

وه ایندراه ته چاړه وه ځان ته کښه ل وی

اؤ په هغه کی ما دا وس کړی وو چی دوے په دے پوے که م چی د ـ کالخوایانو دا لومړی جرګه به هرو مرو ما تاکله بله لارے د ـ سره وله نه ـ ځکه چی د ـ اولسه په نګه ما غوره ښتے وه اؤ هغو دا پیسے ګوا ماته راکړی وے ـ خو چی زړونه پاك نه وی نو پوه وورتلاے چیرته سی ـ په هغوے کی د ـ ځینو بیا به ل بیان راغی اؤ داسی د ـ دے خبری څه یوه بنه غته ځیړنه جوړه ښوله اؤ د ـ یوے اؤ بلی غاړی ډیرو خلګو هتی باندی کنښبنوولے چی په کی د ـ بناعلی میر مامد امین خان کوسه د ـ یوه لیك دا کرښی ډیری د ـ خوند وے " چی که د ـ دے

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ښاغلو دا خوشي خبره وهه م منله سي چي د ـ دې په نګی واك د ـ بلوچیستان د ـ تهول اولهس ډِی اوْ د ـ هغو نه دی تپوس وسی یِو دوے دی دا باور وکی چی د ـ هغو خوښه به هه م دا وی چی په دې پیسو دی د ـ ښاغلی کېتهه ر د ـ بلوچیستان هغه لاټ چی موړې څوك بندیان کړی اوْ څوکې د ـ ولاته ؤرك کړی وو ـ یوْ بوت جهړ سی اوْ د ـ کؤتهی د ـ لوے ماجه ت په مّیان کی دی ودروه ل سی ـ به ل د ـ ښاغلی ایوپ خان یوْ لیك وو چی دا جینی ښکارېدله چی دے هه م د ـ دې اغا وتلغاوه بېزاره اوْ وار ختا شانته وو اوْ ده هه م د ـ کالخوایانو په جرګه کی کار کوه ل نه غوښته ل د ـ بمبیی څخه د ـ راتګه پس دا راته څرګنده سْوله چی په دې هکله ښاغلی میر اوْدول ازیز کورد ژیات اوْ ښاغلو نیزامی اوْ اونکا ډېر ژیار کښلی وو اوْ ډېری مه نهی تړه نهې وهلی وې ته ر مچه ـ ته ر سیوی اوْ کراچی تللی راغلی وو اوْ د ـ ډېرو غونهو پسې هغه پینځه تنه یوْ ځاے کړی اوْ د ـ هغو بیانې جهړ کړی وو څکه ما هه م دا پرېکړه وکړله چی اولسی ده روږ (رجسته ر وقف ) یه نه جهړوه م خو یوْ کوړنے شانته ده روږ بېې ګنهه م نو می په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کوټه کی د ـ په نګی لیکه (حساب ) د ـ میر شاباز خان میر مامد
امین خان کوسه اؤ ژما وه یوې جرګې ته وړاندی کړله ـ اؤ د ـ دې
جرګې نوم مو د ـ ازیز پریس جرګه کښېښوو اؤ د ـ غونډې کاروایی مو
په یوه کیتاب کی ولیکله ـ جرګې د ـ پریس اؤ اخبار د ـ چلولو کار ماته
وسپاره د کار د ـ خلګو اؤ خرڅ په هکله یه پوره واك راکی اؤ ژما د ـ
ځانی خرڅ لپاره یه یو نیم سه ل روپی د ـ میاشتی کښېښوولې چی ما
ته ر ننه یوه پیسه نه ده اخیستې که څه هم په کلو می کار اؤ ډېر
سخت کار پکښی کړی دی ـ کله کله خو به می د ـ ډوډ اؤ ډرو تنو
کار په میاشت یوازی کاوه ـ په دې لومړی غونډه کی چی دا څرګنده
سوله چی د ـ په نګی ټولی پیسې پور مېچنانو (مشینانو ) لګېدلی
دی اؤ د ـ وړاندی کار چلولو لپاره چی نور څه نه وی ډوه ډوه نیم زره
روپی په کار دی اؤ ما د ـ جرګې غړو ته دا وویه ل چی اوس چی زه د ـ
چاپې اؤ اخبار په کار بند سوه م اؤ نوری په نګی ټولولو ته اوزګار نه یم
نو تاسی ځان زهیر کی اؤ دا پاته پیسې راله راغونډی کی خو د ـ
هغوې د ـ خبرو دا څرګنده سوله چی هغوې دې ته تیار نه وو ـ اؤ زه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په دې پوړے سوه م چې هغه د ـ ښاغلی جام نوروڵا خان خبره سمه وه
په جرګه میرګه به باور نه کوه م اؤ هر څه چې وی ځپله بېږے کوه م د ـ
دې څه اؤ وروسته بیا د ـ ځینو نوړو خبرو څخه دا را څرګنده سوله چې
دا د ـ خوداے پاك لوپه میهربانی وه چې کامی ده روږ جوړ نه سو
کنی زه اؤ ډېر نوړ به هسی په بلا اخته سوی واے ـ په مل کړو اؤ ډېرو
نوړو خلګو کی د ـ کار اؤ بیا سم کار مینه او هاړ (احتیاط ) په زیاته
د ـ پیسې لبکې اؤ ډېرو نوړو خبرو هاړ (تقوی ) د ـ سره نه وه ـ اؤ ډېر
په بېږے پروایی بېږے کار کاوه ـ ته ر دې چې ته ر ننه د ـ بلوچیستان
ډېرو کسانو په دې چاپه اؤ اخبار کی د ـ جرګې په توګه هه م اؤ په
تنخا هه م کار کړی دی خو د ـ ښاغلی نیزامی اؤ ښاغلی یاکوب خان
پڼته به ل چا ماته د ـ ګتې اؤ خرڅ لبکه د ـ سره راکړے هه م نه ده ـ
سمه یا پوره خو پڼېږده ـ اؤ چې ما به لبکه جینی غوه ښته چا به کار
پڼېښو چا به ځان ځوابدی کی اؤ چا به د ـ سرهه کاتې اؤ کیتابونه وړه ک
کړه ل ـ ته ر کمه چې د ـ ښاغلی نیزامی اړه ده هغه هه م لغه ړ د ـ
ځپه ل ځان لبکه هه م د ـ پیسو په هکله پاکه ساتلې وه نوړ کار یا د ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

نورو مل ګرو کار اؤ لیکه د ـ ده په وخت کی هه م نه ښه وو اؤ نه پاکه اؤ نه ده د ـ ځان کار ګاڼه ـ هر ځه ل چی به زه یا جېل ته ولاړه م یا به‌ل څه د ـ چاپې په زرو روپی به داسی ورکې سڼولې چی هیڅ درك به نه ووت اؤ مل ګرو به یو پور به ل اړولې ـ داسی یو ځه ل په کال ۱۹٤۲ کی وسو چی زه جېل ته ولاړه م اؤ کار می د ـ څلورو پینځو ډېرو ښاغلو مل ګرو په لاس ورکی اؤ به ل ځه ل په کال ۱۹۵۰ کی چی ښاغلی ازم جان اؤغانیستان ته ولاړ اؤ کار ۓ وه ښاغلی اؤدول سمد دورانی ته پرېښوو اؤ د ـ ښاغلی ازم جان د ـ تګه پس ده اؤ ښاغلی میر ګول خان بلوڅ اخبار چلاوه چی زه راغله م د ـ لیکې کیتابونه‌ورهٔ ک وو نه وو ـ ښاغلی ګول خان چی څه وخت پس جینی جوړا سوی وو هغه ویه ل چی د ـ ازم جان د ـ تلو پس کیتابونه وو اؤ پوره لیکه ل سوی وو اؤ زما ته ر وختې لیکه ل کېده هه م خو ماته ونه رسېده په . دغه ځه ل یو به ل غټ تاوان دا سوی وو چی د ـ مېخی چاپه تکی (ټایپ) یه زما بې خوښی اؤ بې تپوسه په زه ر روپی پور البرټ پریس خرڅ کړی وو چی هغه وخت هه م په اووه اته زره ارزېده اؤ وروسته ټیا

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

زما نیژدې لس زره روپۍ د ـ نوو ټکو پوړ را نیولو ولګېدې ـ که څه هم دا په دوډ کې یو غټ (فوجداری) تور وو او د ـ البرټ پریس پارسي خاوه ند هم دا منله خو ځکه چې زما د ـ جبله د ـ راتلو پس زما پوړ تپوس هغه زما له مخه وه ښاغلي سمد دوراني ته وویه ل چې ما خو دا کار ستا په نغوته او ډاډ کړی دی نو ما هغه هم ایله کړله،

دا خبرې مې اوس هم ځکه ولیکلې چې که ما اولسي ده روږ جوړ کړي واے نو به خود د ـ سرکار لاس پکښې واے او که کار دا شان چلېداے او سرکار او د ـ هغه پولیسو هسې هم وه ما او زما وه ملو ته پلمه غوه ښته نو څومرې لوے ګند به جیني جوړ سوی وو ـ اوس دا وو چې که له ږ تاوان وو که ډېر زما د ـ خان او ما دا واك ده رلوډ چې ته ر پښو یه لاندې که م او ږغ ونه که م ـ او هم په دے ازموده زه د ـ ګټې د ـ نوره ډېرو داسي کارو څخه بچ سوه م چې که دا ازموده مي نه واے ما به د ـ مل ګړو په بروسه او هم د ـ دوے د ـ اړی له مخې پېل کړی وو ـ نو چې د ـ نوري په نګې په هکله د ـ جرګې د ـ غړو څخه بیے هیلي سوه م نو مي ورور ته وویه ل چې داسي کار دی او ډوه



Scanned with CamScanner

یم زړه روپۍ په کار دي چاپې تېر په پوړې ورکه د ـ هغو یه کوړ ودان د ـ ته ل په شانېے دا ځه ل هه م راته وې ښه دی خو زې هه م لره م نه خو ده ر پیدا بېږي که م اوۀ په څو ړوزی کې ژړنده ګانه کړې وه اوۀ هغه پیسې یه ماته راکړلې چې ته ر ننه د ـ چاپې څه وړرسېدلی نه دی ـ



Scanned with CamScanner

# کال ۱۹۳۸

مه خ کی تېر سو چی د ـ دې کال په سر کی زه د "انجومن اپاغنه"
بمبیی په بلنه هلته ولاړه م دا په بمبیی کی د ـ بلوچیستان د ـ هغه
پښتنو ټولنه وه چی خپه ل د ـ ولات د ـ بدی روزی تنگی اؤ خواری له
مخی په سوړ پسی بمبیی له تللی وو چی پېلامې یه ما وړاندی یؤ
ځاے لیکلی دی چی په لنډو دا وې چی د ـ انگرېزانو د ـ سپېرو
(منحوس ) پښو (اقدام ) د ـ رارسېدو سره سم د ـ ولات نوکری اؤ
سوداگری د ـ هغو پردو خلکو لاس له ورغله چی د ـ انگرېز سره د ـ
نورو ولاتو څخه راغلی وو یا ذوے راوستلی وو اؤ د ـ خپه ل وختنی
مرییتوب له مخی د ـ انگرېزی سرکار په لارو چارو اؤنوې دؤتری ژبه
اوردو اؤ انگرېزی بلد وو ـ هه م دا شان د ـ ولات به ل لوے د ـ
گوزارې کار مالداری هه م د ـ انگرېز سرکار د ـ بېې پرواهی اؤ ناخواله
مرادو له مخی ورانه ویجاړه شوله نو پخوانو پښتنو سوداگرو د ـ خپلی



Scanned with CamScanner

هلنی بلدتیا له مخی د ـ ګوزارے لپاره د ـ هیند وه ښارو ته مخه وکړله اؤ څکه چی هلته هه م د ـ دوے لپاره څه سمه سوداګری خو نه وه پاته یا یه زّده نه وه کنی خو ښّپه ل په ولات کی بیے کولاے ـ نو یه په راز راز وړو وړو کارو ځان اخته کی چا به د ـ پنځی په توګه تهو کی یا تهوکران (کپره ) خرڅوله چا به د ـ ولاته د ـ اؤغانیستان وچه مېوه غالی یا به ل شے یووه ر ـ خو ځکه چی د ـ دوے په نګه به له ر وه په پردیس کی بیے ښّپه ل خرڅ وو اؤ ته ر شا به د ـ کهر خرڅ په پسیے وو ـ نو دوے لاچاره وو چی ښّپه ل پهر مال بیے ډېره ګټه اخیستله څکه بیے کار په کلو کی د ـ اړو زمیندارو سره کاوه اؤ یا په ښارو کی د ـ ډېرو ټرېوتو ـ بدکاره اؤ اړو خلګو سره اؤ هغه هه م په پهر ـ نو د ـ دوے کار په هر رنګ کی چی وو خو وو به سود ـ لکه دا چی مال بیے د ـ شّپېږو مّیاشتو یا کال په پهر په ډّوه ګرایه بها ورکی اؤ هغو به چا ولګاوه اؤ چا به بیرته په نیمه بیه په نغدو خرڅ کی اؤ هغه پیسے بیے په ښه کّړے، ځکه چی د ـ دوے کار به د ـ اړو خّوارو اؤ بد کاره خلګو سره وو نو د ـ کنبلو پهر وخت به دوے ته ته ل ګّرانه پیښه وه په سرکاری توګه اؤ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مّیانځګری کی خو د ـ انګرېز په وخت کی پوړ کښه ل هسی هه م
ګرانه خبره وه دولتمه ن اؤ سم خلګ به پوړی ښتړی وو ـ د ـ دوړے له
لاسه کله کېدله نو چی د ـ هغه لپاره به دوړے په ناچاری بدخوړی اؤ
جنګ جګړی کولے اؤ په ډنډه بیے خّپه ل پوړونه کښه لړ وړو وړو په
دوړے کی ځینو خلګو د ـ مال پلمه (حیله ) د ـ مّیانه وایستله اؤ
نیغی بیے پیسیے په تړلی سوړد ووړکولے خو ځکه چی هغه خلګو به ّتړے
اخیستلے چا ته چی به ل چا بېنګ ـ ساهو کار اوٗ سرکار هیچا نه
ووړکولے نه بیے څوك لاس ګه ر (ضامن ) یا لاس ګری (ضمانت ) ده
رلوړد اؤ د ـ کښلو هیله بیے ډېره کمه وه نو دوړے به ډېر ّزیات سوړد
اخیست اؤ ډېری له ږ پیسیے بیے ووړکولاے ښوے ـ ّزیاتره بیے د ـ
مّیاشتی پوړ سه ل پینځویشت سوړد اخیست کله کله به د ـ ّروزی یوه
انه پوړ روپی وه د ـ مّیاشتی ډوے انړ یا د ـ دے نه کمی ته راڼے پوړی
به یوړ یوه ماړه سړی اخیستاے ښوے اؤ هغه هه م د ـ داسی خلګو
څخه چی څه لاس ګری یا توړل بیے ده رلوړد ـ اؤ یا بیے ښه نوکری وه خو
خّپه ل د ـ بدکاری ـ خومار ـ شراب ـ له مخی به تنګ راغلی وو خو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په هر رنګ کی د ـ دوے د ـ پوړ د ـ اخیستلو اؤ کښلو سره به جنګ جګړه اؤ بدخویی هه م تېرلے وه ـ ځکه په کلو په تول هیند کی د ـ دوے له لاسه په زرو خلګه په کړاو اخته وو اؤ د ـ هیند اولسی اخبارو کامی کالخوایانو اؤ غتهانو به ته ل پوړ انګرېز سرکار زوړ اچاوه چی د ـ دے خلګو څه چاره په کار ده ـ خو انګرېز سرکار څه کوے نه په خوړ ـ ګومان می دی چی ځکه چی هغوے دا غوه ښت چی په هیند کی پښتون کام بدنام سی ـ د ـ هیند اولسے زلنده ـ بدخویه اؤ ناتاری وګنی اؤ ترے ویرېری ولی په هیند کی د ـ انګرېز سرکار یوه دا ټرے پېژانده هه م وه چی پښتانه ډېر ناخواله اؤ ناترسه خلګه دی ـ دا موږ یو اؤ زموږ زوړ اؤ چل ول چی دوے موګه رزولی دی کنی که موږ نه وو دوے به تاسی پاك وخوری ـ داسی خبری به انګرېزی اخبارو په ډاګه لیکلے او غتهو انګرېزانو به د ـ ډیلی په لویه جرګه کی کولے ـ هه م د ـ دے مراد لپاره دوے "ته ش د ـ نامه آزاد پښتانه" ساتلی وواؤ ته ل بیے پور کوتبی (شمالی )پوله جنګ جګړی ـ ډاکے ـ شوکی اؤ جنګونه جوړ کړی وو ـ خو د ـ کال ۱۹۳۵ م د ـ دوخت (آئین ) نه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پس چې له بې ډېر واك د ـ هیند د ـ خلکو په ژیاته د ـ کانګریس ډلی له په لاس ورغلی نو هغوے د ـ نورو ورانو سره د ـ دې غتې ورانی وه بندولو ته هه م مخه وکړله اؤ د ـ سود لپاره یؤ دود (قانون) جوړ کی اؤ چې د ـ دې دود خبری پېل شولے نو دغه پښتانه چې په زه ز کونو کسان وو وار ختا شوه ل ـ اؤ خپه ل د ـ دې ناخواله کار د ـ بچاو لپاره یه دغه ډله جوړه کړے وه د ـ دې پښتنو ته ل دا دود وو چې د ـ روژے په میاشت کی لکه د ـ پښتنو خوے چې دی چې هر چېری چې وی اؤ په روا یا ناروا هر کار چې اخته وی که څه هه م سود ـ غلا یا ډاکه وی ـ لمونځ اؤ روژه نه پرېږدی زیاترو به روژے نیولے خکه بیے خپه ل په کار پسی د ـ نور کله په شان سهار ته ر ماښامه خواری نسوه کنبلاے خکه بیے دا میاشت نیمګړے شانته چوټی وکړله ـ د ـ بمبیی اؤ شا اؤ خوا نورو ډېرو ځایو په زه ر کونه خلګه به راغونډ سو ـ تړوله میاشت بیے د ـ شپیے د ـ "پیلوز" پور میدان ـ لوبی اتنهونه اؤ شاتېرے کاوه د ـ پیشلمی یا سهار د ـ لمانځه پس به بیده سو اؤ ته ر ماځیګره به پراته وو ماځیګر به را پاځېده څه له بې ډېر کار بیے وکی روژه بیے

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ماته کړله اؤ بیا به "پېلوز" له تله یو د - "انجومن اپاغنه" غړو په دغه روژه خپله کالیځه غوڼه ایښې وه اؤ موږ ې بللي وو - ګومان مې دی چې زما په بلنه کې ډوه مراده وو - یؤ دا چې کنې زه به د - کانګریس د - مشرانو سره خبره وکه م اؤ هغوے به د - سود دوه (قانون ) نه جوړوی - اؤ یا به پښتانه جینې وباسې - اؤ به ل دا چې دغه ډله د - کوتې اؤ هیندوباغ ځینو ویښو کاکړانو جوړه کړے وه د - پښین سیدان ترینان اؤ اڅګزی نه وو په ګڼ هغو دا خوشي اؤ بېے ښې کار ګاڼه - اؤ د - کاکړانو ځانی شے یه باله نو د - ډلې د - مشرانو دا ګومان وو چې زما په وینا به کوندې دا نور خلګه هه م را ګڼ سی اؤ ډله به وغه ښتله سی - چې د - دوے بلنه راغله نو ما سوچ باندی وکی اؤ دا مې ښه وبلله چې ورسه م که نور نه وی په دے بېے پوے که م چې د - دوے دغه ناخواله کار په هیند کی نور نه چلېږی دوے له ځان راتولوه ل اؤ خپه ل پور اویجه بلوچیستان ځان له کار پیدا کوه ل په کار دی - نو زه ښاغلی مولوی غولامیدر باغی او زما یو تربور ښاغلی اوروول ودوډجان ورغلو د - هیند په له ړ آزاده هولکه کی د - اوسبدو له

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مخې دوړے د ۔ کامی ډلو اؤ غونډو راز ډول ژدھ کړی وو ۔ ښه ډروند
هر کلے مو وکی بیا یه ښې ډرنے غونډی (جلسے ) وکړلے اؤ ښې ډرنے
مېلمستیاوے راکړلے د ۔ لومړی شپې غونډی له په ښا رکی د ۔ نوړو
کامی ډلو د ۔ نوړو کسانو سرھ چی دوړے راغونښتی وو ۔ لکه خیلاپت
۔ موسلیم لیګ دوړے زما په بلنه د ۔ سیند ښاغلی جیرامداس دولت
رام د ۔ کانګریس د ۔ کاریندھ جرګے (ورکنګ کمیټی ) غړی چی دغه
وخت په ښار کی وو هه م راغلی وو ۔ خو چی ما په ځان له خبر وکی
هه م اؤ په غونډه کی هه م دوړے ته ښپه ل کامی رو څرګند کی اؤ په
دے می پوے کړه ل چی د ۔ دوړے دا کار په هیند کی نوړ چلیږی نه تهد
اوسه هیند ښپه ل واکه نه وو ځکه داسی کارونه پکښی چلیده اوس
هیند څه ښپه ل واکی پیدا کړله اؤ ژه ر به پوړھ ښپه لواکی مومی ۔
دوړے ته هه م خوداے ښپه ل تاتوبی او ځاے وورکړی دی اؤ ژموږ په
ولات کی هه م هر څه ستة که دغونه نوړ خلګه هه م وی لا هه م ژموږ
د ۔ ګوزارے بس دی ۔ ته ر اوسه ژموږ د ۔ ولات ګټی نوکری .
سوداګری ځکه نوړو خلګو خوړے چی د ۔ انګریزانو دا خوښه وه اؤ



Scanned with CamScanner

داسی دوډے جوړ کړی وو ـ زمونږ د ـ ولات ارته مڅکه څکه شاړه پروته ده چی یوے خوا ته یه سرکار د ـ آباتی څه سرینبته نه کوی اؤ بلی خوا ته مونږ هه م وورته شا کړے ده ـ دا په زرو خوانان چی د ـ ولاته په ګوزاره پسی راوڑه ك دی اؤ دلته په بده خوا وخت اړوی که په ولات کی سمه خواری وکاړی اؤ لکه د ـ هیند خلګه چی ستاسی په وړاندی د ـ خپه ل واکی اؤ اباتی لپاره کړاو کوی آو د ـ سرکار سره ډغری وهی مړی ـ بندیان کیږی اؤ نیا هه م لګیا وی که مونږ داسی کړی واے یا اوس هه م وکړو نو زمونږ ولات هه م آزاد اؤ آباد ـ جوړیداے سی ـ څکه تاسی ټولو له په کار دی چی اوس لا سر د ـ چاری خپه ل کار راونغاړی اؤ چی په ناچاری وزی ته ر هغه لا وړاندی په خوبنه خپه ل ولات له ولاړ سی اؤ هلته خپه ل د ـ ګوزارے لاری چاری ولټوی اؤ یا په د ـ سرکاره په زور واخلی ـ په ولات کی هر څه سته ـ نوکری سوداګری اؤ مڅکی یوے خواته سری غواړی چی کار وکی اؤ خواری وکاړی چی اوس مه خ له نسته ـ تاسی خبریاست چی د ـ پښین په زیاتره کلو کی ډیر کم خوانان اؤ د ـ کار خلګه پاته دی ـ زیاتره دلته په سود

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پسی را وړه ك دی ـ ته ر شا یا ښځی پاته دی اؤ یا تپ سپین بریری اؤ مځکی چی شاړی پرتی دی لګیا دی کال په کال نوری هم چوړان کیږی اؤ وړانیږی.بلی خوا ته دا غواړی چی سرکار دې ته ناچاره کړم چی هغوی څه د ـ ودانی سرینته وکی ـ خو زما خبری په دوی کی پوړ زیاتره کسانو ښې نه لګیدلې اؤ خوشی خبری بېې کولې لکه سوړ اؤ د ـ دوی دا جنګ جګړی چی ډېر ښه اؤ روا کار وی اؤ کانګریس سرکار ډېر بد کوی چی پوړ دوی یه بندوی ـ چا به ویه ل چی کانګریس سرکار دی زموږ باندی پوړونه یو ځایی موږ ته راکی اؤ چا به ویه ل چی ته ر دې خو هغه انګریز لا ښه دی چی زموږ کارې پړې ایښی وو خو ځینی پوه اؤ نیك مه رغه کسان داسی هم وو چی د ـ هغوی زما خبری وه زړه ته ولویدلې ـځینی په دې پوی سو چی دا زموږ کار ناخواله اؤ تاوانی دی ـ هسې هم موږ له پړیښوه ل په کار دی ـ اؤ ځینی په دې ورسیده چی هیند په روشتیا که نه ن وی که سبا آزادیږی اؤ په آزاد هیند کی دا زموږ شروته اؤ زیاتوب چلیداے نه سی ـ داسی کسانو به ځان له د ـ موږ سره خبری کولې چی موږ دا کار پرېږدو نو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په هېواد کې څه کار کولاے سو ـ اؤ ما په وړو وړو پوهوه ل چې هلته اسانه اؤ د ـ لږو پیسو سوداګرۍ ښته دي چې ښتاسې په شان له ږ لوه ستې یا نالوه ستې اؤ بېے پیسو خلګه اوس هه م په لګیا دي اؤ پوړ خپه ل کور د ـ بچو سره ناست په له ږ خوارۍ اؤ کړاو ته ر تاسې ډېره ګټه کوي ـ داسې کارونه ډېر دي په زیاته د ـ هغه ځاے د ـ مېوے اؤ سبزۍ کر اؤ سوداګرۍ چې زیاتره یه اوس د ـ کندهار خلګ کوي اؤ یا د ـ هیند د ـ بېلو ولاتو پردي خلګه ـ په کلو ـ ښارو اؤ بازارو کې وړے وړے دوکاندارۍ دي چې زموږ د ـ مخه د ـ سیند خواران هیندوان راسې اؤ په لګیا سې په څو کاله کې سېتان سې اؤ ښتاسې د ـ دے ځاے د ـ کلو ټوله ګټه په څو مياشتې کې د ـ ښادو اؤ ودو په بګتو اؤ رېږوو ده ر نه وګټې ـ ټیا د ـ کوټې د ـ مېوے اؤ سبزۍ د ـ مارکېټو د ـ دوکانو اؤ آړه ت ګټې دي په دے هکله مې د ـ پنا لال مارواړي یوه خبره وورته وکړله چې زما لیدلې او د ـ مولوی غولامیدر ازمویلې خبره وه چې د ـ پټاټو توخم په ښکاره خلګو ته د ـ شپږو اووو میاشتو په بوړ په ډوه پته وورکوي چې نېژدے دا سټاسې د ـ سوډ هومره ټرے

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

جوړېږی ځوا ډرې خلور آنے د ـ مېاشتی پوړ روپی اؤ بیا هه م د ـ هغه
که بنت پټاتې (الوګان ) په نیمه بیه جینی اخلی یا یه په اړهه ت
وورله خرڅوی ـ زړې بوری په ګرانه ووړکوی اؤ دا شان د ـ توخه م پوړ
یوه روپی باندی چی هیڅ نه وی په کال کی ډرې خلور ترې ګټی اؤ
سره هه م د ـ دې چی تاسی سود خواره بله ل کېږی بدنام یاست اؤکار
مو د ـ ډېرو شپکو اؤ پړیوتو خلګو سره وی اؤ دے د ـ کوټی یو ارزمه‌ن
سرے اؤ سېټ پنالال دی کارې هه م د ـ تړی د ـ بنو ارزمنو
زمیندارو سره وی چی نه جنګ پکښې وی نه بنکنځه ل اؤ سپه ك ویه ل
د ـ دې سپوا په هېواد کی ډېر نالوه ستی پښتانه د ـ سرکاری ټېکو
کار کوی اؤ بنې پیسې ګټی ـ بیا ورې اؤ غټی نوکری دی چی هه م له‌ډ
ډېر واك وورسره وی هه م ګوزاره په کېږی هه م د ـ بنارو اؤ بازارو
د ـ مېنی له مخی د ـ پاته نه پاته نوکر بچی په وړو اؤ غټو سرکاری
بنوونځو کی لوه ست کولاے سی ـ بیا پوړ ځینو مځکو باندی کارېزونه
اؤ کوهیان ختلاے سی ـ یا د ـ سرکار په کومك یا خپه ل د ـ اوله س
په لاس اؤ شریکه پیسه یا د ـ به ل پیسې وال سړی په خټ کښی ـ دا

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

شان زما د ـ دې دورې له مخې ډېر کسان د ـ سوده بېزاره سو او
ولات له راغله خپه ل کاروني پېل کړه ل او نه ن زياتره پکښې آبات او
ودان دي ـ په دغه کسانو کې د ـ غبرګ ښاغلی اوډول واهېد او د ـ
هغه ډوه نور مل ګری دي چې په موږ پسې ډېر ژه ر راغله او د ـ
کوټې په مارکېټ کې د ـ پنا لال په سيالی د ـ آړه ت کار پېل کی او
نه ن د ـ لکونو خاوه ندان دی ـ به ل ښاغلی د ـ کوچلاغ ښاغلی جان
مامد سنځر خيل دی چې هه م په موږ پسې لنډ راغی او نه ن د ژړی
تبی د ـ بنده ښت په ځانګه (اينټي مليريا ډيپارټمنټ ) کې پوړ ښه
نوکری دی ـ هه م دا شان د ـ کربلا ښاغلی الی مامد مير امد او د ـ
هغه ورونه دی چې ښه ګوزاره يه پيدا کړله او به ل ښاغلی سيد
سلاووړدين هاجی پټې خان د ـ هغه ورور موسا خان دوې دی چې نه ن
د ـ کرووړونو خاوندان دی ـ دا کسان خو زه پېژنه م او هغه وخت په
بمبيی کی په سوډ لګيا وو چې نور به له ر وی که ډېر ؟
د ـ دوې سره موږ ډېری شپې وکړلې يوه شپې له پوهنې ته هه م ولاړو
هلته موږ هه م يو اولسی غوه نډه (جلسه عام ) وکړله او د ـ ډېرو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خکلو سره مو ولیده ل چی ژیاتره اشکزی وو ـ ژموږ ژیات وخت د ـ دوے د ـ ډلی په هغه به ل ټراد باندی ولګېده چی د ـ پښین اشکزی ـ سیدان اؤ ترینان په دے ست کو چی په ډله (انجومن ) وورګډ سی په دے هکله مو د ـ ډېر کسانو سره ډېری اوږدے جرګے وکړلے خو څه په جوړه نه سُوله ـ چی د ـ هغه ډېری پېلامے وے ـ په ټولی کې غټه یه هغه بېلتون وو چی انګرېزی سرکار په جرګے کی د ـ بېلو کامو اؤ تپو ته ر ټیان راوستلی وو اؤ ته ر اوسه یه لا د ـ پاکیستان سرکار هه م چلوی ـ لکه انګرېزانو چی په هیند کی هیندو اؤ موسلمان د ـ بېل چوڼ پوړ نامه د ـ سره لا وېشلی او ډوه کامه کړلی وو اؤ په پاے کی ډوه کامه سو هه م ـ که ټ مه ټ دا شان یه پښتانه د ـ بېلو لویو او ورو تپو پوړ نامه څله وېشلی اؤ د ـ جرګے په سرېښته کے د ـ هری تپے لپاره د ـ بېل غړی یا غړو پوړ نامه څله وېشلی دی اؤ ته ر ډېره ځایه یه داسی بېلتون پکښی پیدا کړی دی لکه دوے چی یو کام او د ـ یوه کام بېلی ځانګی نه وی مه خ له بېل کامونه وی ـ اؤ د ـ جرګے دغه تپلی (نامزده ) غړی خپه ل د ـ کټی او ناخواله مرادو لپاره ته ل

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لګیا وی دغه ببلتوڼ نوړ هه م زیاتوی اۋ د ـ پخوانو تازی خلګو په
ځیر د ـ ببلو تپو ته ر مێان دوښمنی پیدا کوی چی د ـ پښتوڼ کام سره
د ـ انګرېزانو ته ر ټولو لویه دوښمنی وه.په دې هکله له ږ ډېر خو د ـ
هری تپې خلګه د ـ ښېلی تپې څه بې ځایه لوړے اۋ سیله کوی خو
کاکړان لکه چی په دې کی زیات ښتی دی ښکه چی د ـ بلوچیستان
نوری ټولی لوی تپې ته ر ډېر وخته د ـ اۋغانیستان د ـ کامی سرکار
ته ر سربښته لاندی راغلی وې زیاتره ځان دوړانی بولی اۋ په
اۋغانیستان کی د ـ دوړانو سرکارې د ـ امد شا بابا د ـ شپو ښپه ل د
ـ ځان باله نو د ـ اوغانیستان د ـ دوړانو تپو په شان په دوے کی هه م
څه نه څه ښاری ژوه ند راغلی دی ښکه د ـ دوے په هر کلی کی ډېر یا
له ږ اوپره پښتانه هه م ووړسره میشته دی اۋ په ارام یو شانته ژوه ند
سره تېروی ـ خو د ـ کاکړو تړه ښکه چی ناآباته او غریځه وه نو که څه
هه م د ـ کامی سرکار سره تړلے وه خو کلکه سرکاری سربښته نه وه
پکښې په زیاته روب اۋ بوړے د ـ کامی سرکار دا سربښته په دوے
باندی د ـ دوړانو په باچاګردی کی نوره هه م کمزورې شوله اۋ دوے د ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کامې سرکاره څخه څه بېل شانته پاته سّوه ل اؤ ژوه ندې لا نوړهه م د
- ښاري پوړ ځاے د - تپو (قبائلی ) اؤ کوړ په شا سو ځکه د - دوے
په مّیان کی د - نوړو تپو پښتانه خو پړېږده - د - یوې کاکړی تپېې
خلګه د - بلی تپېې په مّیان کی د - سّیالانو په توګه نه سی
اوسېدلاے - که د - سنتیا کلی یا کلی وی نو سنغرخېل به نه وی
پکّښې هه م دا شان د - سنغرخېلو یا په سنتیا اؤ سنغر خېلو کی
بېلی تپېې هه م دا شان یو د - به ل سره ډېری کمی ګهېږی - نو د -
انګرېز پیدا کړی دغه نامّراده بېلتون په پردېس کی هه م د - دوے ته
مّیان وو - اؤ بله پېلامه یه دا وه چی د - اڅکزو اؤ ترینانو ځینی
پوه خلګو د - سره دا ډله بېې ښې او خوشی ګڼله - اؤ څه کارې په جوړ
نه باله - که څه هه م زه پخوا هه م د - دغو پښتنو د - ژوه ند په څه
تاوانو اؤ کړاو خبر وه م خو دغه ځه ل چی ډېری شّپېې وور سره واوسېدم
په ډېرو نوړو تاوانو کړاوو سّپکو او بېې ارزو یه خبر سّوه م - لکه دا
چی د - ډّرو کالو څخه ته ر شلو کالو پوری به دوے د - کوره وّره ک وو
اؤ ته ر شابېې ښځی او واړه پاته وو - هلته دوے ته هیڅ سم سړے نه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

نیژدے کېده اؤ د ـ دوے سره ناسته پاسته یا تګ راتګ خو پرېږده وورسره ګایده یا نیزدېکت هه م سمو خلګو د ـ خان ښپکه ګڼله ـ کارے د ـ ډېرو پړېوتو اؤ بدو خلګو سره وو ـ ګټه به هه م ډېره له ر اؤ بېکاره ګوزاره وه په سوو کی به د ـ څو کسو کار داسی وو چی سه ل ذوه روپی بیے د ـ میاشتی بچت کولے زیاتره خو به ډېر تنګ وو ـ ځکه به په کلو ناست وو اؤ زه ر ذوه روپی بیے نسوہے بچ کولاے چی د ـ پردے سره کوږ ته راسی ـ کارے ډېر د ـ خواری اؤ سپه ك کار وو ـ ژوه ندے ډېر تنګ اؤ پړېوتی وو ځکه به پخوا ما دوے یوازی زلنده (ظالمان) ګڼه ل اؤ پوره هغو خلګو به می زړه سو چی دوے به خوروه ل اؤ زهیروه ل خو دا څه ل می دوے ته ر هغو زیات نتلی اؤ څو رنګ ولیده ل اؤ د ـ هغو خلګو سره لا ته ر هغو زیات می پوره دوے زړه خوږېده چی انګرېز د ـ سپېره راج له مخی خپه ل د ـ جنت په شان ښکلی اؤ ودان ولات اؤ د ـ سپینو پښتنو ارزمه ن ژوه ند جینی پاته اؤ په دے کړاو اؤ سپکه اخته وو ـ نیژدے دیارله س روزی پس زه اؤ ښاغلی اؤدول ودود جان د ـ دریاب په لاری کراچی ته جینی راغلو ـ ښاغلی مولوی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

غوړلامیدر هوړې پاته سو ـ زما دغه لومړے دریابی یون وو اؤ ته ر
اوسه ټیا هه م په اوبو کی چېری نه یه م تللی ـدا یون می هه م په دریځ ،
ځاے (ډیك ) کی وکی خو ځکه چی نوی اؤ لنډ وو ډوے که ذوه
نیمی زوزی وہ بنه سوکه راورسېدلو اؤ په لاری هیڅ هغه کړاو را پېښ
نه سو چی د ـ دریاب په یانه کی پېښېږی اؤ نوړ خلګه په اخته وو لکه
د ـ سرګښت ـ باکی دوے ـ زیاتره وخت به مو په جهاز کی په ګښت د
ـ دریاب په سېل اؤ د ـ جهاز والاوو څه په تپوسو تېر کی خوب اؤ
خوراك مو ډېر ښه کاوه ـ



Scanned with CamScanner

# یوه ناپیښه مسخره او پیښه

د ـ بمبیی په غونډو کی به د ـ هغه ځاے د ـ خلکو د ـ پېښو پوړ چم د ـ ډلی (انجومن ) خلکو هه م ځینی ناری کولې ـ لکه ناره تکبیر او بلوچیستان آزاد ـ او زما لپاره بهے ویه ل کاید ازم اوډول سمد ـ زنده باد ځکه چی پښتانه په داسی چیغو ناولده وو نو کله به د "الله اکبر" په ځاے زنده باد او کله به د ـ ژوندے دی وی په ځاے "آزاد" جواب ورکوه ل سو خو چی موږ را روان سوی یو د ـ ډلی (انجومن ) خلکو پام کړی دی چی په دے سړی خو زموږ هیڅ کار ونه سو نو په کانګریس زموږ سوړ رایله کی او نه یه اخګړی او نوړ خلکه ډلی له راوسته ل ـ نو کلك خوابدی سوی وو او په غوه نهه کے دا پرېکړه کړے وه چی موږ چی ده ته د ـ "قاید ازم" کوم نوم (خطاب ) خپه ل په غونډو کی وورکړی وو هغه موږ له ده څه بیرته اخلو او ښاغلی میستهر جینا تے وورکوو " او د ـ دے پسی دا نوم په ښاغلی جینا پوری داسی ولګیده چی په پاے کے کامی نوم (خطاب ) سو ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# اخبار استیکلال

د ـ بمبیی څه د ـ راستونېدو پس چی چاپ ولګېده اؤ کارې پېل کی نو ما یوې غاړی ته د ـ چاپ په ژیاته د ـ لېتو چاپ لپاره د ـ کار سړی لټوه ل پېل کړه ل چی په کوټه کی لومړے اؤ نوی کار وو اؤ دلتې سړی لکه مېچنی ( مشین مین ) اؤ د ـ هغه کومکیان لیکونکی (کاتبان ) اؤ نور مه خ له نه وو ـ دا سړی می د ـ پنجاپه راوغوښته ل خو ځکه چی ژمی وو اؤ د ـ کوټی یخ سړی په هله اسانه نه تېنګېده ـ چا به څو روزی کار وکی تنګ به سو څوك به د ـ ناجوړی په پلمه وته ښتېده اؤ څوك به د ـ چوټی په بانه ولاړ ـ بلی خوا ته می د ـ اخبار لپاره د ـ چلوونکی تلاښ پېل کی ـ اؤ ښاغلی کودوس سیهبایی چی اوس په پېښوه ر کی د ـ پاکیستان ټایمز خبریال دی می راووست ـ دے هغه وخت په کراچی کی په یو ځانی پوهنځی ( پرایویټ کالج ) کی اوستاد وو ـ اؤیا روپی بهې میاشت اخیستې ـ یوازی سړے وو ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ځکه به په سیند زمیندار هوټل کی اوسېده د ـ کمیونیزم یا ۆراندی تګ ( ترقی ) د ـ دوستی له مخی به د ـ ښاغلی مامد امین کوسه سره ناست پاست وو ـ ګوزاره یه تنګه وه موږ سه ل روپی د ـ مٌیاشتی ورکړلې اۆ د ـ اخبار لیکلو لپاره مو کوٌټی له بوت ـ اۆ اخبار مو پیل کی اِخبار په اوردو ژبه وو څه څه پښتو به مو هه م پکښی لیکله ـ سرلیك (لیډر ) بېې د ـ بلوچیستان پور ځایی خبرو وو ـ ځکه به زٌیاتره ما لیکه ـ خبرونه بېې هه م زٌیاتره د ـ بلوچیستان ځایی پېښی وې ـ ښاغلی سهبایی به په ښار ولی (لوکل سیلف ګورنمنټ ) یۆ خٌپه ل اوږد لیك هره هوٌته لیکه اۆ د ـ هېواد (هیند ) یا نړی د ـ پېښو په هکله بېې واړه سره لیکونه (سب لیډرز ) لیکه ل اۆ نور بېې نو د ـ لیکونو اۆ خبرو ژبه سموله په لومړی سرلیك (لیډه ر ) کې هه م ما دا ارمان ښٌکاره کړی وو چی " زٌما دا نه وه خٌوښه چی دا سرلیك به زه لیکه م اۆ نه اخبار لیکه ل زه خٌپه ل کار ګڼه م ځکه مې خٌپه ل له خٌوا دا وس وکی چی دا ځاے به ل داسی مَل ګری ونیسی چی دا کارې خٌوښ اۆ وړوی خو هغه ونه سو ځکه په ناچاری دا کار ته ر هغو زه کوم ،


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چی به ل وړ سړے وړرله پیدا کیږی " خپه ل ځایی اخبار په بلوچیستان کی لومړے اؤ نوی کار وو اؤ بیا په "ایستیکلال " کی ځایی خبرونه اؤ د ـ ځایی خلګو غوښتنی ناله ښتو نه په ښه توګه راواته اؤ به ل د ـ په نګی د ـ ټولولو په وخت کے ډیره ړرے پیژانده سوے وه ـ اؤ د ـ ټول ولات خلګه په خبر سوی وو اؤ ډیرو خلګو د ـ په نګی سره سم د ـ کال بسپه ن هه م وورکړی وو ـ ځکه ډیرو خلګو په مینه لوّه ښت اؤ د ـ بیلو ترو خلګو هسی هه م ډیر نمونه اؤ پتے رالیږلی وے چی دوے ته اخبارونه پیل کی بسپه ن یا انداز ( چنده ) بیے ده ر ولیږو نو موږ اخبار شپږ مخه په ۲۹۲۲ کچه روان کی اؤ ډوه زره مو چا پاوه چی بیا ته ر اوسه د ـ بلوچیستان هیڅ یو اخبار د ـ دے په نیمه هه م نه دی چاپ سوی ځکے ډیر ژه ر په سرکار اؤ سرکاری خلګو کی ډیر مه خ ومینده د ـ هغه وخت لاټ سرپارسه نز چی اوردو یه لوّه ستاے ښوله هغه به ځان له بیله پرچه د ـ وتو سره سمه غوه ښته اؤ لوّه ستله بیے هه م دا شان زیاترو سرکاری نوکرانو ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner




# یو څو ته رخے ازمودے

په بلوچیستان کی هغه وخت زیات اؤ ته ر اوسه لا هه م د ـ ټپال سرېښته ښه نه وه ـ د ـ انګرېزی هوکلپے وه ځینو ښارو ته خو به کله په ربل اؤ کله په لاری کی ټپال روزانه رسېده ـ ځینو ته په هوته کی ذوه ذرے ځله اؤ لا ځینو ته به په هوته کی رسېده ـ ځو کلو ته به زیاتره نه ته او چېری چېری به په هوته ذوے کی ټپال ته لکه د ـ پښین او کوټی شا اؤ خوا کلی د ـ کوټی د ـ ښار والی (میونسپلټی) د ـ پولی څخه پور میل نیم چی لوے لوے کلی وو ـ هغو ته به هم ټپال په هوته

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دوے کی رسېده هه م داسی د ـ پښین اؤ کلا اوډولاخان کلی وو د ـ ګولیستان ـ بوری او چمه ن اؤ اپوزو ـ سیوی ـ جټ پټ ـ اوستا مامد اؤ ډېرو نورو کلو له خو د ـ سره ته هه م نه د ـ داسی کلو ختونه دوے به له تپالی سره پراته وو چی کله به څوك راغی نو د ـ چاچا ختونه بیے یوړوه ل کنی خیر وو ـ یا به د ـ ښارو اؤ بازارو د ـ ځینو دوکاندارانو پور پته تله اؤ هغوے به بیا د ـ هغه کلی د ـ چا سری په لاس لیږه ل ځکه به زیاتره اخبارونه نه رسېده د ـ کلات اؤ نورو بلوڅی ریاستو سرینبته خو لا نوره هه م ګرانه وه ـ اؤ مور چی د ـ څه وخته پس خلګو ته ختونه ولیږه ل چی د ـ اخبار بسپه ن (چنده ) راولیږی ـ یا مو وی ـ پی ـ پی ـ ولیږه ل هغه زیاتره خو ونه رسېده ـ ولی ډېرو کلو له خو تپالی نه تی پراته به وو ـ اؤ د ـ هوتیے پس بیے را واپس کی چی څوکیے نه اخلی(Un Claimed)اؤ چی کومو کلو ته تپالی ته هه م هغو هه م د ـ پیسو د ـ وړو راوړو کار نه کاوه یا یه نه وو خوښ ـ هسی بیے د ـ خان د ـ اسانی لپاره باندی ولیکه ل چی خاوه ندے نه اخلی (مرسل الیه لینے سے انکاری هے ) ـ ځینو خلګوبه راته ولیکه یا بیے خبر راکی چی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مور اخبار لیدلی هه م نه دی نو پیسې د ـ څه درکو ؟ ځکه اخبار ته یؤ خوښه ډېر تاوان ورسېده اؤ به ل یه خورونه (اشاعت ) ډېر کم سو د ـ سره یه د ـ خوروني میدان ډېر راکم سم ـ ناپېښه لا دا وه چې په کلات کې د ـ ښاغلی میر اوډول ازیز کورد ځینو ناپوهه مل ګرو چې د ښاغلی جام نوروِلا خان څخه خوابدی وو اؤ د ـ هغوے سره زما دوستی وه ځکه یه په هسکار د ـ دے اخبار د ـ تاوان لپاره په ګډه دا پرېکړه کړے وه اؤ نور کسانے هه م د ـ ځان مل ګری کړی وو چې ته ر څو اخبار وېریا راځی لولو بہے او چې کلے وی ـ پی راسی نه بہے اخلو اؤ نه بہے د ـ ختو جوابونه وورکوو اؤ ځینو اوپره ( غیر ملکی ) سرکاری نوکرانو هه م دا چل کړی وو اؤ نور خلګه بہے بېروه ل چې دا اخبار مه وایاست تاوان به ده رورسېږی ـ ځینو د ـ تپال او پره سرکاری نوکرانو به په هسکار اخبار نه رساوه اؤ نه بہے وی ـ پی رساوه ـ ځکه چې په دے اخبار کې په سرکاری نوکرو کی د ـ ځایی خلګو د ـ ونډې پرے پېژاندھ کېدله یا د ـ ځینو موك خورو بیکارو اؤ زلندھ سرکاری نوکرانو د ـ ناکردو اؤ ناخواله کارو پرے پېژاندھ کېدله ـ سرکاری مړه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ستہ (امداد ) یا خوّرونی (ایشتہارات ) خو نہ راکوہ ل کیدہ اوٗ نہے تہر
ڈیرہ مور ثہ تکل ھہ م کری وو ۔ خو ّبیا ھہ م ځکہ چی د ۔ ولات
یوازی اخبار وو ۔ خلگو بہ پہ مینہ لوّہ ست اوٗ ځینو بہ پہ ناچاری کوت،
سوداگرو اوٗ نورو خلگو بہ خّپہ ل د ۔ شیانو ّپرے پیژاندھ پکبنی کولہ
( ۲ ) کلہ کلہ بہ پہ لاری روان وہ م یا بہ یو ځاے پہ ثہ کار پسی پیبنں
سّوہ م ځینو خلگو بہ پیسے راکرلے چی " ھہ ن دا ّستا د ۔ اخبار بسپہن
دی " ڈیرہ بہ می خّوا شّنہ سّولہ اوٗ ځان بہ ثہ چریہ (فقیر ) غوندی
راتہ وایسیدہ د ۔ چا بہ می پہ ماتہ خّوا واخیستلے اوٗ وّروستہ بہ می پہ
دے پوے کی چی زہ اوٗ اخبار ځلہ بیل شّیان یو اخبار خّپہ ل ذوتر لری
تاسی لہ دا پیسے ھلتہ لیرھہ ل یا رسوہ ل پہ کار دی اوٗ د ۔ ھغو رسید
اخیستہ ل پہ کار دی اوٗ یا یہ وورولیری ۔ اوٗ د ۔ چا بہ می وا ھہ م نہ
خیستلے وورتہ وبہ می ویہ ل چی دوترلے ولیرہ ۔ پور دے بہ د ۔ ځینو
خلگو ّخوا ھہ م بدہ ّسولہ اوٗ دا خو بہ تھولو راتہ وویہ ل چی "دا تہ خو
ثہ ناپیبنہ شان سرے یہے نور اخبار والا خو پہ مور پسی ګہ رزی آو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پیسې رانه غواړی اؤ په جواب هه م نه جوابیږی آو تا ته موږ پیسې ده رکوو تې اخلې هه م نه وا دؤتر لې ورسوی ؟"

(۳) هه م په دې هکله یو وخت بناغلی میر باوه ل خان کوسه چې ډېر سوکه ړ (ظریف ) اؤ پوهه سړې وو په جوکمابات کی دا ناپیبنه توکه را باندی وکړله وې "خان ښتا د ـ اخبار بیك منګو څوك دی ؟" ما وې "هغه لا څه وی ؟" وې "ولی د ـ پلانکی اخبار پلانکې بیك منګو دی اؤ د ـ پلانکی اخبار پلانکې نو ما تپوس وکی چی ښتا د ـ اخبار بیك منګو څوك دی ؟" ما وې "هغوې خو کشه ر یا کومکی چلوونکی (اسستنټ یا جایه نټ ایډیټر ) دی چی زما د ـ اخبار نسته اؤ دې کشه ر یا کومکی چلوونکی ته په سیندی ژبه تاسی "بیك منګو" وایاست که څه ؟" په خندا سو وې نه بیك منګو خو وه چربه (فقیر ) ته وایو خو دوې چرته کشه ر یا کومکی چلوونکی وی هغوې خو نه په لیك لوه ست پوهیږی اؤ نه چیری په اخبار کی څه لیکی یا دؤتر له ځی هه م د ـ هغوې خو هه م دا کار وی چی سرو کال په بیلو ترو کی ګه رزی اؤ د ـ یتیم خانو د ـ چربه ګانو رنګه د ـ بسپه‌ن



Scanned with CamScanner

چاپ کړی رسیدونه وورخخه وی کله خپله اؤ کله د ـ چا ـ سرکاری واك وال یا به ل مخور سړی په خوله د ـ خلکو څخه د ـ اخبار لپاره پیسې ټولوی اؤروشتیا یا ډروغ رسیدونه وورکوی نو ما وه ل تاسو به هه م څوك دغه شان بیك منګو ساتلی وی "دغه کار تر ننه هه م د ـ بلوچیستان ځینی اخبارونه کوی ـ

(۴) د ـ اخبار لومړی شپیې وه ـ زما باورچی پوړ چوټی کوړته تللی وو زه سهار چایو له هوټل ته ولاړه م چی پوړ هغه ځایې جوړ وو چیری چی نه ن د ـ خوداے رام سینما ده ـ ما چایی چښلې چی هاجی پټې خان چی نیژدې یه د ـ ټوکرانو دوکان کاوه د ـ خپله ځایه را ولاړ سو زما خوا له راغی د ـ روغ بړه پسې راته وې چی "خان ستا په اخبار کی چی سړے یؤ چاته ښه کلکی ښکنځا اؤ سپکی سپوړی لیکی نو څو خرڅ باندی راځی ؟" ما وورته وې "ولی ؟" وې "بس پلانکی ته می زړه ډیر ډك دی "زما ډیره خوابده سوله اؤ دے می ورو ورو پوے کی چی یو به ل ته سپکی سپوری ویه ل اؤ یا لیکه ل خو ښه کار نه وی اؤ نه اخبار د ـ دے لپاره وی ـ اخبار خو د ـ ډیرو ډرنو کامی کارو لپاره وی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هغه ډېر هېښبه سو وې " که سْتا اخبار داسې وي نو وي به ټول خو داسې نه دي هغوې خو پیسې اخلي اؤ هر څه کوي " اؤ دا یه روښتیا ویه ل یوازې هغه وخت لا نه اوس هه م د ـ بلوچیستان زیاتره اخبارونه دا کار کوي خو څوك له ږ څوك ډېر څوك دغه کار د ـ خوشامندو په رنګ کې کوي ـ څوکې د ـ بېرولو اؤ څوکې د ـ شرمولو په راز کې یو وخت خو داسې هه م وو چې ډېرې څلور تنه به یو ځاې سو روښتیا یا دروغ په یوه ارزمه ن اؤ دولتمه ن سړي پسې بې څه خبره جوړه کړله یا بې د ـ هغه څه کمزوري پیدا کړله اؤ بنه بې جوړه (سازش ) وورته وکې یو به د ـ هغه خواخوږي جوړ سو ـ به ل به په اخبار کې څه اشاره وکړله اؤ به ل بې دلال سو ـ او په ګله بې څه پیسې ترې پرې کړه لې اؤ بیا بې سره ووېشلې ـ دا شان یوه خبر ښاغلي اودول سمد دوراني د ـ ښاغلي نور مامد ګوله په هکله راته وکړله چې ده نیزامي اؤ مولوي ابیدولا جوړه کړې وه که څه هه م دې ډېر باندې پښېمانه وو خو زیاترو اخبار والو دا کار اډو د ـ سره بد نه باله ـ

(۵) یو وخت په کوټه کې ماښام ناوخته ځاې له راغله م ښاغلي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سردار مامد ایسا خان مامدزے ناست وو چی دغه وخت په کوټه کی وروکی تاسیلدار وو ـ اؤ موږ ته نیژدے په اینډه رسن روډ اوسیدہ ـ زما ښه پیژاندوے اؤ ښه خولوه ر او سوکه ړ سړے وو سات ناست وو دلی دوری خبری یه وکړے اؤ لاړ ـ سړے هسی به وخت اړه ولو له راغلی وی ـ ښبا یا بله ورز ټیا هه م دا شان راغی نو پوه سوه م چی "د ـ بانډیخی سلام بہے کاره نه وی" خو کوره چی څه کارے دی ـ بله ورزے د ـ "بلوچیستان جدید" تیر ګنه را اخیستے وه ـ وے ـ "کوره دے اخبار والا ښاغلی نسیم زمور ای ـ اے ـ سی ښاغلی مولوی ایمام دین ته داسی بد لیکلی دی ته خو د ـ دے څه جواب په خپه ل اخبار کی ورکه " اؤ چی ما وورته وویه ل چی " زه خو دا کار نه سه م کوا ے " نو یه خوا بدوله که هر څه می پوه کی چی دا ښه کار نه دی اؤ اخبار د ـ دے لپاره نه وی خو خوښه یه وه ـ په پاے کی می په دے هه م پوه کی چی هغه خو نور هیڅ نه دی لیکلی چی کنی ښاغلی ایمام دین داسی بد کار کړی دی یا یه دا پلانکے کار نه دی کړی چی زه ښتا سوپه وینا د ـ هغه رد وکه م چی دا کارے نه دی کړی یا هغه نه دی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ترې پاته سوي هغه خو لغړي ښکنځا ليکلي دي چي د ـ ده سر داسي دي لکه بانجن او غوږونه يه داسي دي لکه د ـ سوږے نو د ـ دې څه جواب کېداے سی ؟ څه زه دا وليکه م چي نه سرې د ـ باتهينګڼ شانته نه دی تېپه ر رنګه دی ؟ او دا می هه م وورته وويه ل چي ته وينے چي دغه نسيم د ـ تېرو څو مّياشتو راسی څپه ل نيم اخبار ژما په بدو ردو ډکوی نو که ما د ـ هغه جواب کولاے يا می ښه کار ګڼلاے نو خو د ـ هغه ځپلي غندني جواب به مو وورکړی وو ـ نه دا کار نه کولاے سم او نے ښه ګڼه م خو ځکه چي سړی هغه خپه ل بالا اوسر خوشاله کوه ل غوښته له ماخوابدي سو

(٦) سردار بلدېو سينګ د ـ پښين ای ـ اے ـ سي بدلېده ـ هسي هم ښه سړے نه وو او له ما سره خو يه ځاني هه م هيڅ بيے هيڅه څه زيات بد کړي وو او تاوانے رارسولی وو چي وړاندی به راسی خو ژما د ـ يوه خوږه دوست ښاغلي سپين غيلجي اشناے وو او هغه يوه روز راغی وہے " هرو مرو به ژما لپاره د ـ بلدېو سينګ څه ستيانه په اخبار کی ليکے " چي هر څه می وورته وويه ل چي اخبار د ـ دې لپاره

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

نه وی اوْ دا نه کوه م نې منه ل په پاے کی می وورته وویه ل چی ښه دی تې یو ښه خوے یا ښه کار راوښیه زه به ښتا د ـ پاره هغه ولیکه م د ـ ډېره سوچه پسې هه م څه پیدا نه کړه ل خو ښیا یه هه م راته وویه ل چی "که ښېګړې پکښې واے نو زما و وینا ته څه اړی وه ځپله به څرګنده سوې وه زه خو دې له راغلی یه م چی زما لپاره د ـ دغه بد ښتاینه وسی " اوْ چی ما وې دا نه کېږی نو ځوابدی سو ـ

دا خو خبری می دې له ولیکلې چی هغه وخت می پور زړه ډېری بدی لګېدلی وې اوْ ته ر ننه می یادی وې اوْ به ل دې له چی د ـ هغه وخت د ـ اخبارو اوْ کامی ژوه ند څه نمونه سی ـ کنی داسی ګرانی خو ډېری وې ـ چی یوه لویه خواری پکښی د ـ سپاره ښت چی په خلکو کی د ـ ځایې یا روا خو پرېږده بېې ځایه اوْ ناروا هه م دومری دوه سوی وو چی د ـ دوستی ځپلوی کامولی اوْ ښېګړی یوازی نخښه هه م دغه ګڼله کېدله ما د ـ لویه سره دا کار ښه نه باله اوْ نه می کاوه په زیاته سرکاری واك والانو ته د ـ خلکو د ـ ځپه ل میان په ناله ښتو کی می کله هه م سپاره ښت نه کاوه ـ اوْ نه می چېری په اخبار کی داسی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سپاره ښتونه لیکه ل لکه ځینی اخبارونه چی ته ر اوسه هه م لیکی خو
د ـ واك والانو د ـ ناخوالی اؤ د ـ خلکو د ـ ښې خوندی د ـ سپاره
ښت ناجوړی دونه خوره سوې وه چی واك والان خو پرېږده د ـ بازار ته ر
درمانیانو پوری به خلکو سپاره ښتونه غوښته ل که هر څو به می
ووړته وویه ل چی دا خو دوکانداران دی پیسې اخلی اؤ داروګان ده ر
کوی یا درمان ده ر له کوی په دې کی سپاره ښت ته څه اړی وه ـ خو د
ـ خلکو خوے ګه رزېدلی وو ځکه به می ډېر وخت په داسی خوشی
سپاره ښتو خرابېده اؤ خرڅ به می هه م باندی کېده ـ یو وخت می یو
سپین ږیری ماما راغلی وو د ـ سرکاری درمانتون په لوے درمانی
(سیوه لن سرجه ن ) یه درمان کوه ل غوښته ل یسهار له داسی وخت راغی
چی زه د ـ ښوونی (تعلیم ) د ـ کمیشنر لیدو له روان وه م شه ل مینته
وخت پاته وو وې راځه زما کار په راوکه ما ووړته وویه ل چی اوس خو
زما دا کار دی سبا له به ستا کار وکو ـ وې نه زه په زاوال یه م اوس
راځه ما وې اوس خو وخت نسته تلاے نه سه م زه به د ـ هغه سره په
ټلیپون خبره وکه م اؤ ته ورسه کار به دی وکی بس خوابدی سو اؤ روان

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سړ-وړے چی کار نه راکوړے نو داسی راته ووایه کنی دا څه پلمې دی څو یۆ پینځه یا لس مینټه به په څنګ ورسېږ په ناچاری ووړسره ولاړه م اۆ لس مینټه ته ر وخت وځنډېده م اۆ د ـ هغه کمیشه نر جان سارجه نټ نه می بخښ وغوښت ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د ـ ښاغلي سهبايي تګ

ښاغلي سهبايي څو مياشتې راسره کار وکړ يو مياشت دوې خو زما په ځاے کې اوسېده ـ ټيا يه د ـ يوه به ل مل ګرې سره په شريکه ځان له ځاے واخيست اؤ هلته اوسېده خو په انهيوالي کې سره تنګ سو ځان له هه م نه سو اوسېداے ـ يو وار ډوه يه ما جوړه ووروکړله خو به ل وخت زه په لاهور کې وه م اؤ ده کار پرېږدې اېښې وو اؤ تللې وو ـ ماته مل ګرو تار راکړ چې ښاغلي سهبايي لاړ دي" ما هلته د ـ به ل سړي تلاش پيل کړ چا ډوه کسان را وښوه ل چې هغه وخت بې کاره وو يو ښاغلي وکار (وقار ) انبالوي اؤ به ل ښاغلي اختر شېراني ـ ما ښاغلي اختر وليد خبرې مې سره وکړلې هغه تيار وو ـ خو بله ورځ چې زه ماپښين ځاے له ورغله م دے نه وو ـ وتلي وو ځاے يه مېوه منډې ته نيژدې وو زه ته ر مابنامه ډوه ډرې ځله ورغله م اوسترے څه ل چې زه راستون سوه م دے راغي ـ سخت اؤ بې سده نشه وو ـ د ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

شرابو بوتلې په جېب کې وو اؤ يؤ به ل ځوان هلك ووږسره وو دے نه
د ـ تګ وو اؤ نه د ـ خبرو هغه به ل هلك ته ر لاس نيولې را روان
کړې و وې ماچېې دا شان وليد نو پوے سوّه م چې دے زما د ـ کارنه
دې د ـ هغه به ل سړې چې مې تپوس وکې هغه هه م زما د ـ ښې نه
وو ـ نو سهار له مې ښاغلې "بارې" پيدا کې چې د ـ "آزاد" اخبار له
وخته مې پېژاند د ـ هغه سره مې خبره وکړله چې يو سړے مې په کار
دې ـ ټيا دواړه ښاغلې چراغ هسن هسرت له ورغلو خبره مو ووږسره
وکړله اؤ هغه يؤ نوې ځوان په لاس راکې ـ



Scanned with CamScanner

# د ښاغلي الا بخش سليم مل ګری

چې الا بخش سليم نومېده څه ډېر لوه ستی خو نه وو خو اوردو یه ښه لیکلاے ښوله اؤ زما کار په پوره وو - شپېته روپۍ مې تنخا ورکړله اؤ رامې ووست - ښه خواري کښ اؤ د هر کار د - زدکړي باړجه ن (شوقين) ځوان وو - په پنجاب کې د - خوشاب د - غاړي وو - د - اخبار ليکلې څه څه خو پخوا لا زده وو - اؤ زه که چې د - زدکړې سرے مینه وه نو ډېر ژر ے د - بلوچيستان په بندو (مسائل) اؤ لارو چارو ښه ځان پوے کې - ډېر نېغ ریشتونی اؤ جوشي سرے وو - شپږ او وه کاله د - ښاغلي مشرکې (علامه مشرقی) سره خاکسار اؤ ډېر نيژدے اؤ باوري مل ګری پاته سوی وو اؤ د - هغه د - ژوه ند په هر څه له ځ اؤ په ټ خبر وو - ځکه يه د - کامي خلګو او مشرانو په هکله ډېر غټ شکونه ده ر لود - په لومړي سر کې له ما سره څه وخت په ځاے کې اوسېده اؤ ته ل بيے ماته هه م د - شك په سّته رګه کاته

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ژیاتره بیے دا ګومان وو چی دے به هه م د - نورو په نګی والو (سرمایه دار ) اؤ بادارانو په شان ما اؤ نورو نوکرانو ته په سپکه ستهر ګه ګوری خو چی زموږ پښتنی ژوه ندے د - نیژدے ځایه ولید چی د - ده اؤ نورو نوکرانو سره می په ناسته پاسته - خوراك چیښاك کی هیڅ بېلتون نه ساته اؤ ژیاتره به مو په یوه رینګی (دستر خوان ) یو ځاے اؤ یو شانته روټی خوړله د - خپله کاره سپوا اؤ د - کار د - وخته چپ د - ورونو په شان هر یو د - به ل سره سم سیال وو اؤ هر یوه په آزادی خپه ل ځان له اولسی (سیاسی ) رو لرلاے سو اؤ خپه ل روے په آزادی بیانولاے سو اؤ د - به ل په ژیاته ژما په اولسی روے نیوکی کولاے سوے نو سرے ډېر رانژدے سو اؤ ښه خواره مل ګری سولو اؤ ډېر په ښه اوچته اؤ باوری توګه راسره خو کاله بېل بېل کارونه وکړه ل - ته ر ټولو لوے اؤ ناپېښه کارے دا وکی چی خپه ل په خوښه یه خپله تنخا کمه کړله اؤ د - شپیتو په ځاے بیے څلوښت اخیستلے چی ما ته ر اوسه د - به ل هیڅ مزدور په ژیاته د - موسلمان مزدور څه نه دی لیدلی دغه سلیم بیا د - لوے جنګ په شپو کی د - مزدورانو د - یوے

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ډلې د ـ اولسي ( کامي ) کار په بدله کې چې ده د ـ څو تنو نورو مل ګرو سره بېله اؤ ځما بېې ځوبنې روانه کړې وه سرکار د ـ بلوچیستانه ویوست ـ اؤ په ډیلي ـ کراچي اؤ نورو ځایو کې به بېل بېل کارونه کوه ل په پاے کې په کراچۍ کې واده وکې اؤ سرکاري نوکري یه پیدا کړله د ـ سینډ په بارك ماسټري کې لوے کلره ك سو ته ر اوسه یه د ـ ما سره ښه خوږه دوستي ده ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د ـ مزدوړ اؤ بادار د ـ دوښمنی

## بده اؤ ته ر خه ازموده

ما مه خ کی هه م چېری لیکلی دی چی چاپه په ژیاته لیتو چاپه په کوټه کی نوی شے وو ـ زموږ ته ر چاپ وړاندی په کوټه کی دا کار نه وو اؤ د ـ کوټی ـ کلات ـ ټول د ـ لیتو سرکاری کار به د ـ کوټی چاپه والا وو په ډېره ګرانه اخیست اؤ ټیا بېے لاهور اؤ کراچی له لېږه هلته بېے کاوه ـ او نور ژیاتره کاروونه بېے د ـ خلګو د ـ خوښی چپ د ـ لیتو په ځاے په مېخی چاپ (لېټر پریس ) کوه ل ـ چی زموږ چاپه روان سو ـ نو دا کاروونه به موږ ته راتله ـ زه خو مه خ له د ـ چاپ په کار نابلده وه م اؤ ژما د ـ کار پوه مل ګری ښاغلی مهانند د ـ مېخی چاپ او نور کارو خو اوستاد وو خو په لیتو هغه هه م نه پوهېده او د ـ لیتو ټول کار والا ـ مشینی (مشین مین ) لیکونکی (کاتبان ) به مو د ـ پنجابه راواسته ډوه ډرے تنه مچین والا مو راوسته ل خو هغوے د ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کوټې ویخ ته ټینګ نه سو بیرته به ولاړ ـ په پاے کې مو یو سړے د ـ هغه کاریګه ر په خوله اؤ شیناخت راوستې چې ما د ـ لیتو مېچه ن ترے اخیستې وه اؤدولا نومېده خو دے سړی چې به په پلېټ باندی کاپی لګوله نو هغه به زیاتره والووتله ـ اؤ بیا به لیکونکی (کاتب) په پلېټ باندی چپه لیکله چې ډېر وختې غوه بنت اؤ دا شان به په ټوله روز یؤ ډوه پلېټونه چاپیداے سو اؤ چاپه بېے هم بنه نه وه ـ اؤ زمونږ به ډېر زیات خرڅ باندی راته ـ چې مابه د ـ مېچن والا اؤ هغه نورو خلکو څه تپوس وکې چې ټول پنجاپیان وو چې " دا ولی داسی کېږی ؟" هغوے به وے چې دا هم داسی وی ـ کله بېے وے چې مېچنی ورانی دی کله بېے ویه ل چې دا یؤ بېل سړے غواړی چې سنګ ساز وورته وایی کله څه اؤ کله څه ـ بیا مې سنګ ساز هم وورته پیدا کی خو کار سم نه سو دا لانجه په میاشتو روانه وه ـ چې بیا یؤ پښتون لیکونکی ګوه ل سردار مروت راغی ـ هغه به غلی شانته راته وویه ل چې دا مېچه والا نه پوهېږی په نورو چاپو کی داسی نه وی هلته یو مېچه ن لس اؤ شه ل پلېټه هم د ـ روزی باسی ـ خو هغه نورو به دا

نه منله ـ نیژدے یو کال دا ورانے اؤ غتې تاوان روان وو یوے خوا ته کار نه ووت ګیراکان مو خوابدی کېدے بلی خوا ته کارېګران چاپېده د.
چاپ بدنامی کېدله اؤ بلی خوا ته چی کوم له ر ډېر کار ووت د ـ هغه ته ر ګټه خرڅ ډېر وو ـ په زیاته د ـ اخبار چاپه ډېر بده وه ـ خو موږے په چارو نه رسېدو اؤ څوك چی په رسېده هغو ځکه روشتیا نه راته ویه ل چی ته ر ما یه پوړ اؤدولا زیات زړه خوږېده زما په تاوان کې رے نه واهه خو د ـ اؤدولا په بېکاری ناخوښه وو ـ په دے کی یؤ وخت یو سپین ږیری هیندوستانے هکیم چی زموږ نه څه بیرته یه پوړ هغه واپ (روډ ) دوکان وو راغی وے "زما یؤ زوم بېکاره دی د ـ چاپه په کار پوه دی که ته یو ځاے ورکے" ما وے "تے راولیږه زه بیے وګوره م چی څه کارے زده دی ؟" هغه چی راغی مېچه ن والا وو ـ په چاپ کی چی دلی دوری وڅرخېده وے "دا سرے د ـ کاپی د ـ لګېدو په کار نه رسیږی دومری کاپی چی د ـ ده نه الووزی چېری په زرو کی یوه هم نه پیښیږی کاپی یا خو د ـ سره نه الووزی اؤ که والووزی نو هه م چېری یؤ څو تهری چی د ـ هغه جوړوه ل د ـ لسو مینتو کار هه م نه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وی " ما وہے " بنه ته سبا راسه ٚخپه ل کار راوبنیه " سهار له چی هغه راغی اؤ ما ورووست چی کار وکی که ٚکوړه م اؤدولا د ـ ډنډې سرھ د ـ مېچه ن و مه خ ته ٚولاړ دی وہے " زه خو دا سړے ٚخپه ل و مېچه ن ته نیژدے هه م نه پڑېږده م " هر څه چی می پوهہ کی چی زه تانه باسه‌م د ـ ده کار به وکوړو کړے دا کار سم کی خیر دی ته به هه م یہے اؤ دے به هه م وی ـ کار خو ډېر دی ڈواړه یه هه م نه سی کولاے " خو سړی منه ل نه وہے " چی زه دے مه خ له نه پڑېږده م " زه پوهہ شوه م چی تاوان په ده کی دی وہے می "ٚستا مٚراد څه دی ؟ دا مېچه ن د ـ ځان بوهلے که څه ؟" په ٚگرانه می په دہے ٚست کی چی ما وباسه تنخا می راکه چی زه ٚولاړ سه م ٚبیا ته پوہے شوہے اؤ دے ـ نوړمی داسی وکړه‌ل اؤ هغه ٚولاړ خو ته ر تلو ٚوړاندی په مېچه ن کی څه داسی ٚورانے کړی وو چی که زٚما شك راغلی نه واے اؤ هسی مو مېچه ن چلولی واے نو ټول مېچه ن به مات سوی وو او د ـ سوونو تاوان به رارسېدلی وو ـ خو ما هغه سړی ته وویه ل چی مېچه ن ته ر چلولو ٚوړاندی بنه وگوره هسی نه چی اؤدولا څه ٚورانے پکښی کړی وی ؟ چی هغه وکوت په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ۆرانی یه پوړه اۋ ټرے بچ ښولې ـ اۋ د ـ چاپ کار سم روان سوړهره ٔروز به ته ر پخوا یو په لسه کار ووت ـ خبره دا وه چی په لهیږ ښارو لکه لاهوږ کی لوے لوے چاپونه وی کارے ډېر وی ځکه د ـ هری ځانګی خّپه ل بېل بېل پوړه اوستاد وی ـ هر یو ځّپه ل کار کوی اۋ هغه خّپه ل کارے دومری وی چی دے و به ل ته جینی اوزګارېداے نه سی ـ مېچن والا تهوله ٔزوز ځّپه ل مېچه ن چلوی ـ هغه نه کاپی لګوی اۋ نه وه کاپی ته اوزګار وی ـ نه هغه د ـ پلېټه زوړ خت لری کوی اۋ نے د ـ بلی کاپی لپاره تیاروی ـ لیکونکی (کاتیب) ځّپه ل سم خت لیکی اۋ کاپی سازوی هغه پو ریلیټ اپوټه لیکه ل نه کوی اۋ نه وورته لیاوی ـ د ـ هغه لپاره بېل سړے د ـ پلېټ لیکونکی یا سنګ سازوی ـ خو د ـ کّوټی شانته په ٔوړو ښارو کی ځکه چی چاپونه واړه اۋ کار له ږ وی زّیاتره یو یو سړے ډېر کارونه کوی اۋ کولاے یه هه م سی ـ ځکه موږ به په مېچه ن وال د ـ کاپی لګوه ل هه م کوه ل خو اۋدولا چی د ـ لاهوږ سړے وو لغه ږ په مېچه ن پوهېده په کاپی لګولو نه رسېده خو خّوار بېے کاره وو چی موږ ته راته څو ٔزوزے دا کار پېل کړی وو اۋ په



Scanned with CamScanner

خوله يه د ـ چا نه زده کړی وو ـ ګومانږ وو چې کار به وچلوه م راروان سوی وو چې دلته راغی کارې نه سو چلولاے نو نه په ده کی دومرې مېانځ (انصاف ) یا ایمان وو اؤ نه د ـ چاپ په نورو نوکرانو کی چې ووایي چې دا کار زه نه سه م کولاے ده هه م خپلې څلوېښت روپی مېاشت اؤ لجه بللې اؤ زما د ـ تاوان پروا یه نه کوله د ـ روزی ته ر څلوېښت روپې زیات وو اؤ هغه نورو نوکرانو څکه چې دے خان ته نیژدې اؤ خپه ل ګانه اؤ زړے لری اؤ پرده بلله م نو روښتیا یه نه ویه ل ـ دا څکه چې یو خو د ـ نړی اوسنی مالی وېش اؤ سرینبتې هر چېرې سړی د ـ په نکی والو اؤ مزدورانو په ډوو داسی ډلو کی ویشلی دی چې " د ـ یوه زیان د ـ به ل تکیه ده " څکه هره ډله اؤ د ـ بلی د ـ نېږ که دوښمن نه وی نو ټرې بېږ پروا خو هرو مرو وی ـ په زیاته په پرېوتو هېوادو کی چېرې چې سرکار یا مړو خلکو د ـ خوارانو او مزدورانو د ـ ښېګړې لپاره هیڅ هه م نه کړی دی اؤ نې کوی په زیاته مزدور ته د ـ کار وورکولو او د ـ بېږ کاری په شپو کی د ـ ګوزارې په هکله هیڅ سرینبته نه وی ـ ما چې د ـ اودولا او د ـ هغه نورو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مزدورانو پوره دېره پام وکي ډېر مي ګرم ځکه نه بللهٔ ل چي د ـ اوډولا په وړاندي دغه ډوې لارې وه يا بېي ته ر څو چي کېداے سوله ماته دوکه راکوله او خپله د ـ ځلوېښتو روپو وړانه ويجاړه ګوزاره بېي روانه ساتله او يا بېي ځان د ـ لوږي او بېکاري په بلا کي اچاوه نو د ـ يو داسي ساکښه په توګه چي د ـ هغه د ـ روزي لپاره خوداے پاك يا د ـ

هغه کالخواے (نايب يا خليفه) آدم زو اوډ ـ هغو کالخواے (خليفه يا حکومت) هيڅ ښکاره سرېښته نه وي کړې خالي د ـ خوداے د ـ کيتاب په ليکلي لاس ګرې (ضمانت) چي د ـ هر ساکښه د ـ روزي پورورې خوداے دې ـ دے نه سو کنبېنستاے او هرو مرو بېي هغه کوه ل چي ده وکړه ل ـ او هه م دا شان هغه نورو مزدورانو چي د ـ ده شان وو او د ـ ده په درد ځکه ښه خبر وو چي څو ځله يه ځپله هه م لوږي او بېکاري باندي ورغلي وي ـ ځکه زما ډېره ښوا جيني بده نسوله خو دا ته ر خه ازموده مي وسوله او وړاندي به مي د ـ نورو بادارانو په شان په مزدور ويسيا نه کوله او هغه تهولي لوبي به مي وورسره کولي چي نورې د ـ مزدورانو د ـ لوټهلو لپاره کوي ـ کله موك ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وورکړی ـ کله په خوشامنده کار تړے ایستلی کله یو پکښی جمادار اؤ ښکومی (مخبر ) ساز کړی ـ خو دا لوبی می خوښی نه وے ځکه خوشاله نه وه م د ـ مزدورانو د ـ ښښګړی اؤ ودی کار (ټریډ یونین ) کار می خوښ هه م وو اؤ اړی می هه م وورته ګڼله اؤ په لوه ستو ازمودو اؤ زدکړه می ځان هه م په پوهاوه خو خپله می ځکه نه سو پیل کولاے چی وورته اوزګار نه وه م ـ نور به می ډیر وورته پاروه ل اؤ چا چی به دا کار کاوه د ـ هغو سره به می کومك هه م کاوه خو به ل هه م داسی جوړ سړے یا ډله را پیدا نسوله چی دا کار په سمه توګه وکی ـ خپله به می زړه په دے ښه کاوه چی ځه که خیر وی چی هیند آزاد سی اؤ د ـ هیند د ـ آزادی سره د ـ ایشیا اؤ نړی لویه برخه آزاده سی نو د ـ آزاد هیواد آزاد سرکار به د ـ اینګلینډ ـ امریکے ـ روس ـ جرمه ن ، پرانس دوے په شان لا ته ر هغو هه م زیات د ـ هیواد د ـ ټولو خلکو د ـ ښښګړی کارونه وکی هغه وخت د ـ ځوانی په لیونی اؤ اولسی لمبه کی دے ازمویه ښت ته د ـ چا پام وو چی د ـ خپه لواکی خورله س کاله پس به هه م په هیواد کی مارشه ل لا وی زه به په جیل

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کی ناست دا کربنی لیکه م اؤ د ـ هېواد ځواران به لا نوړ هه م ځواران
سوی اؤ دې ته رسېدلی وی چی د ـ انګرېز په ښپو پسی به ارمان کوی
لکه نه ن سهار د ـ جولایی کال ۱۹۶۰ پوړ پینځلسمه چی د ـ جېل یوه
ټوچت ګوه ستی واك وال د ـ اوبنکو په ډکو سته ر ګو راته وویه ل چی
هغه هه م روزی وې چی د ـ انګرېز په وخت کی به مو د ـ روپی ځلوړ
سېره تری اؤ ځلوړ سېره اوړه اخیسته ل اؤ په ځلوېښت پینځوس روپی
کی به مو ښه ګوزاره کېدله. اوس یوې ځوا ته سپینه شکره (دېسی
چینی ) په دوې روپی ګوا اته پته ګرانه اؤ اوړه دوه سېره د ـ روپی
دوه پته ګران دی اؤ زمونږ مزدوری ایله اتیا روپی ګوا یو نیم وار ده ـ
په کوټه کی هغه وخت یؤ د ـ بنګیانو غوټه (یونین ) وو ـ د ـ هغو
سره به ماته ل کومك کاوه ـ




Scanned with CamScanner



بابای پښتون

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner




بابائے پښتون

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د ـ ریلوې غوټې (یونین ) غوٚوه نڼه

به ل د ـ ریلوې د ـ مزدورانو غوټه وه چی د ـ میسټه ر مېله ر انګرېز ګاټ له مخی اوٚ د ـ هغه له خوٚلې بېې زه په کار خبرېده م اوٚ کومك به مې کاوه په دغه شپو د ـ کال ۱۹۳۷ په وړی هغوے خوٚپله یوه غوه نڼه په کوٚټه کی کښېښوله اوٚ د ـ ښار دځینو سرکاری خلګو سرې زه هه م وبلله م د ـ هر کلی د ـ غونډی غړی یه جوړ کړه م اوٚ راته یه وویه ل چی په غوٚوه نڼه کی به د ـ مزدور پوره ارز (شانِ مزدور ) Dignity Of Labour باندی وینا کوې ـ غونډی له د ـ لاهور څو تنه ښه پوه اوٚ ازمویلی مزدور مشران راغلی وو چی یو پکښی د ـ غونډی مشه ر وو، د ـ هر کلی د ـ جرګې مشه ر یو خوشامه ند ګه ر ټېکه دار وو هغه خوٚپله چاپ کړې وینا په انګرېزی ولوٚستله ـ چی په چل ولې پکښی د ـ مزدورانو هړتال ته بد ویلی وو وې چی " هړتال زیاتره مزدورانو ته تاوان رسوی ځکه زه وایه م چی داسی هړتال چی مزدورانو ته تاوان

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

رسوی د ـ هغه ښېخ ایسته ل په کار دی " There foreThe Strike which Strikes the Labourers Should always be discourged " زه چی خپه ل د ـ وینا لپاره ولاړ سوم " وې می چی ته ر خپله وینا وړاندی زه دا یوه خبره پاکوه ل غواړم " د ـ هر کلی د ـ جرګې مشه ر چی کومه وینا وکړله زه د ـ هغی جرګې غړی یه م خو ارمان دی چی دا وینا نه ما لیدلې ده اؤ نه زه د ـ هغه د ـ یوې خبری مړه سته کولاے سه م چی ـ هړتال مزدوړانو ته تاوان رسوی ځکه هیڅ کله د ـ هړتال مړسته نه ده په کار ـ زه خو وایم چی هړتال هیچرې هه م مزدوړ ته تاوان نه رسوی ـ اؤ د ـ مزدوړانو هری غوړتی ( یونین ) له په کار دی چی خپه ل غړی ته ل د ـ هړتال لپاره تیار ساتی په زیاته په دې هبواد کی چی د ـ مزدوړ لپاره په دوړ (قانون ) یا دوړخت ( آئین ) کی هیڅ بله داسی لاره نسته چی په هغه دوے خپلی بندی لری کی په هړتال کی چی که م تاوان ځینی خلګه وینی هغه تاوان نه دی هغه خو خواری اؤ کړاو وی چی د ـ هره جنګه سره تړلی وی که هغه د ـ وسلې جنګ وی که بې وسلې هړتال هه م یؤ جنګ دی خود به ځینی خلګو ته تاوان پکښی رسی لکه په جنګ کی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چې هرو مرو څه مّلا تړ مّری او ژوبه ل کېږی ما خو ته ر اوسه لا داسی جنګ نه لیدلی او نه اروېدلی دی چې مّلا تړ دی نه پکښی مّری یا ژوبه ل کېږی که څه هه م هغه د ـ ّزغم او روغی (عدم تشدد ) بېې وسلې جنګ وی.په هغه کی لا هه م سېری مّری بندیان کېږی او کوروڼه یه تالا کېږی " دا خبره د ـ خلکو ډېره خّوښه شوله او ته ر ډېره یه چك چکی کولې ـ د ـ دې پسی ما ّخپګه وینا وکړله چې په هغه کی می د ـ نورو خبرو سره په نړی کی د ـ ّخوراك د ـ ډېر پیدا یه ښت او د ـ ودانو هېوادو له ّخوا د ـ غنمو او نورو ّخوراکی څیزونو د ـ سولو خوشی ّزیانولو او د ـ نورو هولکو وه ّوږو مزدورانو او ّخوارانو ته د ـ نه وورکولو یادابنت وکی او دا چې دا هر څه د ـ مزدور په ّخواری او کړاو پیدا کېږی خو په نګی وال خلګه د ـ پیسې د ـ کّوټه کولو دپاره هغه د ـ نړی وه اړ مزدورانو ته نه وورکوی سّخا یه کی په اوړ او مچینانو کی وسېځی چې ګّرانی جوړه (Historicl Materealism ) سی ډاسی می په نړی کی د ـ دولت مینه باندی څه خبری وکړې چې ناستو خلګو ډېری ّخوښی کړلې ته ر دې چې د ـ غونډی مشه ر په پاے کی ّخپه ل

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په وینا کی وویه ل چی زما په لاهور کی ډیر کار وو سبا به هرو مرو تلّه م اؤ ستاسی د ـ غونډی ډوډے زوزی لا نوری هه م پاته وی ما دا سوچ کاوه چی زه به دا خپه ل پاته کار چاته سپاره م خو اوس چی می ولیده چی په تاسی کی "اځه ګزی" رنګه خلګه ستة نو می زره بیے غمه سو اوُ زه خپه ل په ځاے دے ستاسی د ـ غونډی مشه ر ټاکه م سبا له به ستاسی د ـ غونډی مشری دے کوی اؤ پاته ډوډے زوزی د ـ غونډی د مشری کار ما وکی ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner



بابائے پښتون خان شهید اؤ باچا خان د- اؤغانیستان د - خپلوا کۍ د -  جشن په لاریون کې (کابل،1969ء)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ه

## پېښبوه ر له تګ ـ باچاخان اؤ د ـ هغوے ډله

ځکه چی باچا خان ډېر ځله راته وېلی وو نو د ـ دغه کال په سر کی په ژمی د ـ باچا خان د ـ لیدو د ـ هغوے د ـ ډلی اؤ د ـ پښتنو د ـ کامی کار د ـ کتو لپاره پېښبوه ر ته وّلاړه م ـ په ښار کی می یوه ّشپه د ـ اؤډول کیوم خان بیرېستهه ر سره وکړله چی د ـ ډیلی په لوړیه جرګه کی می لیدلی وو ځو ځکه چی دا جوته نه وه چی باچاخان په کور دی که نه اؤ تېوسېے په کار وو ـ د ـ دوے دا ګومان هه م وو چی هغوے په دغه ّروز ښار ته راسی نو سبا له چی هغوے خّپه ل د ـ وکالت په کار پسی د ـ باندی ّتله زه د ـ یونه س خان سره د ـ هغه ځاے اوځار ایسلامی پوهنځی ( ایسلامیه کالج ) له وّلاړه م چېری چی هغوے د ـ پوهه نځی د ـ اوتاك (بورډنګ ) د ـ خوراك تېکه اخیستېے وه ـ هوړېے اوسېده اؤ تهولو هلکانو به چاچا باله ـ ّشپه می تېره کړله پوهه نځے می

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وکوټ اۆ د ـ بلوچیستان ځینی هلکان می ولیده چی یو پکښی د ـ مسته نګ مله ك مامد سپید خان اۆ به ل د ـ کوّټی مولوی اۆدول مجید خان پنجاپیے وو ـ باران اوریده اۆ د ـ پیښوه ر د ـ لارو کوڅو اوڅاری ختی وے ځکه موږ ښار له څه ناوخته راغلو او چی راتلو خبر سو چی باچاخان راغلی وو اۆ بیرته خّپه ل ځاے اوتمانزو له ّولاړ نو زه په بس کی چارسدے له اۆ د ـ هغه ځایه په ټانګه کی اوتمانزو له ّولاړم

ډّوے ڈرے شّپیے می د ـ هغوے اۆ د ـ هغه د ـ کشری زوے ولی خان سره وکړلے ّبیا د ـ هغوے سره پیادهـ ـ ځینو شا اۆ خّوا هغه بانډو له ّولاړو چی د ـ هغه ځاے غټو خانانو د ـ کلی شا اۆ خّوا خّپه ل په مّځکو کی د ـ اوسېدو لپاره ودانی کړی وے ـ ّورز مو د ـ ډاکټه ر خان د ـ زوے ښاغلی ابیدولا خان سره وکړّله اۆ شّپیے د ـ ښاغلی سردار الی خان چی اوس د ـ ایسلامی ډلی مشه ر دی ـ د ـ مشه ر ّورور ښاغلی سیپلی خان کره وکړله بله ّروز د ـ جنوری ۲۶ تمه اۆ د ـ هیند د ـ آزادی کالیځه ّروز وه د ـ هغوے سره مردان له ّولاړه م چی هلته د ـ دوے ډیره لوٍیه اولسی غوّه نډه وه د ـ غونډی پس مو ّروز د ـ ښاغلی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کازی اتاوولا خان سره تېره کړله مابنام له بیرته اوتمانزو له راغلو اؤ سبا له زه بیرته کوټی له راغله م.په دې ټپلا چی د ـ روږه د ـ پښتنو کوم خویونه ما ویلده ل په هغو کی دا د ـ خوشالی خبره وه چی دوې یؤ مه خ راوبنی سوی وو اؤ د ـ آزادی جنګو بنه خوږه ووروری پکښی پیدا کړې وه ـ موږ چی د ـ مردان اولسی غونډی له تلو اؤ بیا راتلو نو په لاری ته ر ډېره ځایه نیژدې ته ر پینځله س میله پوری د ـ بېلو کلو خلګه غوټه غوټه غونډی له روان یا راروان وو ـ د ـ ځینو غوټو سره به خپه ل ډول اؤ سورنا هه م وو.په خلګو کی هر شان اؤ ژوه ند خلګه وو ـ واړه ـ زاړه اؤ ځلمی ـ خوار اؤ بډاې چی د ـ دې نخښه وه چی کنی ټول کام راپاڅیدلی دی ـ خو د ـ دې سره دا ډېره د ـ خواشینی خبره می هه م ولیدله چی ټول خلګه کلی ـ ښارونه اؤ بانډې ډېر زیات په بد امنی اخته وو.روغه جوړه هیڅېری هه م نه وه ـ که خانان وو که خواران که خودایی خیدمتګار وو اؤ که نور ټول د ـ خپله لاسه په سخت زاوال کړاو اؤ یره ترهه اخته وو ـ وسلې وې ـ توپه ك ـ توپنچې اؤ څوکی پارې وې اؤ بیا هه م خلګو یو به ل وژلوو چی زما لپاره



Scanned with CamScanner

نوې اوْ سخته د ـ بیې څوندی خبره وه ولی زموږ پخوا د ـ خوداے په میهربانی دا بده نه وه اوْ نه ما لیدلې وه ځینی کسان به اوْدس ماتی ته تهٔمدم په یوه ڈوڈ توپه ك والا څوکیدار وورسره اوْ وورته ؤلاړ وو اوْ که به په ماجه ت کی پوړ لمانځه ؤلاړ وو هه م چی تپوس به می وکی وې بیې دا دوبسمه ندار (بدی دار )دی ـ هسی هه م د ـ مابنامه پس هیڅوك نه په کوړ کی بیې پارې اوْ څوکی بیدېداے سو اوْ نه باهر راوتاے سو ـ د ـ اوتمانزو په کلی کی یو وخت ماځیګر روڼا د ـ یوه خان ځاے له ورغلو لوییه کلا غوندی ځاے وو ـ اوْ د ـ جېل شانته دهٔکه دروازه یه وه په هغه کی د ـ جېل رازه د ـ تګ راتګ لپاره یو ورګے هه م وو ـ هغه مو وټکاوه له دننه څوا د ـ ورګی شاته یوه سړی تپوس وکی چی څوك یاست ؟ باچاخان وورته وویه ل چی باچاخان یه م. په څپه ل کلی کی اوْ شا اوْ څوا باچا خان په څپه ل نامه نه یادېده هر چا باچاخان باله ځکه به دوې هه م ځان په دغه نامه یاداوه هغه سړے ؤلاړ بنه دم پس یو به ل وورسره راغی بیا یه تپوس وکی اوْ د ـ بند ورګی ته ر چاکې موږ وځارلو وې "دا به ل څوك ده ر سره دی ؟"

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

باچاخان وې " دا زما مېلمه دی د - کوټې راغلی دی " نو هله یه ورگے لری کی اؤ موږې دننه پرېښوولو - چی موږ ننوتو یؤ به ل سړے د - تیار اؤ ډك توپك سره ولاړ وو - کمه شپه چی مو د - سیپلی خان کره وه - موږ ماځیگر وړغلو له ږ وخت پس باچاخان تپوس وکی چی ؟رېډیو لرے ؟" هغه وې "خما دا وړانه ده سړے به ولېږه م د - وروړ با به راوړه م اؤ هغه به هځ م راولی " لا روښا روز وه که گوره م ټوپکان راوواته اؤ ډرے څلوړ کسه نوکران تیار سو اؤ ولېږه ل سو چی ښاغلی سردار الی خان سره د - رېډیو راولی زه تینگ نه سوه م پوښتننه می وکړله چی دا څه دی د - هغوے کوړ کنی لری دی چی دوېنه تیاری کېږی ؟" وې " نه میل ډوه به وی خو شپه ده مېرهٔ ده تیاری خو غواړی که نه " له ږ دم پس هغوے راغله خو په داسی شان چی ډرے څلوړ نوړ وسله وال نوکران وورسره وو ولی چی هغوے به بیرته هه م تله - مابنام چی زه دباندی راووته م ډوو که ډرو توپه ك والو څوکېدارانو وږغوله م چی څوك یپے څه کوې ؟ ما چی د - باچاخان نه خان له د - دې دومری بد امنی د- پېلامے تپوس وکی هغوے په لنډو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

جواب راکي چي دا تول د ـ انګریزي سرکار د ـ وّراني سربنتي د ـ لاسه دي ـ مابرغ ونه کي خو خبره مي زّره وانه خیستله ـ که څه هم م دا خبره هر ځاے روښتیا وي په ّزیاته په ځینو هولکو کي چي سرکاري بنه اوْ بده سریبنته د ـ خلګو پور ژّوه ند بّرید کوي خو ته ر څو چي د ـ خلګوپه خوے بوے اوْ ژّواك کي څه بونیادي پیلامي نه وي په ّزیاته ګوزراني (اقتصادي) اوْ د ـ ګوزران د ـ وبش ّوراني نه وي ـ د ـ سریبنتي په وراني د ـ خلګو په ژّوه ند کي پخې وراني ځاے نه سي نیولاے ـ اوْ خّپله سرکار خو هم د ـ خلګو د ـ شانه اوْ ژّواکه پیدا کبري ـ نه ّپردے نه خّپل هیڅ داسي سرکار نه جوړیداے سي اوْ نه چلیداے سي چي د ـ خلګو سره څه له ږ یا ډیر ور نه وي ـ وخت میله ږ

وو که څه هم م خّوا مي ډبره بده سّوله اوْ په دے شي کي مي کامي بربادي ولیدله خو زّیات لتون مي نه وکي اوْ نه مي کولاے سو ـ زّره ته مي دا ډاډ ورکي چي څه که خیر وي اوس چي اوله س راویبش سوي دي اوْ خّپه ل سرکار بدلوه ل ّغواړي نو وورسره به دا د ـ ژّواك وّراني هم م بدلي سي ـ خو وّرو وّرو دا وّراني کمبري نه لا ّزیاتیږي اوْ اوس هم

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په کال ۱۹۶۰ کی ګوا ۲۳ کاله پس چی زه د ـ هری پور په جېل کی
دا توری لیکه م د ـ جېل د ـ بندیانو اؤ اخبارو څه دا راته ښکاری چی
د ـ سمی په پښتنو کی دا وّرانی د ـ روغی جوړی نیستی ـ ته ر پخوا
ډېره زیاته سوې ده اؤ لا لګیا ده روز په روز زیاتېږی په جېلونو کی د ـ
بندیانو د ـ شمېر دا شان دی چی که څه هه م د ـ پاکیستان د ـ
جوړېدو راهیسی بېلو سرکارو په بېلو پلمو څو څو ځله په زه ر ګونو
بندیان پرېښوو اؤ د ـ زه ر ګونوېندې ډېر وورکم کی کله په کال پسی
دوې میاشتی اؤ کله درې میاشتی ـ خو د ـ جېلونو ابادی د ـ کمېدو
په ځاے لا زیاتېږی ته ر دې چی تېر کال د ـ اکتوبر په میاشت چی د ـ
مارشه ل لا سرکارخپه ل د ـ کالیځی په خوشالی کی څه بندیان
پرېښوو اؤ د ـ نورو په بند کې کمی وکړله په دې جېل کی اووله س
سوه (۱۷۰۰) بندیان وو چی نیژدې اته سوه خو په لومړی روز وواته اؤ
د ـ نورو د ـ وتو اندازه ځکه تېزه سوله چی وه تهولو تې په کال پسی
دوې میاشتی کمبوت ورکی خو نه ن چی لا د ـ اګست د ـ میاشتی
سردی د ـ بندیانو شمېر بیرته هغه زاړه ته رسېږی باور می دی چی ته

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ر اکتوبره به ته ر زاړه سر زیات سی ـ په دې میان کی دا بدلی هه م راغله چی پروسږ دلته د ـ پنجاب د ـ ځینو پلوېبندیان هه م وو چی بیرتې ولېږه ل دا شان سرھ د ـ دې دی چی په تېر ده رویشت (۲۳) کاله کی ته ر آزادی وړاندی هه د ـ دې لس کاله لا زیات د ـ دې ولات د ـ خلګو ځپه ل ځایی سرکار وو ـ په زیاته بیا د ـ خوداییی خیدمتګارو د ـ ګوه ند سرکار وو ـ زما په ګومان دا ځکه چی د ـ دې وړانی پېیلامه لغه ړ د ـ انګریزی سریښتې او انګریزی پولیسو وړانی نه ده ـ د ـ دې پېیلامې د ـ خلګو په ګوزرانی سریښته اوژواك کی دی ـ چی یوھ یه د ـ مځکو وړان ناروا او د ـ زور زیاتی وېش دی چی یوې خوا تې خو داسی ماړه کسان پیدا کړی دی چی ځپه ل د ـ دولت د ـ خرڅ په چل نه رسی او بلی غاړی ته په زه رګونو او لکونو داسی کسان چی د ـ هغوے نه د ـ ډوډی درك ښته او نه د ـ مېنی ـ هغوے تهول او د ـ هغوے بال بچ ته اړ دی چی د ـ جوارو د ـ نیم نس ډوډی او د ـ شپیې د ـ تېری د ـ ځاے لپاره د ـ مځکی د ـ خاوه ندانو په هیله اوسی ـ ځکه که د ـ چا خوښه وی که نه دے او د ـ ده بال بچ به د ـ مځکی د ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خاوره ندانوږ هر زړیاتے سهی‌او هره ناروا خبره بیے منی که څه هم د ـ بهل مړک وی یا د ـ چا د ـ کوږ وړانوه ل ځکه په دے تړه کی په هر کلی کی څوڅو د ـ بارے خوږنیان داسی وی چی هر وخت دے ته تیار وی چی په له ږ پیسیے د ـ چا دپاره به ل سړے سلا بلا مه ړ کی چی په تهوله پښتوږنخوا کی به ل هیچېری نسته ـ د ـ خوداے په دے ویړه نړی کی هر ساداره که مارغه وی‌که جیناوه روی اؤ که ماهی د ـ روزی په تلاښ اؤ د ـ مېنی ـ ځالی یا غاری اؤ سوړی په تلاښ کی په هیچا بند نه دی ـ خپه ل په خوښه اؤ خپه ل ته روسه هر چېری چیے خوښه وی ځان له لړه یا ډېره روزی لتهوی اؤ چېرته چیے خوښه وی ځان له د ـ اوسېدوږ ځاے ـ غاره ـ سوړه یا ځاله جوړوی اؤ په هغه کی خپله اوسی او خپه ل بچی پکښی روزی ـ هه م دا شان په تهوله پښتوږنخوا کی هر چېری پښتانه دغه واك لری ولی چی هر څوك یو نه یو ځاے په که م غره شبله بېدیا یا سمه کی ځان له یا د ـ خپلی تپیے په کډه مځکه کی برخه لری چی کله اړ سی نوږ دے هلته تلاے اؤ خپل په خوښه اوسېداے سی هه م د ـ دے مخی زموږ غاړی ته په آباتوږ کلوږ کی چېری چی د ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مّځکو خاوه ندان وه مزدورانو ـ بزګرانو اؤ کنبیانو ته اړ وی نو هغوے وورله خّپه ل په کلی کی د ـ اوسېدو لپاره مّځکه وور کوی چی پور هغه باندی دے ځان له ودانی وکی اؤ دغه مّځکه او ودانی ّبیا ته ر ده او د ـ ده د ـ بچو وی ـهیڅوکې تړے اخیستاے نه سی اؤ که کله دے په خّپله خُوبنه د ـ هغه کلی نه به ل چېرته ځی نو دے دا واك لری چی هغه خونی به ل چاته د ـ اوسېدو لپاره پرّېږدی یا یه پور به ل خرڅوی اؤ کې نړوی اؤ لرګی او سامانے ّوړی یا خرڅوی ـ که دا نه وی نو ّبیا د ـ آباتو کلو وه خاوه ندانو ته مزدور ـ بزګر یا کنبے نه پیدا کېږی اؤ هغوے نه وورله راځی اؤ خّپه ل د ـ تپپے (قبیلے ) پور مُځکه میشته اؤ مېنه جوړوی ـ

خو د ـ روږه د ـ سمی تړی چی په لکوټو آدم زی نه دالته خّپله مځکه لری اوٗ نه دا واك لری چی د ـ به ل پور مځکه ځان له مېنه جوړه کی اوٗ د ـ پنجاب ـ سیند اؤ نورو ځایو شانته دے ته اړ دی چی د ـ به ل په کوټه یا خونه کی به د ـ هغه په خُوبنه اؤ د ـ هغه ته ر خُوبنی اوسی کنی ځی به به ل ځاے ـخو هلته بیے هه م دا شان د ـ به ل په خونه کی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د ـ هغه ته ر جه غ لاندی د ـ هغه په خوښه اوسی ـ ځکه دلته د ـ
غیرتی پښتنو په هر کلی کی د ـ ډمانو په نامه داسی پښتانه اوسی
چی د ـ هغو کار هه م دا وی چی د ـ کور ښځی لوښه ـ خوندی اؤمایښے
وه خلګو ته ناڅوی او یا د ـ هغوے د ـ مېروښی باړ اؤ هوس پوره
کوی ـ اؤ ته ر دے انده پښتو اؤ پښتنیغیرت جینی تللی وی چی دا
کار نه خپله دوے ته بد ښکاری اؤ نه د ـ کلی هغه نورو پښتنو ته د ـ
هوتی ښاغلی مهیر ده ل خان چی کلك خودایی خیدمتګار لوے خان اؤ
ښه په سه د کی اوسوګه ړ سرے دی ماته هه م د ـ هری پور په دے
جبل کی خپه ل د ـ کلی د ـ یوه پښتانه ډه م خبره کوله چی میهر ده ل
خان تے په ډېر ویاړ ویلی وو چی " د ـ خوداے ډېر ښه منه م چی تلے د ـ
دے شرمه ساتلی یه م چی د ـ به ل ښځه ته به سارنګی ږغوه م ته ل
د ـ خپه ل کور ښځه راسره وی کله خور ـ کله لور یا بله خپله " دا
خلګه دومره بیے درکه ( بیے حسه ) سوی دی چی دوے هه م اؤ د ـ
کلی نورخلګه هه م داسی ګڼی چی دوے خوداے پیدا کړی هه م دے
کار له دی ـ لکه د ـ هیند د ـ نامه اوچتو زاتو چی پرېوتی کامونه د ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اوچته ژوه نده بند کری سپکو اؤ گنده کارو تے بند کری دی هه م دا شان دلته د ۔ مٔخکی خاوه ندانو خپه ل پښتانه ورونه د ۔ هر بیے ننګی اؤ بیے لاری وه ژوه ند ته اړ کری دی ۔ زما په گومان د ۔ نوروپیلامو سره یوه غتهپیلامهدا هه م وه چی پخوا د ۔ تهول هیند اؤ اوس د ۔ پاکیستان په هره چکله کی د ۔ دغی تری ۔ ښځی ناستی دی چی د ۔ سپینو (محترم ) پښتنو پور ننګ یؤ بیے شانه لوے داغ دی د ۔ دے ډمانو اؤنورو خوارو پښتنو د ۔ ښځو شانته د ۔ هغوے هلکان هه م د. مٔخکی د ۔ خاوه ندانو اؤ خانانو د ۔ بدکاری د ۔ باروه پوره کولو ته ناچاره دی ځکه د ۔ روه په سمه کی هر چیری دا بدکاری ډیره زیاته خوره ده ۔ خو ځکه چی د ۔ آدم زو هره ورانی د ۔ یوه سری یا تهولی (طبقه) څخه هرو مرو وه به ل سری یا تهولی ته هه م رسی ۔ نو کمو کسانو یا تهولو چی داسی ورانی پیل کری وے هغه په بیلو لارو بیرته پور دوے هه م راگه رزی اؤ د ۔ دوے زوزات هه م د ۔ دغه خوارانو نوکرانو اؤ ناچاره خلکو په لاس هه م په هغو ورانو اخته کیری چی دوے په هغه ناچاره خلکو د ۔ هغوے د ۔ ناچاری له مخی پیل کری

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وې اؤ دا بدکارۍ اؤ بد امنۍ روز په روز د ـ دوې ژوه ند هه م تهر
خوی هیله وه چی د ـ باچاخان ډله "خوړایی خیدمتګار" به خپه ل په
سرکاری واك د ـ ګوزارې (اقتصاد ) د ـ دې بوڼیادی وړانی څه چاره
وکی خو هغوې هیڅ هه م ونه کړه ل ولی چی یو خو د ـ هغوې د ـ
ډلی اؤ سرکار واك هه م د ـ غټو خانانو اؤ د ـ مځکی د ـ خاوه ندانو
په لاس کی وو چی ډېرو پکښی دا نه غوښته ل اؤ دا پلمه یه هه م
جوړه اؤ روښتیا وه چی د ـ هغوې لاس له پوره واك کله هه م نه ورغی
اؤ د ـ هغوې د ـ سرکار په وخت کی لا انګرېزی واك اؤ ګورنر د ـ
ولات (صوبه ) د ـ سرکار پورسر باندی وو ـ په ځینو خبرو کی هغوې
دا وس وه هه م کی خو د ـ انګرېزانو ـ ګورنرانو له لاسه هغه سرته ونه
رسېدې ـ لکه د ـ نمبردارو اؤ ملکو بندوه ل د ـ خټکو د ـ تېری د ـ
نواب د ـ ځینو ناروا غمو څه د ـ اوله س بچ کوه ل خو ـ د ـ دې ډلی
پوره ازموېه بنت ځکه ونه سو چی د ـ آزادۍ سره سم د ـ سرکار واګی
د ـ دوې د ـ لاسه موسلیم لیګ واخیستلې کنې ګومان وو یا کېدای
سو چی دوې به په خوښه یا ناچارۍپه دې هکله هرو مرو څه نه څه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کړی وو ولی د ـ دې ډلی ریښې د ـ خانانو اؤ غټانو په ځاے په خوارو خلکو کی وې اؤ دوے خوار اوله س ته ر ډېره ځایه راوېښ کړی هه م وو ـ اؤ به ل یه د ـ دوے ستّه ر مشه ر باچاخان په غونډو او ځان له مرکو کی دا ویه ل چی پښتانه یو شانته خلکه دی په دوے کی د ـ غټ اؤ واړه یا خان اؤ خوار بېلتون نسته اؤ خلکه بېے په دې خبروه ل چی ته ر انګرېزانو وړاندی زموږ د ـ مځکو وېش داسی نه وو لکه نه ن چی تهولی مځکی څو کسو خانانو نیولی دی اؤ انګرېزانو پسی لیکلی دی ـ پخوا به زموږ مځکی د ـ تهول کلی وې او د ـ کلی تهولو خلکو به په شریکه کرلې اؤ خوړلې دا خو چی انګرېزان راله هغوے د ـ ډېرو ښاندګانو په ځاے څو تنه جمادارانو ځان له جوړ کړه ل اؤ مځکی یه پسی ولیکلې د ـ آزادۍ پس دا هیله وه چی د ـ هېواد نوی سرکار به دا کار وکی په زیاته د ـ کیوم خان سرکار چی یوې غاړی ته پوره ځېه ل وا که وو اوبلی غاړی ته داسی ښکارېدله چی د ـ هېواد سرکار هه م په دوے پوره باور لری ـ ځپله کیوم خان اؤ د ـ هغه زیاتره غړی هه م هغه خلکه وو چی د ـ خودایی ښیدمتګارو نه تښتېدلی اؤ د ـ سرکار د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کوړسو لپاره یا بېرې له مخې موسلیم لیګ ته تللي وو ـ اؤ په دې

ښه خبر وو چې پخواني سرکار هم په دې کې ځیني کاروونه کوه ل

غوښته ل خو هغوې هم خپه ل وخت د ـ کام د ـ یوې ډلې خودایي

خیدمتګارو په زیلو ـ شرمولو ـ تالانولو ـ بندیانولو اؤ وژلو راولګېده

چې یا به د ـ هېواد سرکار غوښته ل لکه دوې چې ویه ل اؤ یا بېې

ځکه کوه ل چې هغوې خپه ل د ـ تېر ننګیالي ژوه ند اؤ د ـ انګرېزانو

سره د ـ ډغرې وهلو له مخې په کام کې مه خ ده رلود اؤ دوې ترې

یربده چې که نه ن نه وې سبا دغه ډله د ـ ولات (صوبه ) د ـ واك

واګې ږمو له لاسه دغه ډله اخلي ـ هر څه چې وو خو دوې هه م د ـ

خوار اوله س ـ د ـ دې رنځ څه درمان ونه کې ـ هو خالي د ـ ځان د ـ

پړې پېژاندې لپاره اؤ د ـ ځینو سیالي ګوېو ( مخالف ) خانانو د ـ

هوارولو لپاره یه ځیني خبرې په ځینو ترو کې اوچتې کړلې ـ ځیني

ګواښونه بېې کوه ل اؤ ځیني دودېز جوړ هه م کړه ل لکه د ـ اداب (رین)

مځکو دود خو هغه هه م څه نیمګړې او په ماته خوا وو ځکې لا د ـ

اوله س ته ر میان نالښتونه (مقدمات ) راوچت کړه ل چې ته ر ننه لا

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چلېږي ـ هغه هم بېرته د ـ مځکو د ـ خاوه ندانو ته ر میان د ـ خوار
سړي د ـ روزګار اؤ مېښې خبرې لپې لاس ورنه وي د ـ دوې نه وروسته
بیا د ـ سرکاري نوکرانو دوړ راغي اؤ هغه هم د ـ هېواد د ـ یوې
برخې پنجاب د ـ خلګو هغوې په هېواد اؤ ولاتو ( صوبه جات ) کې
خپه ل د ـ خوښي اؤ یؤ مه خ تپلي ( نامزد ) سرکارونه جوړ کړه ل اؤ
هر څه یه د ـ یو یونیټ ته ر سر جار کړه ل ته ر دې چې د ـ ملاتړو
(فوج ) سرکار راغي ـ زما ګومان وو چې دا اوسترې د ـ ملاتړو سرکار
به کوندي دا خبره سمه کې خو هغوې چې د ـ مځکو خبره په کمه
توګه جوړه ګړله هغه لار څو کاله وړاندې لا په پنجاب کې د ـ ښاغلي
دولتانه سرکار غوره کړې وه ـ په هغه د ـ پنجاب اؤ سیند په ځینو ترو
کې و بېې مځکې که ښتګرو ته خو څه نه څه ګټه ورسېدله چېرې چې
ډېرې لوېې زمینداري وې خو د ـ پښتنو د ـ روزګار وېش اؤ مېښې
خبرې ته څه زیاته ګټه وانه ووښتله ولې دلته ډېرو کمو خلګو ته ر شپږ
نیم سوه ایکړه بالا مځکه ده رلوده چې هغه به سرکار جینې اخیستله
لغه ږ د ـ یؤ څو کسانو ـ لس شه ل ـ څې ځینې هدیرې ـ شاړې شېږې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اؤ د ـ غرو او ځنګلو مځکی واخیستلے اؤ ځینو تے په بدله کی د ـ
مّځکی ـ ګهون په نامه د ـ هیندانو بہے آباتی مّځکی اؤ باغونه په
ډیری ارزانه ورکړے د ـ هزارے یوه غټ زمیندار خو د ـ غرو د ـ شاړو
مّځکو په بدل کی ابات باغونه په اووله س روپی کنال ـ یا سوا سه ل
روپی یکم واخیسته ل ـ زما په ګومان دا کار ځکه ونه سو یا نیمګړی
پاته سو چی د ـ پاکیستان په زیاته د ـ یونیټ د ـ جوړولو پس د ـ
پښتنو پور خبره ـ اړیکو اؤ بندو چا ځان له د ـ سره پام کړی نه دی ـ
هری خبری ته به د ـ ټول پاکیستان یا د ـ غټو ولاتو په زیاته د ـ
پنجاب په سّته ر ګه (نکته نګاه ) کته ل کیده اؤ د ـ پښتنو پور بېل
شان (حال ) بندو (مسائل ) اړیکو (احتیاجات ) به چا پام نه کاوه یو
خو ځکه چی موږ له ږ خلګه یو نیژدے اتیا لکه اؤ هغه بّیا هه م
انګریزانو ځپه ل د ـ سپیرو مّرادو لپاره ځله ټوک ټوک کړی یو اؤ بېل
بېل نمونه یه راکړی دی څوك ـ آزادی تپہے (قبایل ) څوك ایجه نسی
څوك سمه څوك نوابی اؤ لاڅوك بہے بلوچیستان باله ـ به ل ځکه چی ته ر
آزادی وّړاندی پښتنو د ـ آزادی په جنګ کی د ـ هیند د ـ کانګرس
سره ـ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

Certified that this Copy

Haram Kirin S/o Mir Ahmad shah Bachai

Jan. 22 Contains [illegible] Pages

Sentenced 2-1-56 } 302 D.C Mardan

Released 30th 9-58 } from Central Jail Peshawar 19 years


} ac ma

Re Convicted 26-11-59 } 14 years [illegible] 1946

10 years in [illegible].

www.sikaraam.com


Scanned with CamScanner




بابای پښتون د. څور لس کلن بندوړو سته کوټی ته په راسېدو له الوتکی څخه د.را کښنته کېدو په هال کی .

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner



بابائے پښتون . باچا خان اؤ مولانا او دوه ل همید خان باشانی ( کوټه )

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner



بابائے پشتون .

www.sikaraam.com


Scanned with CamScanner



باباے پښتون او کازی او دول سلام اشیزے (پو هیت)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner



بابای پښتون او باچا خان د. کابل پور پښتونستان چوک . د. پښتونستان ورځ په دستوره کې (بابای پښتون اولس ته وینا کوي)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner